# آریانا

## مجلۀ علمی - تحقیقی

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونیت
د ټولنیزو علومو مرکز



د افغانستان د پرمختګ لار
ځانګړې ګڼه

په دې ګڼه کې:

- د هیواد په پرمختګ...
- نقش سیاحت در انکشاف...
- د افغانستان په علمي...
- د افغانستان په اقتصادي...
- نقش سیاحت و جاذبه...

...

- دوره پنجم
- ربع: اول
- سال: ۱۴۰۴ هـ.ش.
- شماره مسلسل: ۴۵۶
- سال تأسیس: ۱۳۲۱ هـ.ش
- کابل - افغانستان

۱

مجلۀ علمی - تحقیقی آریانا

شماره ۱، سال ۱۴۰۴ هـ.ش

# ARYANA

## Quarterly Journal

**Establishment 1942**
**Academic Publication of**
**Afghanistan Science Academy**
**Serial No: 456**

Address:
Afghanistan Science Academy
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ټولنیزو علومو  مرکز

# آریانا

د افغانستان د پرمختګ لار

ځانګړې ګڼه

مجلۀ علمی- تحقیقی

اقتصاد، تاریخ و اتنوگرافی، حقوق و علوم سیاسی، روانشناسی و تعلیم و تربیه، ژورنالیزم، فلسفه و جامعه شناسی

مؤسس احمد علی کهزاد

سال تأسیس ۱۳۲۱ هـ . ش.

شماره مسلسل ۴۵۶

دوره پنجم

شماره ۱ سال ۱۴۰۴ هـ ش

**یادښتونه**

- مقاله دې په رسمي ډول له ځانګړي ادرس څخه د نوم، تخلص، علمـي رتبـې، د تیلفون شمېرې او ایمېل ادرس په ذکـر کولـو سره د علومـو اکـاډمۍ اداري تـه را واستول شي.
- را استول شوې مقاله بایـد علمـي، څېړنیـزه، بکـر او دعلمـي منـل شـوو معیـارونو مطابق وي.
- مقاله باید مخکې په بل ځای کې چاپ شوې نه وي.
- د مقالې سرلیک باید لنډ او له محتوا سره مطابقت ولري.
- مقاله باید د لنډیز لرونکې وي، ۸۰ څخه تر ۲۰۰ کلمـو وي او د اصـلي پوښـتنې ځواب ویوونکې وي چې مقاله هغې ته ځواب ویوونکې ده. همدارنګه لنـډیز بایـد د یونسکو له ژبو څخه په یوې ژباړل شوی وي.
- مقاله باید د سریزې، مبرمیت، هدف، د څېړنې د پوښتنې، د څېړنــې د تګـلارې، لاس ته راغلو پایلو او د منابعو د لړلیک لرونکې وي او هم پـه مـتن کـې منبـع تـه اشاره شوې وي.
- مقاله باید پرته د ټایپي تېروتنـو، د ژبـې د اصـولو د ټولـو نکـاتو پـه مراعتولـو او د موضـوعاتو پـه منطقـي تسلسـل سره د A٤ پـه یـو مخیـزې پـاڼې او د Word پـه پروګرام کې برابره شي.
- د مقالې حجم باید حد اقل ۷ او حـد اکـثر ۱۵ معیـاري پـاڼې وي، پـه ۱۳ فونـټ کې دې ټایپ شي، د سطرونو ترمنځ دې فاصله Single وي او کاپي دې د هارډ او سافټ په بڼه را واستول شي.
- د مجلې کتنپلاوی د رد، منلو او د مقالو د سمونو صلاحیت د علومو د اکـاډمۍ د نشراتو د لایحې په نظر کې نیولو سره لري.
- ارایه شوي تحلیلونه او نظرونه د څېړونکي او لیکـونکي پـورې اړه لـري او الزامـاً د اداري موقف پورې اړه نه لري.
- د نشر شوو مضامینو او مقالو د کاپي حق خوندي دی، یـواځې د مأخـذ پـه توګـه ترې په نشراتو کې ګټه اخیستل کېدلی شي.
- سپارل شوې مقاله بېرته نه مستردېږي.

## - یادداشت

- مقاله رسماً از آدرس مشخص با ذکر نام، تخلص، رتبه علمی، نمبر تیلفون، و ایمیل آدرس نویسنده به اداره اکادمی علوم فرستاده شود.
- مقالهٔ ارسالی باید علمی – تحقیقی، بکر و مطابق معیارهای پذیرفته شدهٔ علمی باشد.
- مقاله باید قبلاً در جای دیگری چاپ نشده باشد.
- عنوان مقاله مختصر و با محتوا مطابقت داشته باشد.
- مقاله باید دارای خلاصهٔ حد اقل حاوی ۸۰ الی ۲۰۰ کلمه بوده، و گویای پرسشی اصلی باشد که مقاله در پی پاسخ دهی به آن است. همچنان خلاصه باید به یکی از زبان-های یونسکو ترجمه شده باشد.
- مقاله باید دارای مقدمه، مبرمیت، هدف، سؤال تحقیق، روش تحقیق، نتایج به دست آمده و فهرست منابع بوده و در متن به منبع اشاره شده باشد.
- مقاله باید بدون اغلاط تایپی با رعایت تمام نکات دستور زبان، تسلسل منطقی موضوعات در صفحهٔ یک رویه کاغذ A٤ در برنامهٔ word تنظیم شده باشد.
- حجم مقاله حد اقل ۷ و حد اکثر ۱۵صفحه معیاری بوده، با فونت ۱۳ تایپ شود، فاصله بین سطر ها واحد (Single) باشد و به شکل هارد و سافت کاپی فرستاده شود.
- هیأت تحریر مجله صلاحیت رد، قبول و اصلاح مقالات را با در نظر داشت لایحهٔ نشراتی اکادمی علوم دارد.
- تحلیل ها و اندیشه های ارائه شده بیانگر نظریات محقق و نویسنده بوده، الزاماً ربطی به موقف اداره ندارد.
- حق کاپی مقالات و مضامین منتشره محفوظ بوده، فقط در صورت ذکر مأخذ از آن استفاده نشراتی شده می تواند.
- مقالهٔ وارده دوباره مسترد نمی گردد.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**ناشر:** ریاست اطلاعات و ارتباط عامه اکادمی علوم افغانستان

**مدیر مسؤول:** عبدالباقی شهاب

**مهتمم:** عبدالباقی شهاب

**هیأت تحریر:**

- سرمحقق شیرعلی تزری
- سرمحقق عبدالجبار عابد
- څېړنوال محمد داود ناظم
- معاون سرمحقق غلام نبی حنیفی
- څېړندوی شیر حسن کمالزی

**دیزاین:** عبدالباقی شهاب

**محل چاپ:** مطبعه ستاره همت. کابل - افغانستان

**آدرس:** اکادمی علوم افغانستان، طره باز خان واټ،

کوچه شاه بوبوجان، شهرنو، کابل

**شمارۀ تماس ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** ۰۰۹۳(۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**ایمیل ریاست اطلاعات و ارتباط عامه:** info@asa.gov.af

**ایمیل مدیریت مجله:** aryanajournal۷۷۷@gmail.com

**اشتراک سالانه:**

کابل: ۳۲۰ افغانی

ولایات: ۴۸۰ افغانی

- قیمت یک شماره در کابل: ۸۰ افغانی
- برای استادان و دانشمندان اکادمی علوم: ۷۰ افغانی
- برای محصلین و شاگردان مکاتب: ٤۰ افغانی
- برای سایر ادارات: ۸۰ افغانی

# د موضوعاتو لړلیک


| شمېره | سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱. | د هېواد په پرمختګ... | سرمحقق  دکتور محمد علم اسحق زی | ۱ |
| ۲. | د هېواد په پرمختګ... | څېړنپوه احمدشاه عمر وردګ | ۱۰ |
| ۳. | نقش سیاحت در انکشاف... | سرمحقق کتاب خان فیضی | ۲۹ |
| ٤. | نقش زراعت در انکشاف... | سرمحقق محمد یاسین فرهمند | ۴۹ |
| ۵. | د افغانستان په علمي... | څېړنوال محمدامان رسولي | ٦۹ |
| ٦. | د افغانستان په اقتصادي... | څېړندوی شوکت الله عابد | ۸۹ |
| ۷. | د افغانستان په پرمختګ... | څېړندوی حامد امان | ۱۱۱ |
| ۸. | نقش سیاحت و جاذبه... | معاون سرمحقق عبدالوهاب همدرد | ۱۳۴ |

**پیغام**

شیخ الحدیث مولوي فریدالدین محمود

د افغانستان د علومو اکاډمۍ عمومي رئیس

اعوذ بالله من الشیطن الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم،

(( سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمٰوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۖ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ١ يَا أَيُّهَا ٱلَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ٢ كَبُرَ مَقْتًا عِندَ ٱللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ٣))
(الصف:١-٣)

محترمو حاضرینو !زه «د افغانستان پرمختګ لار» سمینار ته ستاسو راتګ ته هرکلی وایم. په دې کې شک نشته چې دې هېواد ډېرې ستونزې ګاللي دي او دا تېر ۴۵ کلونو کې له بېلابېلو مشکلاتو سره مخ شوی، مختلفې مفکورې په دې ملک کې وازمویل شوې، او ځینو هڅه وکړه چې دلته الحادي مفکوره پیاده کړي، د دې هېواد له اوسیدونکو سره الحادي فکر پیدا کړي او له اسلام څخه یې منحرف کړي.. خو دا یو غیور ملت دی او په هر حالت کې د الله تعالی په لار کې قربانۍ ته اماده دی او د اسلام د دفاع په لار کې یې څه کم درې میلونونه شهیدان او ټپیان ورکړي او له دولس میلونونو څخه زیات خلک یې نورو هېوادونو ته مهاجر شول. الله جل جلاله هم په دې ملت رحم وکړ او د نړۍ ابر قدرتونه او د هغوی هیلې په دې هېواد کې خاورې شوې. د شوروي کمونستي نظام او مفکوره چې د نړۍ په پراخه برخه یې حاکمیت کولو دلته له ماتې سره مخ شوه او اوس دغه مفکوره تقریبا په نړۍ کې ختمه ده. بیا د دموکراسۍ نظام او مفکوره چې امریکا یې مشري کوله زموږ په هېواد حمله

وکړه او غوښتل يې چې دغه نظام دلته مروج کړي خو هغوی هم الحمدالله دلته ماتې وخوړه.

اوس چې دغه هېواد؛ اسلامي نظام او مسلمان حاکمان لري، نو دوی د عقايدو او نظريو سربېره د دغه ملت په هره برخه کې مسؤوليت لري. هر هغه مفکوره چې اتحاد ته تاوان رسوي بايد په مقابل کې يې مبارزه وشي ځکه د کاميابۍ راز په اتحاد کې دی .نن چې کفري نړۍ برلاسې ده ددې علت يوازې ټکنالوژي نه ده بلکې د دوي اتحاد دی، دوي غواړي چې پراخ او متحد هېوادونه اوسي لکه د امريکا متحده ايالات، د شوروي د دولتونو اتحاد، همدارنگه د ناټو پيمان، وارسا، او داسې نور يې ښه مثالونه دي خو مسلمانان يې بيا په وړو وړو جزيرو وېشلي دي. علامه اقبال وايي؛

او به فکر مرکز و تو در نفاق

بگذر از شام و فلسطين و عراق

د مجاهدينو د بريا راز هم د دوی په اتحاد کې وه چې يرغلگر يې مات کړل که څه هم دوی ډېر کوښښ وکړ چې د مجاهدينو ترمنځ نفاق رامنځ ته او په ډلو ډلو يې وويشي او ددې لپاره يې تبليغات هم ډېر وکړل، خو موږ خپل اتحاد وساته او پايله يې دا شوه چې يرغلگر ماتې وخوري. اوس له کاميابي وروسته بايد ملک ته کار وکړو، زحمت وباسو او په هېواد کې اقتصادي پروگرامونه پرمخ يوسو. د شکر ځای دی چې موږ اوس په مالي لحاظ کفارو ته نه يو محتاج شوي او لوی علت دا دی چې زموږ په اداره کې خيانت نشته او هرکس په ايمانداری سره کار کوي، او هر څومره چې په ديني ارشاداتو کلک

اوسو نو الله جل جلاله به زموږ چارې اسانه کوي. د دې نړۍ د خزانو کیلي له الله ج سره ده. د حدیث شریف مفهوم دی چې رسول پاک صلی الله علیه وسلم فرمایي چې الله تعالی وایی ای د بني ادم اولاده! که چېرته اول د تاسو او اخر د تاسي د انس له جنسه او جنیات ټول سره رایوځای شئ او هر یو جدا جدا د خپلې خوښې غوښتنه وکړئ او زه یې ومنم نو بیا به هم زما په خزانو کې دومره کمی را نه شي لکه له دریاب څخه چې یوه ستن راوباسې، نو مهمه دا ده چې موږ هر کار کوو باید د الله جل جلاله رضا او د هغه د احکامو راڅرګندي کول مو موخه وي تر څو الله جل جلاله موږ ته په هغه لاره کې کامیابي را په برخه کړي.

## دویم پیغام:

## مهاجر فراهي د اطلاعاتو، فرهنګ او ګرځندوی وزارت نشراتي معین

حامدًا و مصلیًا، أمّا بعد :قال ﴿رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي، وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي، وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي، يَفْقَهُوا قَوْلِي﴾

د دې پرتمین مجلس ټولو ګډونوالو ته السلام علیکم و رحمت الله وبرکاته!

وروڼو موږ او تاسو په داسې یوه ورځ دلته سره یو ځای کیږو چې په هېواد کې د یوې مهمې پروژې ((قوشتیپبې کانال)) کار پیلیږي چې د هېواد د پرمختګ لپاره ډېر اړین بلل کیږي. د افغانستان د پرمختګ لار تخنیکي او مسلکي اړخونه به یې پوهان او متخصصین وڅېړي، زه به دومره ووایم موږ هلته خپل هېواد ته پرمختګ ورکولی شو چې یو واحد قوي او مرکزي نظام ولرو چې الحمدالله اوس یې څښتنان یو. همدا ډول ټول قومونه، ملیتونه او قشرونه سره متحد او متفق اوسو. اعتماد په خپل نفس او هېواد ولرو او ټول په دې نظر شو چې دا زموږ خاوره ده دا زموږ هېواد دی، دلته که موږ وږي یو که تږي یو همدلته به اوسیږو، که زما له وزیره تر والي، معین، سرمایه داره او تر عامه وګړي ټول په دې اند او فکر باندې وي چې زه په هر حالت کې دلته په دې هېواد کې اوسیږم او پاتې کیږم، هرحال حالت کې د هېواد جوړول زما فریضه ده بیا موږ کولای شو چې خپل هېواد له اوسنیو مشکلاتو او ستونزو څخه وباسو. ترټولو مهمه داده چې موږ ټول هغه که په نظام کې وي که په رعیت کې دا مفکوره او نظریه عملي او پلې کړو چې موږ هېواد جوړوو، د هېواد لپاره کارکوو، د پردیو له ګټو، شخصي صلیقو او تمایلاتو د هېواد جوړولو ته

لومړيتوب ورکوو نو بيا کولای شو چې هېواد ته پرمختک ورکړو. همدا رنګه هغه وخت کولای شو چې د هېواد د پرمختګ لپاره لاره پرانيزو چې خپل د هېواد له توليداتو څخه استفاده وکړو که څه هم همدا اوس دلته صنعتي پارکونه شته خو بيا هم تر ډېره پورې خام مواد يې له بهر څخه وارديږي چې دې ته موږ پرمختک نه شو ويلا ی، د پرمختګ لپاره بايد د خامو موادو په برخه کې موږ ځېړنې وکړو او کوم شيان چې دلته توليديږي ددې خام مواد هم دلته په هېواد کې توليد کړو.

همدا رنګه په اوس وخت کې ټول بوج ښارونو باند ې دی، ځوک چې په اطراف کې لږ پيسي ولري هڅه کوي چې ښار ته راشي او همدا زموږ د اقتصاد د ورانۍ لوی عامل دی.  د خلکو لپاره بايد په اطراف او صحراوو کې د ژوند تيرلو زمينه سازي وکړو. د زراعت او مالدارۍ په برخه کې له دوی سره مرسته او همکاري وشي. ځکه په اطراف کې اوسېدل ارزان دي خو په ښار کې بيا اوسېدل له اقتصادي پلوه ګران تماميږي، نظام او حکومت بايد هڅه وکړي چې خلک مجبور نه شي چې له اطرافونو څخه ښار ته وکوچيږي.
سربېره پر دې، د هېواد د پرمختک لپاره متوازن انکشاف ضروري دی چې د هېواد په ټولو ساحاتو او ولايتو نو کې داسې سهولتونه دخلکو لپاره ايجاد شي چې دوی مجبور نشي يوازې پلازمينې کابل يا کوم بل لوی ښار ته راشي.
همدارنګه د افتونو او مرضونو له وجې هر وخت زموږ زراعتی برخه له ستونزو سره مخ وي او فصلونه تباه کيږي. نو په اطرافي سيمو کې بايد زراعت په برخه کې مسلکي کسان وروزل شي.

که موږ او تاسو د خپل هېواد د پرمختګ او ترقۍ لپاره ژمن او متحد اوسيږو دا اوسني امکانات او اوسنی فرصت چې زموږ لپاره مهياء  شوی موږ کولای شو چې د ډېرو کلونو لار په يو محدود وخت کې ووهو او ددې ټولو لپاره يو قوي مديريت او ماسټر پلان پکار دی چې پنځه کلن او يا هم لس کلن اوسي. په دې برخه کې د علومو اکاډمي استادان او نورې اړونده ادارې کولای شي چې مشترک کار وکړي. بيا کولای شو قدم په قدم مخته لاړ شو.

و ما علينا الاالبلاغ المبين

الحمدُ لله، والصلاةُ والسلامُ على رسولِ الله، وعلى آلهِ وأصحابِه ومن والاه. أمّا بعد: فأعوذُ باللهِ منَ الشيطانِ الرجيم. بسمِ اللهِ الرحمنِ الرحيم.
﴿وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ﴾ [العنكبوت: ٦٩]

## د لوړو زده کړو وزارت پيغام

د علومو اکاډمي درنې رهبرى، درنو څېړونکو او د تالار ټولو حاضرينو اسلام عليکم و رحمت الله و برکاته!

«د افغانستان د پرمختګ لار » دا ټاکل شوى عنوان ډېره پراخه ساحه او متعدد اړخونه لري، د ژوند د ټولو اړخونو پرمختګ په مجموع کې د افغانستان د پرمختګ زيرى لري. د پرمختګ د سمتونو انتخاب او د لومړيتوبونو پر بنسټ د هدف لور ته ګام اخيستل د پرمختګ له لومړنيو شرطونو ګڼل کيږي. دا چې نننى نړى تخصصي نړى ده، نو په کار ده چې د نظام هر ارګان د افغانستان د پرمختګ لار په خپلو کاري دوايرو او وظيفوي صلاحيتونو کې ولټوي. په تخصصي شکل د خپلو وظايفو انجام د اهدافو ټاکل، له لومړيتوبونو انتخاب او د خپلو اهدافو په لور په مناسب سرعت مزل زموږ ډېره ستونزه حل کولاى شي.

د نظام د دوايرو هماهنګي د شيندل شوي کار او زيار د انسجام او تنظيم تضمين کوي. دا انسجام او تنظيم د ټول کار او زيار د مؤثريت ګراف لوړوي چې بې له شکه موږ ورته په دې حساسه مرحله کې ډېره اړتيا لرو او بې له شکه د افغانستان د پرمختګ لار ابعاد په عموم کې ټاکلى شي. د لوړو زده

کړو وزارت د علمي ارګان په توګه په ټوله کې علمي پرمختګ د افغانستان د پرمختګ لار ګڼي. نن‌ی نړۍ یوازې د علمي کادر خبرې ته تم نه ده چې یوازې د علومو فلسفي او تفصیل په نظری بڼه انتقال کړي، بلکې د سیاسي، اقتصادي او نظامي کادر موضوع په همغه اهمیت او دقت ورسره مطرح ده چې د یادو ټولو اړخونو تطبیقي او تجربي جریان د موثریت او بریا کچه تعیینوي. نړۍ په علومو کې د نظري او تجربي علومو له وېشه وتلې او د نظري په نوم هیڅ معرفت نه پېژني. تجربه تر فزیکی تطبیقه د عقلي معارفو د تمرین په نازکو لارو ډېر په سرعت ځغلي، نو په کار ده چې موږ په دې نیکي کې چټکه او هوښیاره سیالي وکړو. دا چې نړۍ د علمي انکشاف پر لار د علم د ثانوي او ثالثي ګټو پر بنسټ هیڅ خنډ نه مني، موږ ته لازمه ده چې د علم د ذاتی ارزښت منلو پر بنسټ د علمي انکشاف پر لار د خنډ تصور هم ونه منو. موږ همدا فکر د افغانستان د پرمختګ لار ګڼو او له ټولو اړخونو څخه ورته راګورو. په پای کې د علومو اکاډمی دا نیک ګام ستایو چې د افغانستان د پرمختګ د ورکې لار د پیدا کولو فکر کوي. دا او دې ته ورته د نورو ښو علمي او څېړنیزو کنفرانسونو د تدویر هیله ترې لرو، موږ هم په ډېر تخصصي شکل د افغانستان د اقتصادي پرمختګ په عنوان ملي کنفرانس راغوښتی چې په ټوله کې به د دې ډول کنفرانسونو تر څنګ ممد او کاري ثابت شي.

په درنښت

## د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت پیغام

اسلام  علیکم و رحمت الله و برکاته

الحمد لله و الصلاه و السلام علی رسول الله محمد و علی اله و اصحابه اجمعین.

پیام وزارت زراعت، آبیاری و مالداری در سیمینار علمی تحقیقی «راه پیشرفت افغانستان»

افغانستان یک کشور زراعتی بوده و نظر به آمار اکثر سازمان های بین المللی حدود ۸۰ در صد مردم افغانستان به زراعت و مالداری اشتغال دارند و ۳۱ در صد درامد ناخالص ملی از محصولات زراعتی به دست می آید. بخش اعظم از صادرات افغانستان را نیز محصولات زراعتی و مالداری تشکیل می دهد. به همین لحاظ در ساختار اقتصادی جامعۀ افغانی زراعت از اهمیت خاص برخوردار است و کارشناسان اقتصاد زراعت را مهمترین بخش در اقتصاد افغانستان می دانند و اعتقاد دارند که تنها با توسعه بخشی زراعت می توان به رشت و توسعۀ اقتصاد مطلوب در افغانستان دست یافت و نظر به اهمیت سکتور زراعتی طی دهه های گذشته کار قابل توجه برای انکشاف زراعت در کشور صورت نگرفته است و مستلزم کار و تلاش خستگی ناپذیر می باشد. افغانستان با داشتن اقلیم مناسب، زمین مستعد، آب فراوان و نیروی کاری ارزان فرصت های خوبی برای رشد اقتصاد کشور از طریق سکتور زراعت در اختیار دارد، که با توجه به آن میتوان در آیندۀ نزدیک به خودکفایی رسید و حتی به یک کشور زراعتی در محصولات زراعتی تبدیل شد.

آب یک فکتور بسیار مهم در زراعت کشور می باشد، که با مهار نمودن آب های کشور، اعمار بندهای آبگردان، اعمار کانال ها و تحت کشت آوردن زمین بکر و بایر، فراهم نمودن تخم های با کیفیت زراعتی می توان سطح تولیدات زراعت را افزایش داد و با توجه به سکتور باغداری و موجودیت انواع مختلف و مرغوب میوه جات که از شهرت جهانی برخوردار اند، با توسعه و ترویج باغداری، تجارت و ایجاد مراکز پروسس و دسته بندی و ایجاد سرد خانه های خورد و بزرگ میوه جات خشک و تازه، محصولات باغداری کشور را به نورم و استندرد جهانی مهیا و به بازارهای جهانی صادر نمود.

با توجه به اهمیت این سکتور، وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، ۳۱ پروژۀ انکشافی را با بودجۀ بیشتر از ۱۱ میلیارد افغانی برای سال ۱۴۰۳ به وزارت محترم مالیه پیشکش نموده است که در صورت منظوری آن تا حدی به کمبود و چالش های سکتور زراعت رسیدگی به عمل خواهد آمد.

از اکادمی علوم افغانستان صمیمانه سپاسگذاریم که درین مقطع حساس کشور سیمینار علمی – تحقیقی خیلی مفید را تحت عنوان «راه پیشرفت افغانستان» به راه انداخته تا دانشمندان و محققین با مقالات و تحقیقات علمی و پژوهشی خویش راهبرد عملی را درین راستا نشان داده و مرحم خوبی در راستای پیشرفت وطن عزیز مان افغانستان باشد.

سرمحقق دکتور محمد علم اسحق زی

# په افغانستان کې د اسلامي نظام د ثبات او پرمختګ لارې چارې

# Ways to stabilize and develop the Islamic system in Afghanistan

***Professor PhD Mohammad Alam Ishaqzai***

**Abstract:**
When we examine the historical development of humanity, it becomes clear that people have increasingly devoted themselves to efforts for survival and progress. As a result, they have carved out their own paths to livelihood and development. In Afghanistan, an Islamic country where ۹۹ percent of the population are Muslims, it is crucial for the stability of the Islamic system to implement constructive spiritual and material changes in our economic, social, and cultural spheres, all while adhering to Islamic and national values. With this principle in mind, we can develop a comprehensive national program. This initiative will help Afghanistan transition from a state of economic and political

stagnation to one of greater political and economic stability.

**لنډيز**

که چېرې د بشري نظام په تاريخي بهير باندې رڼا واچوو، راڅرګندېږي چې بشريت د خپلې بقا او راتلونکې لپاره د ځانګړو کوښښونو او زيار ګاللو په نتيجه کې خپلې هڅې ورځ تر بلې ګړندۍ کړې دي او دخپل ژوند د معيشت او پرمختګ لاره يې خپله کړې ده. څرنګه چې افغانستان يو اسلامي هېواد دی او په سلو کی( ۹۹،۹ ) فيصده اتباع يې مسلمانان دي. بناءً زموږ په هېواد افغانستان کې د اسلامي نظام د ثبات او استقرار لپاره ضروري او لازمي بريښي، چې د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې، په اقتصادي ـ ټولنيزو او فرهنګي چارو کې رغنده ستر معنوي او مادي تغييرات رامنځ ته شي. ددغه اصل په پام کی نيولو سره، کيدای شي د يوې سترې ملي برنامې چې جامع خصلت ولري. زموږ هېواد افغانستان به د اقتصادي او سياسي رکودي حالت څخه د صعودي سياسي ـ اقتصادي ثبات لاره خپله کړي.

**د موضوع هدف او مبرميت**

دا څرګند حقيقت دی چې زموږ هېواد افغانستان د تاريخ په اوږدو کې د خپل جغرافيوي جوړښت او ستراتيژيک موقعيت پر اساس چې يې لري، تل د بهرنيو يرغلګرو تر نظامي تيري لاندې راغلی دی او هر وار يې د بهرنيو د تيريو په نتيجه کې د هېواد اقتصادي او ټولنيزه ښيرازي دړې وړې شوې ده او زموږ ګران هېواد افغانستان يې د پرمختګ له کاروان څخه شاته پريښی دی. مګر زموږ غيرتمن او غيور ملت هېڅکله د بهرنيو، متجاوزينو په مقابل کی نه دی تسليم شوی او تل يې خپله ملي مبارزه د بهرنيو متجاوزينو په مقابل کی ګرمه ساتلې ده، افغان ملت له چنګيزه تر انګريزه له شوروپانو تر ناټو، ټولو يرغلګرو هېوادونو او سازمانونو ته، د تاريخ په اوږدو کې غاښ ماتونکې ماتې ورکړې ده. ددې موضوع هدف او مبرميت په دې کې دی چې

ولې د دارنګه سرښندنو با وجود په هېواد کې سیاسي ثبات او اقتصادي پرمختګ له ستونزو او ګواښونو سره مواجه دی، خو په خواشینۍ سره باید ووایم استقرار او ثبات چې د یو خپلواک او په ځان بسیا مملکت اصل دی، موږ تر اوسه څرنګه چې لازمه ده نه دی تر لاسه کړی، چې علت یې په لاندې ټکو بیانوم.

**الف.** د افغانستان جیو پولټیک، جیو ایکونومیک او جیو ستراتیژک موقعیت.

**ب.** د اقتصادي ټولنیزو برنامو عدم تطبیق او د بهرنیو هېوادونو په ژمنو ډیره اتکا.

**ج.** په لنډ مهاله تاریخي موده کې د سیاسي نظامونو پرله پسې بدلون.

**د.** زموږ به کورنیو چارو کې د ګاونډیو هېوادونو لاسوهنې.

**و.** د هېواد په سیاسي نظام کې د ملي مشارکت نشتوالی او انحصار ګرایی، د سیاسي ثبات نشتوالی او استقرار اساسي لاملونه وو.

څرنګه چې اوس په هېواد کې سیاسي نظام د اسلامي امارت په چوکاټ کې رامنځته شوی دی او په هېواد کې سرتاسري سوله راغلې ده، بناءً ضرورت احساسېږي، تر څو د پخوانیو نظامونو د ناکامیو عوامل تحلیل او وڅېړل شي او په نتیجه کې د هېواد د اقتصادي ـ ټولنیزې او سیاسي ښیرازې، د دایمي ثبات او سیاسي استقرار لپاره مؤثرې کړنې تر سره شي چې په لاندې ډول تر بحث لاندې نیول کیږي.

**د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې ښه حکومتولي**

څرنګه چې حکومت د حاکمیت د تمثیل په معنا دی، چې له یوې خوا په ټولنه کې تمثیلېږي. حکومت د یو هېواد له اجرائیه قوې څخه عبارت دی، چې د دولت په چوکاټ کې خپل وظایف او کړنې تر سره کوي. مګر دولت واحد جغرافیوي موقعیت په بر کې نیسي، چې د نفوسو او حکومت موجودیت پکې اساسي شرط ګڼل کېږي. باید دا ووایم چې د ټولنیز ژوند او تعاون لپاره د حکومت تشکیل حتمي او ضروري دی.

داچې د اسلام مقدس دين د عدالت او اعتدال دين دی او اعتدال په خپل وار سره د اقتصادي ترمينولوژۍ په رڼا کې د پرمختګ په معنا دی، ضروري او لازمي ده، تر څو د هېواد د اقتصادي او ټولنيز ثبات او پرمختګ لپاره د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې اړونده کړنې تر سره شي.

**الف.** په اول قدم کې د مسلحو ځواکونو تجهيز او اکمال دی چې د هېواد له ارضي تماميت څخه په مېړانه حراست او ساتنه وکړي. په مسلحو ځواکونو کې بايد په هېواد مين، متعهد او مسلکي افراد وګمارل شی او بايد د عصري تکنالوژۍ له استعمال سره پوره بلدتيا ولري. او د هېواد ټول ميشت اقوام د ملي يووالي په روحيې سره خپلې ملي او اسلامي دندې تر سره کړي. د مسلحو ځواکونو لپاره ضروري او لازمي ده، ترڅو د مسلحو قواوو ضروريات د هېواد د ننه توليد شي، ترڅو د بهرنيو هېوادونو محتاج ونه ګرځي.

**ب.** په هېواد کې د اسلامي نظام د ثبات او پرمختګ لپاره، د ملي وثيقې يعنې اساسي قانون موجوديت حتمي او ضروري دی، د تسويد او تصويب لپاره يې اساسي لارې چارې بايد تر سره شي، چې له دې سره به د هر شخص، ټولنو، ملکي او نظامي، عدلي او قضايي چارو وظايف او وجايب پکې تسجيل او انعکاس پيدا کړي او د قانونيت اصل به د هېواد دننه تحقق ومومي.

په اساسی قانون کې د کورنۍ او بهرنۍ پاليسۍ د وخت له ايجاباتو سره سم تحليل او تسجيل شي، د هېواد په سياسي او فرهنګي برخو کې به د پرمختګ لار پرانيزي.

**لومړی**: کورنۍ پاليسي د اسلام د مقدس دين د ارشاداتو په رڼاکې د قومونو تر منځ اتحاد، د ملي يووالي تحکيم او د هېواد هر فرد ته د اساسي قانون په چوکاټ کې د اساسي حقونو تامين، د هېواد د سياسي ثبات پيلامه ده او همدارنګه د اسلام د مقدس دين د ارشاداتو په رڼا کې نجونو او ښځو ته د کار او تعليم د زمينې مساعدول به د هېواد د ننه د نظام د پلويانو پوتنسيال لا پسې پياوړی او ځواکمن کړي.

**دويم.** د افغانستان بهرنۍ پالیسي، باید د یو مثبت ناپېیلي هېواد په څیر پالیسي غوره کړي. د نړۍ له هېوادونو سره د مثبت تعامل او سوله ییز، ګډ ژوند او متقابل درناوي او د بل په کورنیو چارو کې د نه مداخلت اړیکې وساتي، په نړیوال او سیمه ییز چاپېریال کې له هېوادونو سره علمي او تجارتی اړیکو ته د نړیوالو اصولو او میثاقونو، په رڼا کې دوام ورکړي او په نتیجه کې ملي ګټو ته ژمن پاتې شي.

**اقتصادي ـ ټولنیزه او فرهنګي بیارغونه او پرمختګ**

(کوم هېواد چې اقتصادي ازادی ونه لري، سیاسي ازادي نه شي درلودای) په افغانستان کې د سیاسي نظام د ثبات او استقرار لپاره لازمي او ضروري ده، ترڅو اسلامي امارت په اقتصادي، ټولنیزو فرهنګي چارو کې د یو جامع برنامې طرحه جوړه او تر کار لاندې ونیسي او اهداف یې باید په لاندې ډول وي.

۱. پلان یا برنامه باید د اقتصادي پرمختیا او د خلکو د ژوند د سطحې د لوړولو په خاطر مطرح شي.

۲. مؤثره پانګونه په دولتي او خصوصي سکتور کې د مولدو قواوو او عوایدو د سطحې د لوړاوي په خاطر تحقق ومومي.

۳. د صناعتي محصولاتو د سطحې لوړوالی، د وارداتو د کچې د کموالي په خاطر، د استخدام د علمي پروسې عملي کول او د اقتصادي ازادي لپاره د درنو صنایعو وده او انکشاف.

٤. د کرنیزو محصولاتو وده او انکشاف او همدارنګه د صناعت د ودې لپاره د خامو موادو تهیه کول او هم ورسره د تادیاتو بیلانس ته مثبته بڼه ورکول او د خود کفایۍ مرحلې ته په هره برخه کی ځان رسول، د برنامې په اهدافو کی ځای ورکړل شي.

۵. د کار د مدیریت او رهبرۍ په خاطر د بشري قوې تربیت په عصري تولیدي وسایلو او حرفوي او مسلکي زدکړو ته د هېواد د ننه او یا هم په بهرنیو هېوادونو کې د نویو کادري ځوانانو د تربیت لپاره مناسب فرصتونه برابرول.
٦. د ټولنیزو خدمتونو پروسې ته وده ورکول او په مالي او عایداتي برخو کې د پراخو اصلاحاتو راوستل او همدارنګه د مواصلاتو، مخابراتو، اوبو لګولو او انرژۍ سکتورونو د ودې او انکشاف لپاره له خاصو میکانیزمونو او روشونو څخه ګټه اخیستل.
۷. د تادیاتو د بیلانس د ثبات په خاطر د صادراتو د برخې زیاتوالی، د معقولې بازار موندنې پالیسۍ پر اساس.
۸. د خلکو د ژوند د ښه معیشت په خاطر، د نرخونو د استقرار او ثبات په غرض د معقولې مالي او پولي پالیسۍ تعقیبول.

که چېرې د ملي برنامې او پلانګذارۍ په طرحو کې پورتني اهداف د مادي او فزیکي توازن په پام کې نیولو سره اساس او تحقق پیدا کړي، افغانستان به د اقتصادي ـ ټولنیز پرمختګ لاره خپله کړي. د بیکارۍ کچه به راکښته د تولیداتو سطحه اوچته او هېواد به پر ځان بسیا حالت ته را وګرځي، هېواد به د اقتصادي وابستګي او احتیاج څخه خلاص او د اقتصادي ټولنیز پرمختګ لار به خپله کړي.

زموږ هېواد په سیمه کې د معدني ذخایرو په درلودلو سره لومړی مقام لري، د جمهوریت په دوران کی زموږ معدني ذخایر د وخت د معادن د وزیر له خوا شپږ (٦) ټریلونه ډالره تخمین شوي وو، مګر دغه ارقام په مراتبو کمښت راښیي، په احتمالي سنجش سره د افغانستان معدنونه له لسو ټریلونو څخه په زیاته اندازه ارزښت لري. د افغانستان اسلامي امارت ته لازمه ده چې د معدنونو قرارداد له هغو هېوادونو او بهرنیو شرکتونو سره وکړي چې قوي اقتصادي او مالي قدرت ولري، نه له هغو هېوادونه سره چې کارګران هم له خپل هېواده راولي، موږ ته لازمي ده چې د هېواد ځوانانو ته په کې د کار زمینه برابره او له بلې خوا معدنونه

په هغه کمیت سره استخراج شي، تر څو د هېواد راتلونکی نسل د ضروري موادو له کمښت او بحران سره مواجه نشي او هم د ملي عایداتو سطحه لوړه شي.

د اوبو له منابعو څخه پوره څارنه او مراقبت، د نیمکاره بندونو ، او بریښنایي شبکو احیا او بیارغونه، د دولت په کاري برنامو کې شامل او عملي بڼه باید اختیار کړي.

د قوش تیپې کانال احداث او جوړول. د اسلامی امارت له سترو او مهمو لاسته راوړنو څخه شمېرل کېږي. د دې تر څنګ لازمه ده چې د کوکچې بند، د فراه رود او هریرود بندونه، د کیله ګي د اوبو رسولو او برېښنا بند، د پنجشیر پر سیند د برېښنا او د اوبو لګولو پروژو جوړونه او رغونه ترسره شي.

همداشان یو شمېر نور د اوبو شبکو او بندونو جوړونه او بیا رغونه چې د ځینو نومونه یې په لاندې ډول دي، لکه: د سردې د اوبو لګولو پروژه، د پروان، د خان اباد، د چاردرې د ګورګان بند، د غوربند، سنګ سحر د بدخشان، د ننګرهار د کامې، د لغمان د نهر کریم او داسې نورو بندونو د جوړولو او رغونې لپاره جدي اقدامات تر سره شي.

که چېرې د مالي امکاناتو په پام کې نیولو سره د پنجشیر،کنړ، د سروبي دوم فاز، د کامې، کوکچې او د دهلې د برېښنا پروژې، د هریرود او ماهوګي، د شاه او عروس او چک وردک او جبل سراج د برېښنا بندونه او یو شمیر نور بندونه احداث او رغونه یې تر سره شي، هېواد به مو د وارداتي بریښنا له ستونزو خلاصون پیدا کړي.

زموږ هېواد له لمر، باد او اوبو څخه د برېښنا د لاسته راوړلو لپاره ښه مساعد شرایط لري، دولت باید په دغه سکتورکې،کورنۍ او بهرنۍ پانګونې راجلب کړي. له یوې خوا به د کرنې، مالداري او دام پروری سکتور او له بلې خوا به د صناعت او تجارت په سکتورونو کې زیاتوالی او پرمختګ هم رامنځته شي او په نتیجه کې به د وارداتو پر ځای د برېښنا د انرژي صادرات پیل شي، چې دا حالت به د خلکو په ژوند کی ستر بدلون رامنځته کړي او ګران

هېواد افغانستان به په تدریجي ډول د سیاسي ـ اقتصادي ثبات او پرمختګ لاره خپله کړي.

**نتېجه**

ـ افغانستان د یو شتمن فقیر هېواد په څیر چې هر څه لري، مګر بیا هم د یو فقیر هېواد په څیر په نړیواله کچه پېژندل کېږي، اساسي علت دا و چې موږ د تاریخ په اوږدو کې څرنګه چې لازمه وه، له اقتصادي ټولنیزو عیني قوانینو څخه موثره ګټه وانخیسته او دایماً هر څوک چې د قدرت واک یې تر لاسه کړی، خپل ایډیالوژیک رقیبان یې ځپلي او ملي ارزښتونو ته یې خاصه توجه نه ده کړې او هم یو شمېر د وخت دولتي چارواکي د سیمې او نورو هېوادونو د ګټو حامیان وو. اوس له دې حالت څخه د خلاصون لار او د پرمختګ په لور میلان، اسلامي امارت ته لازمه ده، تر څو له کورنیو او بهرنیو امکاناتو څخه د هېواد اقتصادي ـ ټولنیزې ودې او انکشاف لپاره یو جامع پلان یا برنامه په ټولو برخو کې، طرحه کړي او هېواد ته د سیاسي ـ اقتصادي، ټولنیز ثبات او استقرار خوا ته میلان ورکړي.

ـ د مسلحو ځواکونو اکمال او تجهیز او په نظامي سکتور کې د ټولو اقوامو داوطلبانه اشتراک د ملي او اسلامي ښیرازۍ د تحکیم او ثبات اساسي لار ده.

ـ اقتصادي ټولنیزه وده او پرمختګ، د افغانستان حیثیت او مقام ته په نړیواله کچه زیاته ګټه رسوي او هم د هېواد په سیاسي ثبات او ټینګښت کې د یو اساسي عنصر په حیث عرض وجود کوي.

**وړاندیزونه**

۱. په هېواد کې د ملي او اسلامي فرهنګ ټینګښت او افغان ملت، د ملي او اسلامي ارزښتونو پر جامو سمبالښت دې د نظام د کارونو په لومړیتوب کې قرار ونیسي.

۲. په هېواد کې د عمومي سرشميرنې بهير بايد تحقق پيدا کړي، تر څو د اقتصادي ـ ټولنيزو برنامو لپاره دقيق احصايوي ارقام راجمع او تحليل شي، دغه حالت به د هېواد متوازن پرمختګ او ثبات ته لاره هواره کړي.
۳. په حکومت کې د ملي مشارکت اصل تطبيقول او د هېواد هر شخص بايد د نظام په چوکاټ کې ځان احساس کړي.
۴. د سکتارستي او ژبنيو تعصباتو پر ضد جدي مبارزه او د ملي يووالي د تحکيم او ټينګښت په غرض د جدي اقداماتو پلي کول.
۵. په هېواد کې د اقتصادي ــ ټولنيز پرمختګ په خاطر د ستراتېژيکو او لنډ مهالو پلانونو او برنامو طرحه کول او په ځانګړو سکتورونو کی کورني او بهرني پانګوالو هڅول، پانګونه بايد محتاطانه بڼه ولري او د اقتصادي ـ ټولنيز پرمختګ لار پرانيزي.

**مأخذونه**


۱. ابوی، یحیی. (پروبلم های انکشافی پلانگذاری و رول دولت در اقتصاد افغانستان) پوهنتون کابل سال۱۳۵۰.
۲. اسحق زی، محمد علم. (تحلیل وارزیابی پلان های انکشافی و تثبیت معیارهای پلانگذاری اینده کشور) اکادمی علوم.
۳. توماس لارسون، (اقتصاد سیاسی بین المللی تلاش برای قدرت وثروت) ترجمه احمد ساعی، تهران.
٤. مايرون وينر(نوسازی جامعه) ترجمه رحمت الله.

څېړنپوه احمدشاه عمر وردګ

# د هېواد په پرمختګ کې د روغتیا ونډه

# The Role of Health in Country development

***Professor Dr. Ahmad Shah Omar Wardak***

**Abstract**

Health is considered to be one of the basic conditions of economic development and sustainable expansion, and as the first fundamental right of the human’s it is always in the work priorities of the governments. Health services in underdeveloped and war-torn countries are often not provided in a standard form to the needy peoples. In this study i have been investigated, the main parts of the country's health services, such as the form of management or governance of health services, construction and equipment, health services, human power, development of health facilities, monitoring and evaluation of health services from ۲۰۰۱ to ۲۰۲۰. It turned out that the management style of the Ministry of Public Health is decentralized and its working procedures are very closed and complicated. In the past ۲۰ years, the Ministry of Public Health has built a number of health facilities and received a lot of health equipment and devices with the help of international aid, but most of the constructions are still in the old buildings, even though the population of the coverage area has increased manifold.

## خلاصه

صحت د اقتصادي انکشاف او دوامداره توسعې له اساسي شرطونو څخه ګڼل کېږي او د انسانانو د لومړني اساسي حق په توګه تل د نظامونو په کاري لومړيتوبونو کې ځای لري. روغتيايي خدمات په وروسته پاتې او جګړه ځپلو هېوادونو کې اکثراً په معياري او ستندرد شکل سره اړمنو کسانو ته نه وړاندې کېږي. په دې څېړنه کې له **۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۰** ز. کلونو کې د هېواد د عامې روغتيا اساسي برخې لکه د صحي خدماتو د مديريت کولو يا حکومتوالۍ بڼه، تعميرات او تجهيزات، صحي خدمات، بشري ځواک، د صحي تأسيساتو انکشاف او د صحي خدماتو نظارت او ارزونه تر څېړنې لاندې نيول شوي دي، له څېړنو څخه جوته شوه چې د عامې روغتيا وزارت د مديريت يا اداره کولو بڼه غير متمرکزه ده او کاري پروسيجرونه يې ډېر مغلق او پېچيلي تنظيم شوي دي. د عامې روغيتا وزارت په تيرو شلو کلونو کې د نړېوالو مرستو په واسطه يو شمېر صحي تأسيسات ورغول او ګڼ شمېر صحي تجهيزات او وسايل يې تر لاسه کړل مګر ګڼ شمېر تعميرونه په هم هغو پخوانيو ودانېو کې پاتې دي حال دا چې د پوښښ لاندې ساحې نفوس يې څو برابره زيات شوی دی.

## مقدمه

صحي سکټور د نړۍ په کچه د اقتصادي پرمختګ يوه مهمه منبع شمېرل کېږي. د روغتيا په برخه کې پانګونه نه يوازې د صحتمند ژوند لامل کېږي بلکې د کارونو د اجرا، ټولنيز ثبات، سياسي ثبات او ټکنولوژيک پرمختګ سبب هم ګرځي. څېړنو ښودلې ده چې په صحي سکټور کې د پيسو مصرفول، مصرف نه بلکه پانګونه او د فقر د له منځه وړلو موجب ګرځي، ځکه چې خراب صحت کورنۍ د فقر او تنګدستۍ په دام کې بندوي او ښه صحت ماشومانو ته اجازه ورکوي چې د ناروغيو په وړاندې مقاوم اوسي، ښه وده وکړي

او ښې زده کړې وکړي  او لویانو  ته اجازه ورکوي چې ښه کاري وړتیا ولري، د خپل ځان او ټولنې اقتصاد د پیاوړتیا له پاره کار وکړي، نو ځکه صحت د فردي، ملي او جهاني اقتصاد د ودې او پرمختګ اساسي شرط شمېرل کېږي. د روغتیا د برخې د بودجې زیاتوالی کولای شي د اقتصادي ودې موجب وګرځي.

د هېواد د پایدارې اقتصادي ودې د پارامترونو پېژندل د اکثرو څېړونکو له اصلی دغدغو او تشویشونو څخه شمېرل کېږي، ځکه چې پایداره اقتصادي وده تر بل هر څه د توسعې د بالقوه مسیرونو او پر هغو باندې د تاثیر لرونکو عواملو په ولکه کې ده. د هېواد د کارې ځواک د روغتیا او سلامتی تامینول، پایدارې اقتصادي ودې ته د رسېدو لاره ده. روغتیا د انساني کار وړتیا او توان د زیاتوالو له لارې پر اقتصادي وده ډېر مهم تاثیر لري. د یو هېواد د اقتصادي ودې شاخص د هغه هېواد ناخالص تولیدات جوړوي، څېړنو  ښودلې ده چې د اقتصادي ودې او روغتیایي مصارفو تر منځ یوه مثبته او معناداره رابطه شته ده یا په بل عبارت سره د روغتیا لپاره مصرف شوې پیسې د انساني سرمایې او کاري توان د لوړولو له لارې د اقتصادي ودې موجب ګرځي.

جهاني صحت د نړۍ د ټولو وګړو د صحت د ښه والي او با کیفیته روغتیایي خدماتو د لاسرسي د مطالعې، تحقیق او عملي کار ساحه ده.

د نړۍ د پایداره پرمختګ برنامه چې د نړۍ کابو ۷۰۰۰ متخصصینو جوړه کړې ده او  ۱۹۳ هېوادونه په کې شامل دي ۱۷ هدفونه، ۱۶۹ تارګیټونه او ۲۳۲ شاخصونه ټاکلي چې تر ۲۰۳۰ ز کال پورې به یې د یادې برنامې غړي هېوادونه ترسره کوي. ۱۷ ټاکل شوي هدفونه دا دي: د فقر محوه کول یا له منځه وړل، روغ ژوند تأمینول، د لوږې له منځه وړل، کیفیت لرونکې زده کړې کول، د جنسیت تناسب رامنځته کول، د پاکو اوبو تأمینول، د پاکې او ارزانه انرژۍ تأمینول، خلکو ته د کار پیدا کول او د اقتصاد پرمختګ، د صنعت پیاوړتیا او د زیربناوو جوړول، د تعادل رامنځته کول، د ښارونو او پایدارو ټولنو

جوړول، په مسؤلانه ډول تولیدول او مصرفول، د اقلیم د ښه والي له پاره عملي ګامونه پورته کول، تر اوبو لاندې د موجوداتو ژوند ښه کول، د ځمکې پر سر ژوند ښه کول، د نړیوالې سولې تأمینول، د عدالت پلي کول او د نوموړو اهدافو د پلي کولو په موخه د قوي نهادونو ګډون. د افغانستان د عامې روغتیا وزارت د جهاني پایداره پرمختګ د برنامې له مخې د ۲ هدفونو، ۱۱ تارګیټونو او ۲۰ شاخصونو پلي کولو ته تر ۲۰۳۰ز کال پورې ژمن دی(۵،۳).

د عامې روغتیا وزارت ډاکټرانو او نور پرسونل په تېرو دو لسیزو کې هېوادوالوته اساسي صحي خدماتونه وړاندې کړي دي او د هېواد د ټولو وګړو تر صحي پوښښ لاندې راوستلو د لوړ هدف له پاره یې شپه-ورځ پرلپسې کار کړی دی. په دې مقاله کې د عامې روغتیا وزارت فعالیتونه په تېرو شلو کلونو کې تر څېړنې لاندې نیول شوي دي تر څو چې د ترلاسه شویو نتایجو په رڼا کې د هېواد د صحي سیستم د اصلاح، ښه والي او پیاوړتیا له پاره اړینې کړنې ترسره شي، یعنی ترخې تجربې او ناخوالې تکرار نشي، مثبتې او ګټورې کړنې او چارې تقویه او پلې شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د هېواد د صحي سیستم څېړل د هېواد د صحي پوښښ د ساحې د توسعې، د هېوادوالو د روغتیا د تأمینولو، په صحي سکټور کې د پانګونې او په دغه سکټور کې د بنیادي تحول له پاره ډېر اړین او د اهمیت وړ دي. یوه ټولنه، یو هېواد او ان ټوله نړۍ هغه وخت اقتصادي پرمختګ او پایدارې توسعې ته رسېدلی شي چې د صحت خاوندان وي ځکه چې د انکشاف او توسعې مزل سلیم عقل او لازم علم درلودلو ته اړتیا لري او هغه دواړه بیا په سالم او روغ بدن کې موندلای شو. د همدې هدف د لاسته راوړلو له پاره د هېواد د صحي سیستم څېړل یو لازمي او مبرم کار دی.

### د څېړنې موخه

په دې مقاله کې د افغانستان صحي سیستم په دې موخه تر څېړنې لاندې نیول شوی دی تر څو د دې سیستم ځرنګوالی وڅېړل شي او له تیرو ناخوالو او ترخو تجربو څخه په راتلونکي کې مخنیوی وشي او د هېواد په پرمختګ کې د روغتیا ونډه روښانه شي.

### د څېړنې پوښتنه

په تیرو شلو کلونو کې د افغانستان صحي سیستم د جهاني پریمانه مرستو او تخنیکي مشورو په ذریعه په کومه کچه رغول شوی او د هېواد په پرمختګ کې یې څه ونډه لرله؟

### د څېړنې میتود

دا څېړنه په تحلیلي او ساحوي بڼه تر سره شوې ده یعنې په موضوع پورې اړوند معتبرکتابونه او مقالې بررسي او تحلیل شوې دي او د عامې روغتیا وزارت کاري سیستم او روغتونونه له نږدې بررسي او کتل شوي دي.

د پرمختیا (Development) مترادف کلمات، وده، پرمختګ او ترقي دي. یا په لنډه توګه ویلای شو چې وده یا انکشاف د یوه ملت د اقتصادی بڼې پرمختګ او د لوړتیا نښې نښانې دي چې د پلان په بنسټ صورت مومي. د مفهوم په توګه پرمختیا د یوه شي او خدمت په رشد، کیفی یا کمی زیاتوالي باندې دلالت کوي. د پرمختیا په مفهوم کې فزیکي، انساني او اجتماعي ارزښتونه هم شاملیدلای شی. د پرمختیا مسئله یوه څو اړخیزه پدیده ده چې ډیر عوامل ورباندې اغیزه لري او د پرمختیا په دقیق مفهوم کې باید اقتصادي، ټولنیز او کلتوري عوامل هم په پام کې ونیول شي. که څه هم د پرمختیا یو کامل تعریف چې د ټولو د منلو وړ وي، تر او سه ندی شوی مګر د پرمختیا د پروسې د ښه پیژندلو لپاره ځینو معیارونو ته اړتیا شته، یوازې عصري کول او پراختیا د پرمختیا معنی نه لري، بلکې هغه وخت چې د ژوند په

عمومي شرطونو کې مثبت بدلون راشي هغه ته پرمختيا ويل کيږي. د ځينو پوهانو په عقيده دپرمختيا مهم توکي: کار، عدالت، ټولنيز يووالی، او خپلواکي دي(۱:ص.۳۷۱).

د ژوند د سطحې ټاکل يو ساده کار ندی په دې هکله د کار نړېوال سازمان لاندې عناصر مهم بللي چې د ملګرو ملتونو لخوا هم منل شوي دي: روغتيا، نفوس، خوارکي توکي، ښوونه او روزنه، کار، تقاضا او سپما، کور، مصؤنيت، ترانسپورت، تفريح او نور(۱:ص.۳۷۲).

په دې څېړنه کې موږ د افغانستان د عامې روغتيا اړينې برخې لکه:

✓د مديريت يا اداره کولو ډول

✓د صحت ملي ستراتيژيک پلان

تر غور لاندې ونيول.

د افغانستان د عامې روغتيا ستراتيژي وڅېړل شوه، دا ستراتيژي چې د جهاني پايداره پرمختګ د اهدافو يا SDGs په رڼا کې تدوين شوېده، د هېواد د عامې روغتيا له پاره واضح او څرګند لېدلوری او ماموريت په کې ټاکل شوی دی.

نوموړې استراتيژي لاندې شپږ برخې لري:

- د عامې روغتيا وزارت د حکومتوالۍ بڼه
- د عامې روغيتا وزارت تعميرات او تجهيزات
- د عامې روغتيا وزارت صحي خدمات
- د عامې روغتيا وزارت د صحي تأسيساتو انکشاف
- د عامې روغيتا وزارت بشري ځواک
- د عامې روغتيا وزارت د صحي خدماتو نظارت او ارزونه تر څېړنې وروسته لاندې ستونزې په عملي ساحه کې وموندل شوې:

**الف- د حکومتوالی په برخه کې :** د ياد وزارت د حکومتوالي بڼه غيرمتمرکز يا Decentralize ده چې د وزير اکثر واکونه او صلاحيتونه معينانو او عمومي

رئیسانو ته تفویض شوي دي، په رهبري او پرېکړو کې ۴۵ کسزیزه بورد شریک وو او د نوموړې بورد د اکثرو اعضاو په توافق سره پرېکړې کېدلې او د پلي کېدو مسوولیت یې د دفتر ریاست په غاړه وو خو د یو شمېر مرکزي ریاستونو او په خاصه توگه د ولایتونو د رئیسانو او دوهمي واحدونو غوښتنو او نظریاتو ته په پرېکړو کې ځای او ارزښت نه ورکول کېدو، نو ځکه ستونزې او نګونې نه کمېدې بلکې مخ په زیاتېدو وې.

په تیرو شلو کلونو کې د عامې روغتیا د ټولو کارکوونکو شمېر کابو شل زرو تنو ته رسېدو او په دې ترتیب د عامې روغتیا وزارت تشکیل د نړېوالې ټولنې او لویو تمویلوونکو سازمانونو په مرسته تر ډېرو وزارتونو څخه لوی وو خو بیا هم د کمیت له نظره د هېواد د نفوس او ټاکل شویو اهدافو په تناسب کافي نه وو په خاص ډول د لویو ښارونو او ولایتونو روغتونونه د ډاکټران او مسلکي کارکوونکو له کمښت سره مخامخ وو. د مسلکي کارکوونکو کمښت د صحي خدماتو په کیفیت هم منفي اغېزې درلودلې دي. له څېړنې څخه جوته شوه چې په یاد وزارت کې تر مسلکي پرسونل زیات د بستونو د کمبود مسئله مطرح وه د یاد وزارت په تشکیل کې د اداري او مسلکي پرسونل تر منځ تناسب هم وجود نه درلود، تقریباً ۲۰۴۹ کسان چې په معالجوي طب، طبي ټکنالوژي، انستیزي، ستوماتولوژي، فارمسي، فزیوتراپي، سترگو، رادیولوژي، نسایی-ولادي او نورو رشتو کې یې عالي او نیمه عالي طبي تحصیلات درلودل د مسلکې بستونو د نه موجودیت په سبب په اداري بستونو کې دندې ترسره کړې دي. په یاد وزارت کې د تیرو کلونو په ترڅ کې د نورو اداراتو په شان د استخدام په پروسه کې هم شفافیت موجود نه وو او کابو ۱۰۰۰ تنه نااهله کسان د وزیر، والي، معین، وکیل، سناتور او نورو زورواکو د مداخلې په سبب د یاد وزارت د قوانینو، مقرراتو، لوایحو او طرزالعملونو خلاف په مهمو بستونو کې گمارل شوي وو چې د صحي خدماتو په وړاندې کولو کې یې خنډ رامنځته کړی وو.

د عامې روغتيا وزارت کاري پروسيجر ډېر پېچلی او مغلق دی که څه هم ياد وزارت د اړوندو اجرااتو يو شمېر پروسيجرونه لکه د روغتونونو د جوړولو، د درملو د جوړولو، د درملتونونو د جوړولو... ساده کړل خو بيا هم زيات کاري پروسيجرونه همداسې پيچلي او مغلق پاتې دي لکه د ولايتونو د روغتونونو د اړتياوو پوره کول، د تدارکاتو پروسه، د قوانينو د جوړولو پروسه .... همدارنګه د ناروغانو د دوسيو تنظيم او ساتنه په ولاياتو او آن په مرکز کابل کې اوس هم په همهغه پخوانۍ بڼه روانه ده.

**ب- د تعميراتو او تجهيزاتو په برخه کې:** د عامې روغيتا وزارت په تېرو شلو کلونو کې د نړېوالو مرستندويه ټولنو او لويو سازمانونو په مرستو سره اکثر صحي تأسيسات څه ناڅه ورغول او ګڼ شمېر صحي تجهيزات او وسايل يې تر لاسه کړل.

د تعميراتو په برخه کې هم د عامې روغتيا وزارت ستونزې لرې ډېرې تعميرونه په همهغه زړه ودانۍ کې پاتې دي حال دا چې د پوښښ لاندې ساحې نفوس يې څو برابره زيات شوی دی. په تيرو شلو کلونو کې دا تعميرونه يوازې رنګ شوي او يو څه تجهيزات يې نوي شوي دي. په تيرو شلو کلونو کې د عامې روغتيا وزارت د انکشافي بودجې څخه او د نړېوالو تمويلوونکو سازمانونو په مرسته زيات شمېر وسايل او ماشين آلات ترلاسه کړل چې ان الکترونيک حکومتوالي ته چمتو شوي وو، مګر زموږ په څېړنه کې لاندې درې لوې ستونزې د تجهيزاتو په اړه وموندل شوې:

د شلو کلونو په تيرېدلو سره د عامې روغتيا وزارت يو شمېر طبي تجهيزات ډېر زاړه شوي او له استفادې څخه لوېدلي وو، د يو شمېر نويو طبي او تخنيکي ماشين آلاتو او تجهيزاتو د استعمال له پاره چې نړېوالو مؤسساتو له عامې روغيتا وزارت سره کمک کړی وو، ياد وزارت، مسلکي کسان نه درلودل چې ګټه ترينه واخلي همدارنګه ياد وزارت د خپلو زيات شمېر وسايلو او تجهيزاتو د کنټرول، مراقبت، Maintenance او ترميم له پاره مسلکي کسان

نه درلودل، ان د کمپيوټر او نورو وسايلو د Update او انتي ويروس په برخه کې په ځانګړې توګه په ولايتونو کې ستونزې درلودې او د ميليونونو ډالرو په ارزښت وسايل يې په سمه توګه ونه شوی کارولی. له همدې امله د کابل ښار او ولايتونو د روغتونونو آرشيفونه الکترونيک نه دي د ناروغانو دوسيې او اسناد کمپيوټرايز شوي ندي او د اړتيا پر مهال ډېر وخت ورباندې ضايع کېږي.

بله لويه ننګونه او ستونزه د ځای او تعميراتو په برخه کې ده د اکثريتو روغتونونو اداري او صحي – خدماتي برخې په يوه تعمير کې او يا ډېر نږدې په چوپړتياو سره بوخت دي ان د عامې روغتيا وزارت په ځينو دفترونو کې د يو ميز تر شاه دوه يا درې تنه کارکوونکي تر سترګو کېږي، د صحت طفل اندراګاندي په روغتون کې پر يوه چپرکټ دوه يا درې ان څلور ماشومان بستر کيږي چې د صحي معيارونو مخالف کار دی او له يو ناروغ څخه بل ته د ساري ناروغيو د انتقال سبب کېدای شي. د ملالۍ زيږنتون تعمير ډېر پخوا د همهغه وخت د نفوس د اړتياو په پار جوړ شوی دی خو اوس چې نفوس څو برابره شوی بياهم روغتون په همهغه تعمير کې خدمات وړاندې کوي او په اوسنيو شرايطو کې د نفوس له زياتيدو سره نشي کولای معياري خدمات وړاندې کړي. دې چارې هم د صحي خدماتو وړاندې کوونکي ( صحي او اداری کارکوونکي ) او هم د خدماتو تر لاسه کوونکي (ناروغان) له ستونزو او کشمکش سره مخامخ کړي دي.

**ج- بودجه او د صحي تأسيساتو انکشاف:** ګڼ شمېر صحي تأسيسات له ابتدايي حالت څخه وتلي او انکشاف يې کړی دی. د کابل ښار ګن شمېر دولتي روغتونونه له عادي حالت څخه په ملي او اختصاصي روغتونو بدل شوي دي او تر څنګ يې ګڼ شمېر خصوصي روغتونونه هم جوړ شوي دي چې لږ شمېر يې په ښو تجهيزاتو هم سمبال شويدي. د هېواد د لويو ښارونو روغتونونه هم يو څه پراخه شوي او انکشاف يې کړی دی خو د نورو ولايتونو روغتونونو ته بيا ډېره پاملرنه نه ده شوې. که څه هم د عامې روغتيا وزارت په

واک کې په کافي اندازه عادي او انکشافي بودجه په تیرو شلو کلونو کې ورکړل شوې ده مګر د مختلفو عواملو له کبله چې په دې مقاله کې یې څېړل شونې نه دی دا بودجه یا ټوله نده مصرف شوې او یا هم په سمه توګه نده مصرف شوې له همدې کبله د هېواد صحي سیسټم پوره پرمختګ ندی کړی.

په هېواد کې د عامې روغتیا د لګښتونو د تمویل په ستراتیژي کې لاندې موخې ټاکل شوې وې:

- د صحي مراقبتونو د غزولو په موخه د موجوده عوایدو د کچې زیاتوالی
- د صحت د تمویل په برخه کې عدالت او پایداري
- د صحت په تمویل کې د کورنیو د شخصي لګښتونو کموالی
- د صحت د تمویل تقویه د اړتیا وړ مواد د ستراتیژیکو خرېداریو او باکیفیته خدماتو په وړاندې کولو سره.
- د ولایتونو د تمویل او مصارفو د ظرفیت پیاوړتیا(٦: ص.٩)

**د- د صحي خدماتو په برخه کې:** صحي خدمات په مرکز کې تر یوه حده مناسب دي خو په ولایتونو کې ډېری صحي خدمات خلکوته د غیر دولتي ملي او بین المللي مؤسساتو لخوا د هغوی د قوانینو او اصولو په مبنی تر سره کېږي.

صحي خدمات تر ډېره حده د با تجربه او متخصصو کادرونو په موجودیت، د کافي بودجې په لرلو او د هغو په شفاف مصرفولو پورې تړلي دي. په دغه څېړنه کې چې د کابل ښار او ولایتونو په څو روغتونونو کې ترسره شوي، معلومه شوه چې د پرمختللو وسایلو، نه موجودیت عامو خلکو ته د صحي خدمتونو په وړاندې کولو او ناروغانو ته د اساسي درملنې په ترسره کولو کې اصلي ننګونه او ستونزه جوړوي. له دې څخه معلومه شوه چې په تیرو شلو کلونو کې یاد وزارت د ملي او بین المللي مؤسساتو لخوا د زیاتې بودجې د ترلاسه کولو سره سره بیا هم د پلازمینې او ولایتونو روغتونونه پرمختللي

تجهیزات او اړین درمل نه لري. له همدې وجهې د افغانستان ډېر وګړي د تشخیص او درملنې په موخه له هېواد څخه بهر ته مراجعه کوي.

په دولتي روغتونونو کې د لابراتواري وسایلو د نه موجودیت له کبله د معایناتو تر ۵۰ سلنه زیاته برخه له دولتي شفاخانو څخه دباندې لېږل کېږي چې ناروغان او صحي کارکوونکي یې د ستونزو او سرګردانۍ سره مخامخ کړي دي.

په هغه بررسي کې چې د نړېوال بانک او تورنتو پوهنتون له خوا وشوه، معلومه شوه چې د ۲۰۰۲ ز. کال څخه تر ۲۰۱۷ز. کلونو په ترڅ کې د افغانستان صحي سکټور د نړۍ له ډېرو هېوادونو څخه چې د افغانستان په شان انکشافي سطحه لري، ښه وو مګر دا سکټور له یو شمېر ستونزو او ننګونو سره هم مخامخ دی (۲) .

د احصایې او معلوماتو د ملي ادارې د ارقامو په اساس د هېواد نفوس په ۲۰۱۷ کال کې کابو ۳۰ میلیونو تنو ته ورسېد (٦: ص. ۱، ۷).

په تېره یوه نیمه لسیزه کې صحي خدماتو ته لاسرسی پراخه شوې دی یعنې د صحي اساسي خدماتو مجموعه (EPHS) او د روغتونونو د اساسي خدماتو مجموعه (BPHS) خلکوته د ابتدایي او ثانوي خدماتو د رسېدو کچه لوړه کړې ده. د افغانستان د صحي سروې (AHS) موندنې ښیي چې په ۲۰۱۸ز.کال کې ۷۵ سلنه ځواب ورکوونکو لیکلي وو چې په نیم ساعت کې او تر ۹۵ سلنه کسانو ډېرو لیکلي وو چې په دوو ساعتونو کې صحي خدماتو ته لاسرسی لري. په تیرو شلو کلونو کې د میندو مړینه په ۲۰۰۲ز. کال کې له ۱٦۰۰ په هرو ۱۰۰۰۰۰ ولادتونو کې ۳۲۷ تنو ته په ۲۰۱۰ ز. کال کې راکمه شوې ده، همدارنګه په ۲۰۰٦ کال کې تر پنځو کالو په کم عمره ماشومانو کې مړینه له ۱۹۱ په ۱۰۰۰ تنو کې ۵۰ تنو ته په ۲۰۱۸ کې راکمه شوې ده. په تېره لسیزه کې د هېواد اقتصاد هم سریع مګر ناپایداره وده درلوده، د زراعت سکتور د اقتصاد په وده کې کلیدي ونډه درلوده(۲).

د افغانستان د صحي ملي حساباتو (NHA) د ګزارش په اساس په ۲۰۱۷ ز. کال کې د صحي مصارفو کلنۍ کچه د هر نفر په سر ۸۷ امریکایي ډالره اټکل شوې وه چې اکثره د خلکو په واسطه له شخصي جیبونو څخه ورکړل شوي وو(۴:ص.۹).

د روغتیا د ښه والي په ملي ستراتیژۍ کې چې د ۲۰۱۴ تر ۲۰۲۰ز. کلونو له پاره د عامې روغتیا وزارت لخوا جوړه شوې وه لاندې موخې ټاکل یې لرلې: د مور او نوي زېږدلي ماشوم روغتیا او د کورنۍ سمون، عامه تغذیه، د ماشومانو صحت، نظافت او حفظ الصحه، غیرساري ناروغۍ، د عامو لارو له جروحاتو څخه مصؤنیت، معلولیت، د نفوس وده، د چاپېریال صحت، ساري ناروغۍ، رواني صحت، شغلي یا کاري صحت، د موادو ناوړه کارونه او د درملو چارې(۵: ص. ۸).

په داسې حال کې چې د سروې له مخې د هېواد ۸۰ سلنه وګړي له قضای حاجت وروسته په اوبو او صابون سره د لاسونو د مينځلو په اهمیت پوهېدل مګر یوازې ۳۰ سلنه کسانو عمل پرې کړی وو، او په موټر کې د سپرلۍ پر مهال ۸۰ سلنه کسان د امنیتي کمربند د تړلو په اهمیت پوهېدل خو یوازې ۲۰ سلنه کسانو (هغه هم موټر چلوونکو) عمل پرې کړی وو(۵: ص.١٦).

په تېرو شلو کلونو کې د نفوس چټکه وده او د هېواد د صحي سیستم توسعه نا انډوله وه، نو ځکه د هېوادوالو د صحي لاسرسي کچه خپل ټاکلي هدف (بشپړ صحي پوښښ) ته نده رسېدلې.

د نیشه یي موادو د وقایی له پاره د عامې روغتیا وزارت ستراتیژیک پلان لاندې برخې لري:

۱- د ظرفیت لوړاوی

۲- د عامو خلکو خبرتیا او پوهاوی

۳- د وقایوي خدماتو وړاندې کول

۴- ارزونه، مونيتورننگ او همغږي
۵- څېړنه
٦- له ټولو ښکيلو جوانبو څخه د يادې ستراتيژي د پلي کولو غوښتنه (۸: ص.۵).

وابستگی زیاد به مواد غذایی وارداتی نه تنها باعث فرار سرمایه از کشور می گردد، بلکه باعث گردیده تا کشور از نقطه نظر مصئونیت غذایی در مخاطره قرار گیرد، طوری که همین اکنون ما شاهد آن هستیم که ۹۰ فیصد مواد غذایی (گندم و برنج) از خارج وارد می گردد. با وجود افزایش در سهم بخش خدمات در تولیدات نا خالص داخلی، بخش زراعت هنوز هم به عنوان کلید رشد اقتصاد در افغانستان باقی مانده است که این اهمیت از طریق تأثیر روی تقاضای جمعی و نیز اهمیت آن به عنوان تأمین کننده مواد لازم برای بخش تولیدی می باشد. زراعت در افغانستان به دلیل وابستگی شدید آن به محصولات للمی در برابر تغییرات اقلیمی و صدمات ناشی از آب و هوا

بسیار آسیب پذیر می باشد. رشد اقتصادی بسیار شکننده بوده، با توجه به این که ۸۰ فیصد نفوس در مناطق روستایی زندگی می نمایند و ۳۸ فیصد نیروی کار به منظور فراهم آوری معیشت در بخش زراعت مشغول هستند، آسیب پذیری محلی اقتصادی در برابر تغییرات جوی، تأثیر به سزایی روی آسیب پذیری و کاهش فقر دارد(۵).

با وجود همه انکشافاتی که در عرصه های مختلف تکنولوژی صورت گرفته است، امروز در سطح جهان حدود ۸۳۰ میلیون نفر از گرسنگی و حدود نیمی از جمعیت جهان از سوء تغذیه رنج می برند، این حقیقت نشان می‌دهد که بهره وری زراعت در اکثر کشور های رو به انکشاف پایین است، در ضمن کمبود دانش تغذیه و مسایل ساختاری اجتماعی نیز سبب گرسنگی و سوء تغذیه می شود (۸).

اخیراً شکنندگی سیستم های غذایی جهانی به شدت افزایش یافته است. بی ثباتی جهانی امنیت غذایی میلیارد ها نفر را به مخاطره انداخته است. شوک های اقتصادی و درگیری های ژیوپولیتیکی که تولید و جریان کالا های زراعتی را در سراسر جهان تغیر داده است، به چالش کشیده است. در بحبوحه همه گیری کووید -۱۹ زنجیره تأمین موادغذایی به دلیل کمبودی نیروی کار، حمل و نقل و شوک های عرضه و تقاضا مختل شد. اخیراً درگیری های میان روسیه و اوکراین، سبب گردید که تا سطح تولید در هر دو کشور کاهش یافته و جهان را به کمبود غله مواجه سازد، شرایط را در کشور های در حال توسعه وخیم تر سازد. خشکسالی ها سطح فاجعه بار گرسنگی را در کشور های افریقایی بوجود آورده است . بروز سیلاب های ناشی از تغییرات اقلیمی فشار بیشتر را بر جمعیت های آسیب پذیر وارد نموده است.

با وجود مشکلات فوق خوشبختانه زراعت در افغانستان نسبت به سال های قبل انکشاف یافته و تا اندازۀ در تأمین مصئونیت غذایی مردم نقش برازنده دارد. ارقامی که از تولیدات محصولات زراعتی طی سال های ۱۳۸۹

الی ١٣٩٤ هـ.ش. به دست آمده حاکی از آنست که تولید محصولات زراعتی نسبت به سال های گذشته افزایش یافته است، چنانچه مقدار تولید محصولات زراعتی طی سال های فوق در جدول ذیل به مشاهده می‌رسد.

**جدول - ٣: مقدار محصولات تولید شده طی سال های ١٣٨٩ - ١٣٩٤ (٤)**

| شماره | نوع محصول | مقدار محصولات تولید شده به تن | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | | ١٣٨٩ | ١٣٩٠ | ١٣٩١ | ١٣٩٢ | ١٣٩٣ | ١٣٩٤ |
| ٢ | گندم | ٢٣٥٤٠٠٠ | ٣٠٣٣٧٠٠ | ٢٢٣٢٠٠٠ | ٥١٦٩٢٣٥ | ٥٣٧٠٢٥٩ | ٤٦٧٣٠٤٠ |
| ٣ | نرنج | ٢٠٨٠٠٠ | ٢١٠٠٠٠ | ٢٠٥٠٠٠ | ٥١٢٠٩٤ | ٥٣٧٠٠٠ | ٤١٠٠٠٠ |
| ٤ | جو | ٢١٢٠٠٠ | ١٩٠٠٠٠ | ٢٨٠٠٠٠ | ٥١٤٠٠٠ | ٥٣٧٠٠٠ | ٤١٠٠٠٠ |
| ٥ | جواری | ١٨٣٠٠٠ | ١٨٣٠٠٠ | ١٤١٠٠٠ | ٣١٢٠٠٠ | ٣١٦٠٠٠ | ٣١٦٠٠٠ |
| ٦ | حبوبات | ٧١٧٠٠ | ٨١٠٠٠ | ٨٦٣٦٨ | ٩٢٣٤٥ | ٩١٨٦٣ | ٨٧٣٩٨ |
| ٧ | کچالو | ٢١٠٠٠ | ٢١٦٧٠ | ٢٢١٧٢ | ٣١٧٧٤٥ | ٣٥١٥٨٧ | ٣٢٢٠٠٢ |
| ٨ | نیشکر | ١١٧٠ | ١١٧٢ | ١١٧٢ | ٨٩٨٨٠ | ٧٥٠٨٢ | ٤٦٤٥٤ |
| ٩ | بادام | ١١٢١٠ | ١٣٤٦٩ | ١٣٤٩٠ | ٤٢٢١٥ | ٢٧٤٠٠ | ٢٤٢٤٦ |
| ١٠ | چهارمغز | ٢٣٨٠ | ٢٣١٧ | ٢٣١٧ | ١١١٢٢ | ١٠٤٢٦ | ٣٦٥٠ |
| ١١ | زیتون | ٢٢٠٠ | ٢٢٠٠ | ٢٢٠٠ | | | |

جدول فوق نشان می دهد که افغانستان بین سال های ١٣٩٠ الی ١٣٩٥ از نگاه تولید محصولات زراعتی تقریباً به حد خود کفایی خود رسیده بود، اما با تأسف در سال های اخیر دو عامل که عبارتند از : خشک سالی و عدم موجودیت بازار مناسب برای فروش محصولات، دهاقین را به مشکلات بیش از حد مواجه ساخته است.

## ۳- تأمین معیشت

معیشت یک اصطلاح غذایی بوده که در لغت به معنی اعاشه نمودن و در اصطلاح عبارت از چگونگی غذا، تغذیه، نوعیت غذا و طرز توزیع آن است که مردم از آن استفاده می نمایند و یا درآمدی را که مردم به منظور بدست آوردن غذای روزانه خویش برای ادامه حیات به مصرف می رسانند، بحث می نماید. معیشت مردم مربوط است به شرایط طبیعی، موقعیت جغرافیایی، توانایی اقتصادی ، حاصلدهی زراعت، بارندگی سالیانه، جنگ و صلح، نوعیت ابزار تولیدی، حفاظت و نگهداشت غذا ها می باشد.

معیشت مردم علاوه بر دیگر عوامل وابسته به نظام سیاسی بوده و از یک نظام تا نظام سیاسی دیگر خیلی ها متفاوت می باشد.

معیشت عبارت از تأمین نیاز های اولیه طرف ضرورت انسان ها که عبارتند از: پول کافی، غذا و یا پول نقد برای رفع نیاز های اولیه انسان ها می باشد، پس امنیت معیشتی به معنای مالکیت مطمئن یا دسترسی به منابع و فعالیت های درآمد زا، از جمله ذخایر و دارایی ها برای جبران رسک ها، خطرات و مقابله با حوادث احتمالی است.

نقش زراعت در سیستم های معیشتی برای کشور های درحال توسعه مانند افغانستان که در آن اکثر خانواده ها، در بخش تولید، ترانسپورت و بازار یابی محصولات زراعتی مصروف اند ومعیشت خود را از زراعت تأمین می نمایند، فوق العاده مهم بوده و زراعت نمی تواند به صورت جدا از موضوع معیشت تعریف گردد. به صورت عموم خانواده های روستایی از زراعت به چهار طریق می توانند امرار معیشت نمایند.

**الف - معیشت مبتنی بر تولید:** بخش بزرگی از زارعین کوچک و کم زمین از طریق تولید در قطعات کوچک زمین امرار معاش می کنند. برای این

خانواده ها، در دسترس بودن یا دسترسی به عوامل و روش های بهبود یافته تولید برای معیشت آن ها بسیار حیاتی است.

**ب - معیشت مبتنی بر نیروی کار** : اکثر زمین داران کوچک و خانواده های روستایی از طریق فروش نیروی کار خود امرار معاش می کنند. برای نیروی کار، نرخ دستمزد و قیمت مواد غذایی عوامل حیاتی می باشد.

**ج - معیشت مبتنی بر مبادله بازار**: آن دسته از خانواده های روستایی که محصولات مازاد زراعتی خواه خوراکه باشد و یا غیر خوراکی یا کالا های غیر زراعتی تولید می کنند، از طریق فروش این مازاد در بازار امرار معاش می کنند. سیستم بازاریابی برای این محصولات و قیمت نسبی آنچه می فروشند و می خرند، بر معیشت آن ها تأثیر می گذارد.

**د - معیشت مبتنی بر انتقالات:** یک تعداد خانواده های روستایی از طریق انتقالات محصولات زراعتی به بازار و محل مورد نظر امرار معیشت می نمایند که متأسفانه ارقام دقیق این نوع درآمد در دسترس قرار ندارد، اما مشاهدات عینی نشان می دهد که تقریباً ۲۰ فیصد روستایی ها مصروف این فعالیت هستند.

طبق گزارش بانک جهانی در سال ۱۳۹۲ تعداد افراد واجد شرایط کار در افغانستان در حدود ۱۵ میلیون نفر بود که از این میان دوبخش صنعت وخدمات هر کدام ۱۰،۱۰ فیصد از نیروی کار را به خود اختصاص داده و ۸۰ فیصد دیگر آن در سکتور زراعت ومالداری مشغول کار بودند. این حقیقت نشان می‌دهد که ۱۲ میلیون نفر در بخش زراعت مصروف بودند. گزارش بانک جهانی در سال ۱۳۹۵ هـ.ش. تصریح می‌کند که ۹۰ فیصد صنایع تولیدی بر محصولات زراعتی وابسته بود. در صورتی‌که مولدیت افزایش یابد و زمین های مزروعی توسعه داده شود، سکتور زراعت می تواند باعث ۱,۲ فیصد رشد اقتصادی سالانه گردد، درضمن برای ۱,۲ میلیون انسان زمینه کار را مهیا سازد(۸).

با توجه به تمام مواردی که تا حالا ذکر گردید، باید گفت که که بستر زراعت افغانستان برای سرمایه گذاری کاملاً بکر و دست ناخورده است. تا کنون سرمایه گذاری خیلی بزرگ در این بخش صورت نگرفته و اندک سرمایه گذاری که توسط بخش خصوصی صورت گرفته به خوبی از آن استقبال نگردیده است. به عنوان مثال کشتارگاه هایی که در کابل اعمار گردیده، ذخیره خانه ها و سرد خانه هایی که در هرات و سایر ولایات فعالیت دارند، اکنون با چندین برابر ظرفیت خود مشغول به کار هستند که این خود نشاندهنده فرصت های مناسب برای سرمایه گذاری در عرصهٔ زراعت است.

انکشاف آینده افغانستان درگرو سرمایه گذاری دربخش معدن و زراعت می باشد، اما معدن یک فعالیت پر مصرف می باشد که شغل کمتری تولید می کند که شاید بین ۱۰ تا ۲۰ هزار شغل تا سال ۲۰۲۰ حتی در بهترین حالت معادن افغانستان به طور مستقیم ۱۰۰ تا ۱۲۵ هزار شغل در ۱۰ سال آینده ایجاد کند. این در مقایسه با زراعت که قادر است ٤۰۰ تا ۵۰۰ هزار شغل ایجاد کند عدد کمتری می باشد، همچنین معدن نیاز مند کارگران ماهر و نیمه ماهر می باشد و منافع مستقیم آن برای مناطق روستایی فقیر کمتر می باشد.

### ٤- تولید مواد خام صنایع

طوری که به همه هویداست، زراعت مواد خام یا مواد اولیه صنعت را تولید نموده و از این طریق عامل انکشاف کشور می گردد، زیرا با پروسس موادخام زراعتی ارزش محصولات بلند رفته، زمینه کار برای مردم مساعد گردیده و از فاسد شدن محصولات تولید شده جلوگیری به عمل می آید. محصولات زراعتی می تواند برای صنایع ذیل مواد خام تولید نماید. صنایع نساجی، صنایع چرم سازی، صنایع تولید روغن، صنایع کاغذ سازی، صنایع قالین بافی، صنایع کاغذ سازی، صنایع تولید الکول، صنایع ادویه سازی، صنایع پروسس لبنیات، صنایع تولید رابر.

هرگاه صنایع فوق در تمام ولایات افغانستان فعال گردد، امکان ایجاد بیش از یک میلیون شغل را خواهد نمود و بازار خوبی برای عرضۀ محصولات زراعتی به وجود خواهد آمد که همه در رشد و انکشاف کشور رول عمده را دارند.

**۲- نقش زراعت در بهبود محیط زیست**

علاوه بر ابعادی که ذکر شد، زراعت در بهبودی محیط زیست هم رو ل بسزای داشته و از این طریق هم می تواند باعث رشد یک کشور گردد، زیرا حیات انسان ها وابسته به محیط زیست شان است، اگر تمام شرایط دیگر زندگی مساعد باشد، ولی صرف محیط زیست برای ادامۀ حیات مناسب نباشد، باز هم انسان نمی تواند به حیات خویش ادامه دهد. می گویند: عقل سلیم در بدن سالم است. بدون موجودیت محیط زیست سالم موجودیت انسان سالم ناممکن می باشد، پس گفته می توانیم زراعت فلتر طبیعی طبیعت بوده و نقش حیاتی را در انکشاف جامعه دارد. نباتات در مجموع خواه مزروعی و یا غیر مزروعی باشد بالای محیط زیست تأثیرات به سزایی دارد که به طور خلاصه یاد آور می شویم:

نباتات محل بود و باش را برای حیوانات فراهم می نماید، بسیاری از مواد مورد نیاز برای تهیه ادویه و مصالح ساختمانی را در اختیارما قرار می دهند، نباتات مواد سوخت ما را تأمین نموده، خاک را حاصلخیز نموده و از فرسایش آن جلوگیری می‌نماید، برای سایر موجودات زنده اکسیجن تازه را تولید و کاربن دای اکساید را بلع نموده و به همه حیوانات روی زمین زمینه تنفس بهتر را فراهم می نماید.

نباتات بخش مهمی از دوران آب هستند، آن ها آب را از خاک جذب کرده و از طریق برگ های خود آنرا به شکل بخار (تعرق) به هوا متصاعد می سازد و سپس به شکل باران به زمین فرود می آید. نباتات مناظر طبیعت را

زیبا ساخته، بهترین تفرجگاه ها را بوجود می آورد، بدون نباتات زمین به یک صخره بایر تبدیل خواهد شد.

با حذف کاربن از اتمسفیر و تولید اکسیجن تازه به پایداری اقلیم کمک می نماید، زیرا با گرم شدن کره زمین مبارزه می کنند، نباتات بومی در مزارع به کنترول آفات کمک می نماید، زیرا بسیاری از پرندگان و حشرات بومی آفات را در مزارع و چراگا ها می خورند. این بدین معناست که هزینه کمتری برای آفت کش ها و ورود مواد کیمیاوی مضر کمتر به محیط زیست مصرف می شود.

به صورت خلاصه می توان گفت که زراعت از طرق ذیل سبب بهبودی محیط زیست می گردد:

۱- با انکشاف صنعت، محیط زیست به چالش های بی شماری مواجه شده است، مهم است بدانیم نباتات می توانند نقش مهم را در کاهش اثرات سوء تغییرات اقلیم ایفا نمایند. یکی از بزرگترین مسایل محیط زیست که جهان امروز به آن مواجه است، سوزانیدن مواد سوخت فوسیلی است که منجر به تولید سطوح بالای کاربن دای اکساید در جو زمین شده است. اگر چه تغییرات اقلیمی واقعیتی است که جهان باید با آن روبرو شود، جامعه هنوز هم برای تأمین انرژی مورد نیاز خود به شدت به سوخت مواد فوسیلی متکی است.

نباتات زمینی و اقیانوسی به دلیل توانایی آنها در ذخیره کاربن دای اکساید از هوا، بلع کاربن در نظر گرفته می شوند، ایکوسیتم های مهم بلعیدن کاربن عبارتند از: چراگاها، جنگل ها، باتلاق‌ها، ذغال سنگ نارس، تالاب‌ها، صخره‌ها ی مرجانی و ایکوسیستم های ساحلی می باشند.

نباتات بهترین زیست گاه ( Habitat) را برای حیات وحش و انسان ها فراهم می نمایند به عنوان مثال بسیاری از انواع پرندگان برای محل بودو

باش به درختان و درختچه ها پناه می برند، داخل شگاف ها و یا روی شاخهٔ های درختان، لانه می سازند.

۲- تنظیم دوران آب

حدود ده فیصد از رطوبت موجود دراتمسفیر توسط نباتات از طریق پروسهٔ تعرق آزاد می شود، نباتات آب را از طریق ریشه می گیرند و بخار آب را از طریق منافذ کوچک در سطح زیرین برگ های خود آزاد می کنند، نه تنها این، بلکه نباتات به تثبیت بدنه های آبی مانند رود خانه ها، دریاچه ها و نهر ها کمک می کنند، ریشه های گیاه ثبات خاک را بهبود می بخشد، از فرسایش زمین جلوگیری می کند و این ایکوسیستم ها را دست نا خورده نگهمیدارد. با وجود مزایای فراوانی که نباتات ارائه می دهند، یکی از مشکلات محیط زیست که به آن مواجه هستیم، تخریب محیط زیست است. ایکوسیستم های زمین در معرض جنگل زدایی، توسعه و استخراج منابع هستند. به دلیل بسیاری از راه هایی که نباتات به انسان و محیط زیست کمک می کنند، ایکوسیتم ها و نباتات باید محافظت شوند. در این دوران عدم اطمینان محیطی، مهم است که موجودیت جنگلات را حتمی بدانیم.

**نتیجه**

از مطالعهٔ ارقام تولیدات زراعتی و مصروفیت بیشتراز ۸۰ فیصد مردم این مرزبوم در سکتور زراعت چنین نتیجه گیری می شود که زراعت در انکشاف این کشور نقش کلیدی داشته و برای فعلاً هیچ سکتور دیگر حتی معادن هم جای این سکتور حیاتی را گرفته نمی تواند.

از ارقام مندرج جداول مقالهٔ هذا بر می آید که شرایط اقلیمی این کشور برای کشت و پرورش انواع مختلف نباتات، آن هم نباتات بسیار با ارزش مانند زعفران، هنگ، شرین بویه، نباتات تیلی مانند، کنجد، شرشم، سائیبین، مساعد بوده که با کشت و پرورش نباتات متذکره می‌توان مقدار هنگفت

سرمایه را به کشور خویش وارد نمود و از این طریق کشور را به سوی انکشاف سوق دهیم.

از تحلیل جدول GDP چنین بر می آید که محصولات زراعتی با وجود مشکلات فرا راه سکتور زراعت مانند خشکسالی های متواتر، عدم موجودیت سردخانه های معیاری جهت نگهداشت محصولات زراعتی سهم بارزی را در تولید ناخالص داخلی داشته طوری که در سال ۱۳۸۹ حتی به ٤۳ فیصد رسیده است.

از مقایسهٔ مقدار محصولات تولید شده و صادر شده زراعتی چنین استنباط می گردد که در مقایسه با تولیدات، صادرات محصولات زراعتی بسیار کم بوده و نشان دهنده آن است که مشکلات در قسمت صادرات محصولات زراعتی وجود دارد.

با وجودی که بیشتر از ۸۰ فیصد مردم در سکتور زراعت مشغول اند، مگر نسبت عدم موجودیت یک پلان یا پالیسی منظم از یک جانب و عدم استفاده مؤثر از نیروی بشری و سایر فرصت های موجود، دهاقین ما درحقیقت گرفتار یکنوع بیکاری مخفی بوده و نمی توانند از کسب خویش امرار معیشت نمایند.

**پیشنهادها**

مطالعاتی که در رابطه به نقش سکتور زراعت در رشد اقتصاد کشور انجام داده شد و نتایج که به دست آمده دیده می شود که با وجود موجودیت نیروی بشری کافی و مشغولیت تعداد زیاد مردم در این سکتور و افزایش تولیدات محصولات زراعتی، آن طوری که انتظارمی رود نتوانسته که اقتصاد مردم را تقویه نماید و فقر را کاهش دهد، که علت آن موجودیت یک تعداد مشکلات مانند، نبود یک پلان منظم، عدم موجودیت تکنالوژی مناسب، خشکسالی ها نبود سرد خانه های معیاری، نبود بازار مناسب برای فروش محصولات تولید

شده، بناءً برای رفع مشکلات و بهبود و یا ارتقای سطح تولید محصولات زراعتی پیشنهادات ذیل ارائه می گردد.
۱- طوری که ارقام تولید محصولات زراعتی نشان می‌دهد از سال ۱۳۸۳ الی ۱۳۹۵ هـ.ش. تولید محصولات زراعتی سیر صعودی داشته و از آن به بعد نسبت خشک سالی ها سیرنزولی دارد،بناءً مدیریت آب و استفاده مؤثر از آن یکی از اولویت های وزارت محترم زراعت، آبیاری و مالداری بوده، بناءً پیشنهاد می گردد تا در سطح کشور مانند کانال قوش تیپه، بند های آبگردان و کانال های آبیاری احداث گردد.

۲- از آنجای که ملکیت در افغانستان میراثی بوده و زمیی که به ارث گذاشته می شود بعد از دو الی سه نسل به قطعات کوچک تبدیل شده و به محلات مسکونی تبدیل می گردد، برای جلوگیری از این مشکل به امارت اسلامی افغانستان پیشنهاد می نمایم که زمین های اطراف کانال قوش تیپه را به مردم توزیع نکرده، بلکه در عوض به متشبثین خصوصی اجاره دهند، تا تولیدات محصولات زراعتی به شکل میکانیزه صورت گیرد.

۳- به ریاست انستیتوت تحقیقات وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، انستیتوت زراعت اکادمی علوم و پوهنحی های زراعت، پوهنتون ها پیشنهاد می نمایم تا تحقیقات علمی را در رابطه به تولید ورایتی های مقاوم در مقابل خشکی انجام دهند.

٤- به وزرات زراعت، آبیاری و مالداری پیشنهاد می نمایم که سرد خانه های معیاری را در تمامی ولایات افغانستان به خصوص در ولایات گرمسیر کشور ایجاد نماید تا از فاسد شدن محصولات زراعتی جلوگیری به عمل آید.

۵- به وزارت تجارت و صنعت پیشنهاد می نمایم تا به تفاهم با وزارت زراعت قبل از رسیدن محصولات زراعتی بازار های مناسب فروش محصولات را در داخل و خارج کشور تدارک نمایند.

٦- به وزارت تجارت و صنعت پیشنهاد می نمایم تا فابریکات پروسس محصولات زراعتی را در ولایات کشور ایجاد نماید، تا باشد هم از فاسد شدن محصولات زراعتی جلوگیری گردیده و هم زمینهٔ کاریابی برای مردم مهیا گردد.

## مآخذ


۱- سالنامهٔ وزارت زراعت، آبیاری و مالداری امارت اسلامی افغانستان ، سال ۱۳۸۹هـ.ش.

۲- سالنامهٔ وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، امارت اسلامی افغانستان، سال ۱۳۹۵هـ.ش.

۳- Agriculture-based economic development – available at: https://www.giz.de/en/workingwithgiz/knowledge-hub.html – accesses at ۲۱,۰۹,۲۰۲۳

٤- Agriculture and food security – available at: https://knowledge٤policy.ec.europa.eu/publication – accesses at ۱٥,۹,۲۰۲۳

٥- Food security and nutrition and sustainable agriculture – available at: https://sustainabledevelopment.un.org/topics/foodagriculture /decisions – Accesses at: ۱۸,۹,۲۰۲۳

٦- Sustainable agriculture and rural development, for food security and nutrition: what roles for livestock and fish? – Available at: https://www.fao.org/۳/i۳۹٥۷e/i۳۹٥۷e.pdf

۷- The role of agriculture in economic development – available at: ttps://www.imf.com/en/publications/WP/Issues/۲۰۱۹/۰۷/۲٦/the

-role-of-agriculture-in-economic-development – accesses at: ٢١,٩,٢٠٢٣

٨- TOWARDS A LIVING INCOME IN RURAL AREAS – available at:

https://www.hmstiftung.org/en/muddy-boots – accesses at ٢١,٩,٢٠٢٣

ښېرنوال محمدامان رسولي

# د افغانستان په علمي او کلتوري بډاینه کې د جوماتونو رول

## المخلص

هذا المقال بعنوان:(**دور المساجد في ازدهار العلم والثقافة في أفغانستان**) بُذل فيه الجهد ببيان أن المسجد له حيثية مركز العلم والفهم, والإزدهار العلمي مقدمة الإزدهار المعنوي, و الإزدهار الثقافي في البلد سبب الإستقرار والرقٰى و بلدنا العزيز و ضروريات العصر، فنظرًا لضروريات العصر الحالي نبين دور المسجد، حتٰى يصبح المساجد في بلدنا العزيز مثل المساجد السابقة حيث كانت لها دورٌ كبيرٌ في تربية الأجيال و رجال العلم و أبرز الشخصيات, و كذلك للمساجد دورٌ مهمٌ في تقوية المؤسسات الإجتماعية ونقل العلم والثقافة إلى الأمم والشعوب الأخرى بشكل أساسي, و لابد أن نعمل على ذلك بهدف إزدهارنا العلمي والمادي. وهذا المقال قد يحتوى على الملخص و المقدمة التي تشتمل على أهمية البحث, و أهدافه ومنهج البحث اضافة إلٰى العناوين الصغيرة الأخرى وينتهي البحث بالنتايج المتوصلة والتوصيات الهامة و فهرس المصادر.

## لنډيز

تر یاد سرلیک لاندې په دې مقاله کې هڅه شوې چې د جومات یا مسجد د علم او پوهې د د مرکز په حیث، علمي بډاینه د مادي بډاینې پیلامه، کلتوري بډاینه په هېواد کې د استقرار او ترقۍ د لامل توگه او زمونږ په گران هېوادکې

د اوسني عصر اړتیا ته په کتو هڅه شوې ده چې د جوماتونو رول په ډاگه شي، د تیر په څېر زمونږ په گران هېواد کې جوماتونه د سترو سترو ستړو او شخصیتونو د ظهور لامل گرځیدلي او لا گرځي، د پیاوړو ټولنېزو بنسټونو د پیاوړتیا لامل شوي او نورو ملتونو ته د علم او کلتور په لیږد کې یې مهمه ونډه اخیستې ده، او اوس مهال باید چاره د خپل علمي او مادي بډاینې په موخه ترسره شي. مقاله په لنډېز، سریزې چې د څېړنې اهمیت، مبرمیت، موخو او د بحث پر مېتود سربیره، پر څنگزنو سرلیکونو، پایلې، وړاندیزونو او د مأخذونو لړلیک ته شامله ده.

**سریزه**

الحمد لله الذي جعل المساجد منارات الحق و الهدٰی، وانار سُبُل الهدایة فیها لمن اجتهد وسعٰی، والصلاة و السلام علی محمد المصطفٰی الذي بنٰی مسجد قباء وعلی آله و اصحابه الذین في أیدیهم ألویة الهُدٰی.

و بعد: دعلومو اکاډمي غونډتې وه د بشري علومو د معاونیت په چوکاټ کې یو مهم علمي- څېړنېز سمینار (**د افغانستان د پرمختگ لار**) تر سرلیک لاندې چې د علمي شورا څخه منظور شوی ؤ دایر کړي؛ تر څو څېړونکي او پوهان پکې د خپلو قلمونو نیلی و ځغلوي او د علم په دغه ډگر کې د قلم په نوکه داسې حقیقتونه ټولنې ته څرگند او راوسپړي چې یا د تېر تاریخ په پټو خزانو کې پټ ؤ باید ښکاره شي او یا داسې کانې رابرسیره کړي چې د چا ورته پام نه ؤ او باید ورته پام یې شي، او یا داسې پندونو ته اشاره وکړي چې مونږ خپل اوسني وضعیت ته په پام سره تېر هېر نکړو او خپل راتلونکی د خپلې روښانې ماضي سره ونښلوو او د تېر او اوسني پېر رښتینی انځور راتلونکو نسلونو ته ولېږدوو، چې یو له هغو مواردو څخه د هېواد په بډاینه او ښیرازۍ کې د جوماتونو رول دی. دا چې جوماتونه د هېواد په علمي او کلتوري پرمختگ کې څومره رغنده رول او برخه درلوده او یا یې اوس هم لري د څېړنې وړ خبره ده، د الله تعالی له دربار څخه غواړم چې ما ته توفیق راکړي

ترڅو د جوماتونو او د هغو د علمي او کلتوري بډاينې رول په سمه توګه دوستانو ته بيان او تشريح کړم او هغوی ترې ګټه پورته کړي.

نو ما هم وپتيله چې په دغه موضوع کې د خپل توان په اندازه (**د افغانستان په علمي او کلتوري بډاينه کې د جوماتونه رول**) تر سرليک لاندې يوه مقاله وليکم چې زما بحث به ان شاء الله په لاندې محورونو راڅرخيږي او لاندې مباحث به لري:

جومات يا مسجد د علم او پوهې د مرکز په حيث

علمي بډاينه د مادي بډاينې پيلامه

کلتوري بډاينه په هېواد کې د استقرار او ترقۍ د لامل په توګه

زمونږ په ګران هېواد کې د اوسني عصر اړتيا

**د څېړنې اهميت او مبرميت**

د دې څېړنې اهميت او مبرميت دا دی چې د جومات او مسجد مقام او منزلت څرګند شي او په ټولنه کې د جومات له کبله د علمي او کلتوري بډاينې او ټولنيز ټينګښت رول ښکاره شي.

بل دا چې جومات او مسجد يو داسې عبادتي او ديني کمپلکس او مؤسسه ده چې د تاريخ په اوږدو يې ستر شخصيتونه او مهم رجال ټولنې ته وړاندې کړي دي، او لا يې هم وړاندې کوي.

**د څېړنې موخې**

د افغانستان په علمي او کلتوري بډاينې او پرمختګ کې د جومات د رول پيژندنه، چې له پخوا راهيسې د جومات له فضاء څخه اعظمي ګټه اخيستل کېده، او اوس هم بايد د ماضي په څېر په دې اړه رغنده قدمونه پورته شي او جومات د علم په خپراوي کې يو ځل بيا وځلېږي.

**د څېړنې پوښتنه:** د هېواد په پرمختګ کې جوماتونه څه ونډه لري؟

**د څېړنې مېتود**

په دې څېړنه کې له تحليلي - توصيفي مېتود څخه کار اخيستل شوی دی.

## ۱- جومات یا مسجد د علم او پوهې د مرکز په حیث

جوماتونه او مساجد په ځمکه کې د هدایت مشالونه دي چې د الله تعالی د عبادت او یاد لپاره ځانګړي شوي،چې باید هغه پاک او سوتره و ساتل شي او د آدابو مسایل یې وخت په وخت خلکو سره شریک شي، الله تعالی فرمایي: [وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا] (۱).(او دا چې جوماتونه د الله تعالی لپاره دي؛ نو له دې کبله په هغو کې له الله تعالی سره کوم بل څوک مه بلئ).

په قرآن کریم د الله تعالی د عبادت ځایونه په مختلفو نومونو کله په صریح لفظ سره او کله په ضمیر سره یاد شوي دي لکه د **(أَوَّلَ بَيْتٍ)** آل عمران:۹٦ یاپه **(البیت)** البقرة: ۱۲۷یا په**(المسجد)** الاسراء:۷ یا په**(المسجد الحرام)** البقرة:۱۵۰ یا په**( المساجد)** البقرة: ۱۸۷یا د **(الكعبة)** المائدة:۹۵ په کلمې سره یې ذکر شوی دی، دا ټول په دې دلالت کوي چې قرآن کریم بشریت داسې هیڅ په هیڅ چې لاره ورته ونه ښودل شي نه دی پریښی، بلکې د دوی لپاره یې محور او د اسرې ځای ټاکلی دی؛ ترڅو دوی بې لارې نشي او بل دا چې د جوماتونو او مساجدو په لور د قرآن کریم اهتمام او پاملرنه ده.

همدا راز په نبوي احادیثوکې تر قرآن کریم په زیات تفصیل سره د جوماتونو یادونه شوې او د جوماتونو او عبادت ځایونو ډېره زیاته یادونه په مختلفو الفاظو او تعبیراتو ترسره شوې ده او په دې اړه ډېره هڅونه او تشویق راغلی دی، جومات جوړونه د ایمان نښه ګڼل شوې او چا چې څومره جومات جوړ کړ الله تعالی ورته د هغه په عوض په جنت کې کور جوړوي، نو د هغو خلکو په حال دې برکت وي چې دوی په خپل ژوند کې داسې ستر ستر کارونه ترسره کوي او نبي (صلی الله علیه و سلم) مبارک جومات جوړولو ته لومړیتوب ورکاوه د هجرت په تاریخي سفرکې چې په نړۍ کې هغه د یو ستر تحول پیلامه وه، لومړی یې د قباء جومات او ورپسې یې د نبوي جومات آبادي ترسره کړه او په خپله به رسول الله مبارک د صحابه کرامو (رضی الله عنهم)

سره د جومات د اعمار او آبادۍ په چارو کې برخه اخیستله، او د جماتونو په اړه څه ښه فرمایي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ:«الْمَسَاجِدُ بُيُوتُ اللَّهِ فِي الأَرْضِ، تُضِيءُ لأَهْلِ السَّمَاءِ كَمَا تُضِيءُ نُجُومُ السَّمَاءِ لأَهْلِ الأَرْضِ»[٣](له ابن عباس (رضی الله عنهما) څخه روایت دی وایي:جوماتونه په ځمکه کې د الله تعالی کورونه دي، چې د آسمان والاو ته داسې روښنايي او رڼا کوي لکه ستوري چې د ځمکې خلکو ته روښنايي کوی).

په احادیثو کې د جومات جوړولو او د جوماتونو د اعمار او پاک ساتنې او د هغو د تنویر او رڼا کولو په اړه د رسول الله (صلی الله علیه و سلم) او د سلف صالحینو په ویناو کې ډېر څه لرو، البته دایې ځای نه دی او د دې مقالې له حوصلې څخه هم بهر دی.

رسول الله (صلی الله علیه و سلم) د جوماتونو د جوړونې په اړه ډېر ترغیب او تشویق ورکړی دی فرمایي:« مَنْ بَنَى لِلَّهِ مَسْجِدًا بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ»[٤](چا چې د الله تعالی په خاطر جومات جوړ کړ الله تعالی به ورته په جنت کې کور جوړ کړي).

احادیث په دې هکله ډېر زیات دي، ان خبره تردې رسېږي چې رسول الله (صلی الله علیه و سلم)امر کړی دی چې په کورونو کې د لمانځه او عبادت لپاره ځانګړي ځایونه او جوماتونه جوړ او په ښه ډول يې پاک او نبنه کړئ فرمایي:« أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ فِي الدُّورِ»[٥](نبي (صلی الله علیه و سلم)په کورونو کې د جومات د جوړولو امر کړی دی).

او دا هم ډېره ښه خبره ده چې په کور کې یو ځای د لمانځه، عبادت، ذکر او تلاوت او رازو نیاز لپاره ځانګړی شي پاک، سوتره او معطر وساتل شي او په ښه خلاص زړه او په اخلاص سره هم هلته د خپل رب عبادت ترسره شي، په دې سره به دغه شخص د خپلو بچیانو، لورانو او لمسیانو لپاره ښه بیلګه وګرځي.

**مساجد:** د مَسْجِدجمع د (جِ)په زیر سره هغه ځانګړی ځای(جومات) ترې مراد دی، او د(جَ) په زورسره د سجدې ځای چې په ځمکه د جبهې او وچولي د لګېدو ځای دی[٦].او مسجد دسَجَدَ یَسجُد سُجُوداً له باب څخه دی یعنې:خپله جبهه او وچولی یې په ځمکه کېښود، او سَجَدَ دخضع په معنا ده چې له دې څخه سُجُودُ الصَّلاةِ هم مراد دی او هغه هم خپله جبهه او وچولی په ځمکه ایښودل دي چې تر دې لویه خضوع شتون نه لري[٧].

په تاریخي لحاظ لومړی بیت او ځای چې د عبادت لپاره ایښودل شوی دی هغه کعبه او بیت الله شریف دی، الله تعالی فرمایي:[ إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ] [٨] بیا تر مسجدالحرام وروسته بیت المقدس دی په تفسیر روح المعاني کې د دې آیت په تفسیر کې راغلي دي چې له رسول الله (صلی الله علیه و سلم) څخه د لومړي کور په اړه چې د خلکو لپاره ایښودل شوی دی وپوښتل شول؟ هغه وفرمایل:مسجد حرام او بیا بیت المقدس بیا چا وویل: چې د دوی دواړه تر منځ څومره واټن وو؟ نو هغه (صلی الله علیه و سلم) وفرمایل: څلویښت کاله [٩].

په سنن ابن ماجه کې بیا تر مخکني مطلب وروسته داسې راغلي دي چې ګرده ځمکه ستا د لمانځه لپاره جومات دی فرمایي:«ثُمَّ الأَرْضُ لَكَ مُصَلًّى فَصَلِّ حَيْثُ مَا أَدْرَكَتْكَ الصَّلاَةُ »[١٠](بیا ټوله ځمکه د تا لپاره لمونځای دی نو چیرته چې د لمانځه وخت درته راغی لمونځ کوه).او دا د دې امت د نبي (صلی الله علیه و سلم) خصوصیت او ځانګړنه ده، چې د مخکنیو امتونو برعکس د عبادتځای نه پرته د ځمکې په هره برخه کې چې پاکه وي لمونځ یې کېږي«وَجُعِلَتْ لِيَ الأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا وَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلاَةُ فَلْيُصَلِّ »[١١].

مسلمان فاتحان به په نړۍ کې د اسلام دین په نامه وړاندې تلل، او هر چیرته به چې ورسیدل، په لومړي ځل به یې د یو او لایزال الله تعالی د عبادت لپاره جومات جوړاوه[١٢]. چې په دغه بحث کې چې د مساجدو تر سرلیک

لاندې دی: د هرات جامع جومات، د بلخ مسجد، د زرنج مسجد، د غزنه مسجد، او د قتبیه مسجد چې په اسکیمشت( اشکمش) کلي کې یې د قتبیه بن مسلم باهلي له خوا د یوې چینې ترځنګ د لومړۍ هجري پیړۍ په وروستۍ ربعه کې جوړ شوی ؤ یادونه یې شوې ده[۱۳].

په کابل کې لومړی جومات چې تر اسلامي فتحې وروسته د عبدالرحمن بن اشعث په لاس د شاه دوشمشیره (رحمه الله) د زیارت تر څنګ اعمار کړ، چې اوس دغه جومات د شاه دوشمشیره (رحمه الله) په جومات مشهور دی، بیا ځل آبادي یې د نصیر الدین همایون بن بابرشاه لخوا او بیا په اماني دوره کې نوی شو[۱٤].

جوماتونه اوس هم په دې وروستیو کلونو کې ډېر نوي اعمار شول او ځینې پخواني جوماتونه بیرته له سره جوړ شول، پراخه شول او یا ورغول شول، او د لمونځ کوونکو د ډېروالي او کثرت په خاطر ورته توسعه ورکول کېږي او دا کار روان دی، دا یو نیک فال دی چې په دې کړیدلې هېواد کې د ستونزو او مشکلاتو سره سره چې دا څو لسیزې یې ګالي بیا هم د اسلام او اسلامي ارزښتونو سره مینه لري او د جومات او د هغه د اهل په چوپړ کې دي.

الحمد لله نن سبا جومات یا مسجد دغه د علم او پوهې مرکز یو ځانګړی مقام لري په ټولنه کې چې هر ډول خلک اوسي خو هغوی دغه مرکز ته په تقدس قایل دی، خپل اولادونه هلته لیږي، چې زده کړه وکړي، د مور پلار، ټولنې د مشر او کشر سره د تعامل آداب وپیژني، د الف با تورو سره اشنا شي، هغه زده کړي، ښه تلفظ یې یاد کړي، چې همدا دعلم او پوهې بنسټ ګڼل کېږي، او رفته رفته د هېواد د ترقۍ په لاره روانول کوي؛ ځکه وطن او هېواد له علم او پوهې پرته نشي آبادیدلی، نو د ددې نخ د تار سر په جومات او مسجد پورې تړلی دی، او د هېواد ترقي او پرمختګ په علم او پوهې پورې تړاو لري نو دا خبره لاجوتېږي چې د علم او پوهې او د ترقۍ لاره له مسجد او جومات څخه پیلیږي .

## ۲- علمي بڼاينه د مادي بڼاينې پيلامه

پخوا په جومات او مسجد کې به يواځې د عبادت چارې نه ترسره کېدې بلکې هر جومات به د ښوونې روزنې د پياوړي مرکز په څير کاريده د قرآن کريم زده کړه، د نبوي احاديثو زده کړه د نورو ګڼورو علومو زده کړه به پکې په ډېر اهتمام او توجه ترسره کېدله، دا ټول د دې په خاطر چې د نړۍ ټول جوماتونه او په ځانګړې توګه د افغانستان جوماتونه د امام جومات( نبوي مسجد) په پيروۍ روان دي او نبوي جومات او همدا راز مسجد حرام تر ننه پورې د علم په حلقاتو منور او روښانه دي، د رسول الله (صلى الله عليه و سلم)جومات د پوره ټولنېز جوړښت،کورنۍ، او د مؤمنانو د داسې جماعت او ټولګي جوړونه پکې وشوه چې پاکه سوتره عقيده يې لرله، د جاهليت عصبيتونه يې شاته وغورځول د رسول(صلى الله عليه و سلم) او صحابه کرامو ژوند په جومات کې داسې تېريده، لمونځ به يې پکې کاوه، علم به يې هلته ترلاسه کاوه، د دين او دنيا په ټولو چارو کې به يې يو بل سره مشورې کولې، معاهدې او تړونونه به يې هلته سره تړل، د دولتونو او قبايلو وفدونه به يې پکې استقبالول، له همدې جومات څخه د عوت او جهاد لپاره لښکرې استول کېدې، لواوې او بيرغونه  به تړل کېدل، نو رسول الله (صلى الله عليه و سلم) جومات په داسې ښه غوښته چې د اسلام چارې پکې په پوره توګه دين او دنيا دواړه پکې تر سره شي، د علم حلقې به د قباء په جومات کې ترسره کېدې، او د رسول الله (صلى الله عليه و سلم) به دا عادت مبارک ؤ چې په نبوي جومات کې به کښيناسته ترڅو خپلو اصحابو ته د دين او دنيا چاري وروښيي[۱۵].ځکه اصل خو د دين چارې دي او د دنيا چارې هم بايد په شرعي توګه سمبال شي؛ تر څو په معاملاتو،سياست او تجارت کې سمونه او بڼاينه راشي.

جومات د ښوونې او روزنې لپاره ښه فرصت دی چې بايد ترېنه ښه ګټه پورته شي؛ ځکه دغسې فرصت چې لويو او وړو ښځو او نرو ته ميسر وي، داسې په کم لګښت او لږ وخت ورکولو سره مونږ کولی شو ډېره ګټه لاسته

راوړو او داسې کار یواځې ښه اداره او سم منجمنټ غواړي، چې د جومات د اهالیو په منځ کې یوه سروې وشي چې: څوک څه ډول وړتیا لري چې هغه ټولنې ته وړاندې کړي او کوم وخت ورکولی شي، په دې سره د علم او وخت زکات ادا او ګټه او فایده به یې عامه شي، د بیلګې په ډول یو څوک په تجوید کې مهارت لري، بل په تفسیر، حدیث، فقه، سیرت او اسلامي مسایلو کې، بل په عربي ژبه کې، په ریاضي، په پښتو ادبیاتو کې ، په دري ادبیاتو کې، په کیمیا کې، په بیالوژي کې یو څوک په عروضو او عربي ادبیاتو کې بل په ساینسي علومو کې بل په سیاست، حقوقو کې، تاریخ، جغرافیه او عمومي ساینس کې، په تخنیکي چارو او نورو حرفوي چارو کې لکه: خطاطي، نقاشي، املاء او انشاء، نورو مهارتونو او یا تخنیکونو کې مهارت لري، په کار ده چې د علم زکات وباسي او شته علم او پوهه ګور ته یونسي، د یو ښه مدیر او باتدبیره شخص په ابتکار او د خلکو په پوهولو سره د جومات له فضاء څخه سمه او ارزښناکه استفاده وشي د مسجد او جومات رول د پخوا په څیر چې د عصري تعلیم له رواج نه وړاندې همدغو جوماتونو ستر رول ادا کړی دی او پخې پخې علمي ستې لکه: نافع کابلي، مکحول کابلی، امام ابوحنیفه، ابوداؤد سجستاني، ابن حبان بُستي، قُتبیه بن سعید بغلاني، طبیب ابن سینای بلخي، امام فخرالدین رازي، خواجه عبدالله انصاري، ملا علي قاري هروي، مولانا جلال الدین محمد بلخي رومي، مولانا عبدالرحمن جامي، حکیم سنایي غزنوي، سید جمال الدین افغاني،عبدالرحمن بابا، خوشحال خان خټک، عبدالحمید ماشوخیل، ګل پاچا الفت، قیام الدین خادم او داسې سل ګونه او زرګونه نور د جومات په روحاني غېږ کې روزل شوي او د ټولنې او خلکو خدمت یې کړی دی.

راځئ! یو ځل بیا چې اوس د اشغال د ختمیدو نه وروسته د اسلامي امارت په شتون سره یو ښه طلایي فرصت منځته راغلی دی، د جومات رول همغسې چې د نبي صلی الله علیه و سلم په دور کې یې درلود یو ځل بیا را ژوندی

کړو، ترڅو له دې مبارک ځای څخه همغسې مخلص، پرهيزګاره پوهان او د ژوند په ټولو چارو کې متخصصين، روزل شوی کادرونه او وړ خلک ټولنې ته د ښه خدمت په موخه تقديم کړو.

په واقعيت کې د انسان لپاره پنځه داسې مؤثر روزنځايونه او د روزنې چاپيريالونه دي چې له دغو ځايونو څخه انسان زده کړه کوي او تاثر ترې اخلي دغه پنځه ځايونه په لاندې توګه خلاصه کېږي:

**أ- کورنۍ** هغه لومړنی اغېزمن محيط او ځای دی چې انسان تر هرڅه وړاندې د مور پلار مينه، عاطفه او محبت او ورپسې چې دوی څه زده ولري- په ځانګړې توګه ليک لوست والا ميندې ـ هغه خپل اولاد ته انتقالوي، نو څه ډول اخلاق چې مور او پلار يې لري هرومرو دوی ترې اغېز اخلي.

**ب- جومات** د عبادت او لمانځه ترڅنګ د ښوونې او روزنې لپاره ډېر غوره او ښه چاپيريال دی، په لږ لګښت او کم وخت کې د ښه مديريت په نتيجه کې ډېر څه ترلاسه کېږي، ليک لوست پکې زده کېږي او بې سوادي پکې ختمېږي، پخوا به په جوماتونو کې د قرآن کريم تر زده کړې وروسته به پنج ګنج، ګلستان او نور د فارسي ادب کتابونه، يا رشيد البيان او جنتي کالی به لوستل کېدل چې ډېر ګټور تماميدل، د خطابې او انجمن چارې پکې ترسره کېږي، په دې سره د خبرو کولو جرأت او مهارت پيدا کېږي چې ورسره د اسلامي دعوت او بلنې چارې په اسانۍ سره پر مخ بيول کېږي، او ډېرو خلکو د هغه سواد يا ليک لوست نه چې په جومات کې زده کړی ؤ د ژوند چارې پرې روانولې.

**ج- مدرسه** يا ښوونځی په اسلام کې د نورو امتونو له ښوونځيو څخه توپير لري، دلته مدرسه د جومات نه پيل شوې او يا د جومات په څنګ کې يې ښېرازي او سمسورتيا موندلې ده، او ښوونه او روزنه د هر مسلمان حق دی، نه د يو خاص پاټکي او طبقې حق، بلکې مدرسه د جومات څخه په بېلېدو سره يې مسئوليت زيات شوی دی، دا بايد يو داسې چاپيريال وي چې د پوره

عقلي، بدني، عاطفي او وجداني روزنې وسیله وګرځي او یوازې د معلوماتو او معارفو په انتقال باندې بسنه و نه شي، نو که زمونږ ښوونځي په واقعیت کې داسې روحیه ولري په رښتیا بیا نو ښوونځی جومات او جومات ښوونځی دی.

**د- ټولنه** یو داسې مهم چوکاټ دی چې مسلمان ماشوم له خپلو ټولنېزو روزنېزو مؤسسو لکه کورنۍ، جومات او مدرسه یا ښوونځي څخه لیرې نه وي، حتما د ټولنې له رغنده کړنو او سلوک نه ګټه پورته کوي، لکه څرنګه چې مسلمانه ټولنه له نورو ټولنو څخه ځانګړې ده همدا راز مسلمان فرد او وګړی هم د نورو غیر مسلمو وګړو څخه باید توپیر ولري، ځکه دی د یوې سالمې ګروهې خاوند دی چې خپل خالق، او پیغمبر او کائناتو سره د هغې په رڼا کې تعامل کوي او دا هغه ارزښتونه دي چې بشر پرې تلل کېږي.

**هـ- وراثت** او جینتکي خواص، اوسني علم دا ثابته کړې ده چې ماشومان د خپل مور پلار څخه لکه څرنګه د دوی شکلي صفتونه خپلوي همدا راز د هغوی او یا د هغوی د اصولو ځانګړنې او جنیتیکي خاصیتونه هم خپلوي که څه هم چې هغوی له دوی سره ډېر اوږد واټن ولري[١٦]، نو مشرانو او مسئولینو ته پکار دي چې د راتلونکي ښه نسل او کهول لپاره دغو مثبتو ټکو ته ښه توجه او پوره پاملرنه وکړي؛ تر څو مو د دنیا او آخرت نیمکرغي په برخه شي، او ټولنه مو په هر اړخیزه توګه بډاینه او پرمختګ حاصل کړي.

**۳- کلتوري بډاینه په هېواد کې د استقرار او ترقۍ د لامل په توګه**

دا څرګنده خبره ده چې تر اسلام وړاندې زمونږ په ګران هېواد کې ډېر فرهنګونه تېر شوي او دغه خِطه په جغرافیوي لحاظ له پخوا نه د فرهنګونو د مزج او اختلاط ټاټوبی ؤ لکه ویدي، اوستایي، بودایي، یوناني، کوشاني ساساني، یفتلي، افغاني، نو ځکه انګلیسي فیلسوف او تاریخ لیکونکي تاینبي په خپل نوي کتاب(بین اکسوس و جیلم) کې دې پایلې ته رسیدلی دی وایي:«افغانستان د فرهنګونو د تشعشع خطه وه او زرګونو کلونه یې هغه څه چې لرل یې او یا له باندې څنډو ورته رسیدلي وو خپل ماحول هند، ایران

ماوراء النهر او مرکزي آسیا ته خپاره کړي دي»[۱۷] چې د اسلام مبارک دین په راتګ سره اسلامي ثقافت د افغاني کلتور د بډاینې او پرمختګ ذریعه وګرځید او د اسلام ستر پیغمبر محمد مصطفی (صلی الله علیه و سلم) د دې لپاره استول شوی ؤ چې ښه اخلاق تکمیل او پوره کړي، رسول الله (صلی الله علیه و سلم) فرمایي:« **إِنَّمَا بُعِثْتُ لأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الأَخْلاَقِ**»[۱۸](خبره دا ده بله نده زه د ښو اخلاقو د پوره کولو په خاطر استول شوی یم).

د نورو کلتورونو رغنده ټکي تأییدول او د ټولنو په ښیرازۍ او سمسورتیا کې ترښه ګټه اخیستل یو منل شوی ګام دی چې د اسلام په راتګ سره افغاني کلتور په دې خاوره کې لا بډایه شو او پرمختګ یې وکړ او له دې سیمې ځخه شاوخوا نورو سیمو ته د علماو او پوهانو له خوا خپور شوی هم دی، چې جومات او مسجد پکې زیات رغنده رول لوبولی دی؛ ځکه هغه مهال که مدرسه وه یا ښوونځی ؤ سر کلاوه یې له جومات سره تړلې وه، سیاسي، علمي، کلتوري او ادبي شخصیتونه به له همدې علمي کلتوري او عبادتي کانون ځخه فارغیدل او له فتوحاتو او سوبو سره سره به جوماتونه زیاتیدل او ورسره به، قرآن کریم، عربي ژبه، لیک لوست او کلتور غښتلی او پیاوړی کېده او فرهنګی راکړه ورکړه په پرله پسې توګه مخ په وړاندې روانه وه.

همدا وجه وه چې د مسجد له برکته مختلفو علومو لکه: تفسیر، حدیث، علوم قرآن، علوم حدیث،علم الرجال،علم الاسناد، فقه، اصول فقه،تعبیر رؤیا، تجوید، آواز پیژندنه(بغدادي قاعده)،عربي،پښتو، دري ادبیات، بلاغت، معانی، بدیع، بیان، عروض، قافیه، منطق، فلسفه، طب، هندسه،کیمیا، جغرافیه، فلکیات، حساب، ریاضي او نورو طبیعي، بشري او اسلامي علومو د سیمې لهجو، ژبو او کلتور ته نوې بڼه او رنګ ورکړ، چې په دې نږدې وختونو د رحمان بابا د دیوان او د مولانای روم مثنوي لوستل په ځینو ځایو کې رواج شوی ؤ.

**۴- د هېواد په ټولنېز جوړښت او پاېښت کې د جوماتونو رول**

جوماتونه او په ځانګړې توګه جامع جوماتونه زمونږ د هېواد او ټولنې په ټولنيز جوړښت او پايښت کې څه ونډه لري؟ دا خبره ښکاره او جوته ده چې جومات ته د الله تعالی د کور تشريفاً نسبت کېږي او جومات د الله تعالی د عبادت، ذکر او د علومو زده کړې لپاره ټاکل شوی ځای دی، نو په کار خو دا ده چې په دې اړه د خلکو پوهاوی زيات شي، او خلک په دې موضوع وپوهول شي چې جومات يوازې د پنځه وخته لمانځه لپاره نه دی ټاکل شوی؛ بلکې مسجد او جومات د ټولنېزو اړيکو د ټينګښت او پايښت لپاره يوه کاري وسيله ده. د بېلګې په توګه ډېرې کمې ټولنې به داسې وي چې د مسلمانانو په څېر په شپه ورځ کې پنځه وخته يو بل سره له نږدې ويني او د هغوی له ښو بدو څخه به په ډېرې اسانۍ خبرېږي، که څوک وفات شوی وي د هغه د جنازې حق په آسانه ادا کېږي، او که څوک ناروغ شوی وي د هغه د عيادت چارې ښې ترسره کېږي، او که د چا د واده،کوژدې، عقيقې، مبارکۍ يا د بلې ښادۍ مساله وي هغه هم په آسانه حل کېږي، ماشومان په ډېر کم او لږ وخت کې د ښوونې او روزنې جوګه کېږي؛ ځکه جومات د وړکتون په څېر د کمکيانو د زده کړې لپاره جالب او کم مصرفه رول ادا کوي، هغوی ادب او د لويانو سره د ناستې پاستې طريقې زده کوي، جرأت يې زياتېږي، او د تکامل په لور پرمختګ کوي، دا خو د کلي کور د جومات په برکت تر سره کېږي، او د سترې سيمې او منطقې لپاره بيا په اونۍ کې د جمعې جامع جومات يوه بله ښوونيزه او روزنيزه وسيله ده چې هلته د نورو ډېرو کلو او باندو څخه وګړي راغونډېږي، په پوره پاکوالي او نظافت سره په دغه اونيزه اختريزه غونډه او لمانځه کې برخه اخلي د جمعې خطبه اوري ذهنونه يې پرې تنوير او روښانه کېږي، د يوې سترې سيمې د خلکو په منځ کې ټولنيزې اړيکي لاپسې پياوړې کېږي او له ښو بدو څخه په خپلو کې سره خبرېږي، بيا په کال کې دوه کلنۍ سترې اختريزې غونډې د کمکي اختر او ستر يا لوی اختر په ورځو کې تر جُمعې

غټې غونډې او مراسم نيول کېږي او په دې سره ځينې خلک خپل دوستان په کال کې سره ګوري او اړيکې ورسره ټينګوي چې په دې غونډو کې د عيدګاه د جوماتونو رول  په ډاګه معلوميږي او ورپسې عمري بين المللی د حج او عمرې غونډه چې د هېواد په کچه د حج په مراسمو کې له نورو اسلامي هېوادونو سره په علمي او کلتوري راکړه ورکړه کې برخه اخلي، او دغه سپيڅلی سفر د حج وي او که دعمرې د مسلمانانو د بين المللي ټولنېزو اړيکو د ټينګښت او پياوړتيا لپاره ډېر مهم دی.

تر هرڅه اخوا يواځې دغه ټولنېز ټينګښت چې موږ يې انځوروو، چې په يوه صف کې، تور له  سپين سره،  بډای له فقير او نيستمن سره څنګ په څنګ ودرېږي او د دوی دواړو په منځ کې کوم توپېر او تبعيض نه حس کېږي او ټول د يو الله تعالی دربار ته اوږه په اوږه ولاړ دي خپل عذر او تقصير هغه( جل جلاله) ته وړاندې کوي له دې انځور نه به زيات د مساوات او ټولنېز ټينګښت بل کوم انځور وي؟ چې په بشري ټولنو کې په دغه نظم او ترتيب سره ترسره شوی يا ترسره کېږي موږ ته راوښايي، چې له ديني مسايلو سره سره د کلتور بډاينه او سمسورتيا هم ورسره جوخته روانه وي، او دين او دنيا دواړه يو بل سره تکميلوي.

**۵- زمونږ په ګران هېواد کې د اوسني عصر اړتيا**

دا خو ښکاره خبره ده چې د هرې ټولنې په ځانګړې توګه د افغانستان پرمختګ لپاره علم ته اړتيا ده هغه علم د ژوند په ټولو ساحو کې، په داسې توګه چې د دين او دنيا چارې د علم او پوهې په رڼا کې سمبال، مرتب او په مخ ولاړ شي، مونږ ته الله تعالی داسې دين را په برخه کړی دی چې د وحی لومړی پيـل يې په ( **اقْرَأْ**] [۱۹]شوی دی، يعنې ولوله! او د لوست او ليک پيل د حروفو، تورو او قلم په ذريعه کېږي، دا چې دومره علم پر هر نارينه او ښځينه باندې فرض دی چې په شپه ورځ(۲۴څلورويشته ساعته ژوند) کې حلال او حرام سره و پيژني، حلال تر سره کړي او له حرامو څخه ځان وساتي، او بيا

ورپسې د ژوند اړوند د نورو علومو زده کړه او یا په شرعي علومو کې د تخصص تر کچې پورې ځان رسول فرض کفایي بلل کېږي، په اوسني وخت کې مونږ د علم په ټولو شعبو او څانګو کې زده کړو ته اړتیا لرو؛ تر څو مونږ وکولی شو د خپل هېواد د پرمختګ لار باندې تګ ته ځانونه عیار او چمتو کړو، دا د نیمې پیړۍ دربدرۍ او ناخوالې جبران کړو، دا چار په آسانه نه ترلاسه کېږي، په علم باندې پسوللی هوډ او زیار غواړي؛ نو د لومړنیو او ابتدائي زده کړو لپاره ښه محیط او چاپیریال مسجد او جومات دی، که اسلامي امارت وغواړي د ارشاد، حج او اوقاف محترم وزارت له لارې د جوماتونو لپاره د پوهانو او متخصصینو په مشوره داسې نصاب وټاکي چې په کې له کمکیانو څخه نیولې تر لویانو پورې(نارینه او ښځینه) وکولی شي چې قرآن کریم، ناظره، تجوید، فقه، تفسیر، حدیث، اخلاق او نور علوم په پوره ډاډمنه فضاء کې، کورونو ته نږدې، په لږ مصرف او د جومات له شته ځای او فرصت نه په اعظمي ګټې اخیستنې سره ترلاسه او په ډېر کم وخت کې د ولس د سواد کچه لوړه کړي، او دېته لنډ مهاله، منځمهاله او اوږدمهاله پلان او موخه و ټاکي، هڅه وشي چې د خپل هېواد د سواد کچه په کمه موده ٪۱۰۰ ته لوړه کړو او هغه به د لوی اختر ورځ وي چې زمونږ په دې کړیدلي ولس نالوستي توب صفر٪ شي، نو ورسره به ولس د عباداتو په خوند ښه پوه شي، لمونځونه به یې سم شي، اخلاق او اسلامي آداب او د سهار ماښام اذکار به زده کړي، او بله دا چې له دې لارې به ډېرو وګړو ته کاري فرصتونه پیدا شي، او زموږ دغه متواضع جهد او کوښښ به ان شاء الله رنګ راوړي او په زړه پورې ښه نتیجه به ورکړي، هېواد به مو ښیرازه، په علم سمبال، پرمختللی او د نورو سیال وي.

**پایلې**

له دې لنډ بحث څخه دې پایلې ته رسېږو چې جومات او مسجد د اسلام له مهمو مؤسسو څخه یو داسې کمپلکس دی چې عبادتي، دیني، ښوونیزې او

روزنیزې چارې پکې ترسره کېږي؛ نو لږې پاملرنې او توجه ته اړتیا ده، چې له جومات څخه د علم او پوهې د مرکز په حیث کار واخیستل شي.

د اسلامي معمارۍ له کبله کلو، باندېو او ښارونو ته جوماتونو ځانګړې ښکلا وربښلې ده ، نو په علم سره د هغو د مادي ښکلا تر څنګ  په ښه مدیریت سره له دغو دیني مؤسسو ، د الله تعالی له راکړي فرصت او ځای څخه پوره ګټه پورته کولو سره په هېواد د علمي بډاینې په مټ مادي بډاینه هم راځي.

جوماتونه که له سهاره نه تر ماښامه پورې پوره په، عبادت، ذکر، تلاوت، علم، تعلیم او تعلم، ښوونې او روزنې باندې مصروف او معمور شي، تل جومات په علمي حلقو، درسونو  آباد وساتو، جوماتونه که سمسورې فراخې ساحې چې ګلان، چمن او نور د ناستې لپاره کافي ساحه ولري،کتابتون، د درس خونې او د غم ښادۍ لپاره ښه د غونډې صالون ولري، د ښځینه و او نارینه و لپاره د زده کړې بیل بیل وختونه  او ځایونه و ټاکل شي، د نکاح ګانو تړل باید په متواضعانه ډول په جومات کې ترسره شي خپله په مرور د زمان سره دغه چارې د دیني او کلتوري بډاینې، د هیوادني استقرار او پرمختګ لامل ګرځي.

زمونږ د اوسني عصر اړتیا دا ده چې د جوماتونو  ښاغلي امامان، خطیبان، حافظان مؤذنان او نور خدماتي پرسونل باید په پوره اخلاص او امانت سره د جومات په چارو کې جدي وي او د جومات د آبادۍ او سمسورتیا او په علم، ذکر او عبادت یې آبادولو ته پوره توجه ولري.

په افغانستان کې د جوماتونو په اړه ما داسې یو جامع بحث، رساله او کتاب ونه لېده چې د جوماتونو حق یې پوره کړی وي، نو جومات د یوې دینې مؤسسې په بڼه په ټولنه کې د یو داسې واقعي مشال په توګه که عرض اندام وکړي؛ نو د ټولو ښیګڼو سرچینه به وګرځي، ان شاء الله همداسې به کېږي.

**وړاندیزونه**

د جوماتونو د ښیرازۍ او سمسورتیا او په عباداتو، ښوونه او روزنه او د علمي او کلتوري بډاینې په موخه د جوماتونو د ښه رول ادا کولو لپاره چارواکو او مسئولنیو ته دغه لاندې وړاندیزونه وړاندې کیږي:

۱- د افغانستان اسلامي امارت محترم مشرتابه ته وړاندیز دی چې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت له لارې د جوماتونو لپاره د پوهانو او متخصصینو په مشوره داسې نصاب وټاکي چې په کې له کمکیانو څخه نیولې تر لویانو پورې(نارینه او ښځینه) وکولی شی چې قرآن کریم، ناظره، تجوید، فقه، تفسیر، حدیث، اخلاق او نور علوم په پوره ډاډمنه فضاء کې، خپلو کورونو ته نږدې، په لږ مصرف او د جومات له شته ځای نه په اعظمي ګټې اخیستنې سره ترلاسه او په ډېر کم وخت کې د ولس د سواد کچه لوړه کړي.

۲- د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته وړاندیز کیږي چې د اسلامي دعوت په موخه او د ګرځندوی صنعت لپاره د اسلامي تاریخي آثارو په ځانګړې توګه د تاریخي مسجدونو او جوماتونو د ښې پېژندنې په موخه د افغانستان د تاریخي جوماتونو د ښه پیژندګلوۍ انځوریز او معلوماتی رسالې او لارښود ولري.

۳- د ارشاد، حج او اوقاف او د پوهنې وزارتونو ته وړاندیز دی چې د جومات او مدرسې د اړیکو د ټینګښت په موخه داسې تقویتي نصاب د جوماتونو لپاره جوړ کړي چې ښوونځی جومات اوجومات ښوونځي سره یو بل تکمیل کړي، او یو د بل په ملاتړ وکارول شي.

٤- د ارشاد، حج او اوقاف وزارت ته وړاندېز دی چې د جوماتونو د چارو د ښه سمبالښت لپاره د امامانو او مؤذنانو په روزولو او ګمارلو کې وړتیا او اهلیت په پام کې ونیسي او د امامانو د روزنې انسټیټوټ یا د لوړو زده کړو په کچه ترتیبات ونیسي، تر څو هغوی وړ او د ټولنې په درد دردمن او پوه خلک وګمارل شي او د هغوی اقتصادي کفالت په سمه توګه ترسره شي.

۵- ښاغلو امامانو او خطیبانو ته وړاندېز دی چې د مسئولیت د سترتوب له کبله خپل دغه مسند او مسئوولیت ته لکه څنګه چې امام الانبیاء محمد (صلی الله علیه و سلم) توجه کوله پوره توجه وکړي، او د جومات په علمي او کلتوري آبادۍ کې وخت په وخت فکر او سوچ وکړي، او خپلې چارې په پلان او نظم سرته ورسوي.
٦- د مساجدو ریاست ته وړاندېز دی که دوی د هر ولایت ریاست ته هدایت ورکړي چې د خپل ولایت د جوماتونو په اړه کره او پوره معلومات د یو پلان له مخې ترتیب کړي، او دغه چار په منظم او انځوریز بڼه چاپ شي؛ نو موږ به ۳۴ علمي او معلوماتي رسالې د څلور دیرشو ولایتونو په سطحه ولرو چې بیا دغه رسالې راټولې او د مرکز په سطحه د یو ستر کتاب په لرلو سره به د افغانستان په کلتوري او د ګرځندوی صنعت په بډاینه کې یو رغنده او ستر ګام وي.

**ماخذونه**


۱- الجن: ۱۸.
۲ - ابن هشام ابومحمد جمال الدین عبدالملک بن هشام بن ایوب الحمیری المعافری. السیرة النبویة، تحقیق: طه عبدالرؤوف سعد، ناشر: شرکة الطباعة الفنیة المتحدة(---)،۲ټوک،۱۰۲مخ.
۳ - الطبراني ابو القاسم سلیمان بن احمد بن ایوب بن مطیر اللخمی الشامی. المعجم الکبیر(---)،۹ټوک، ۱۲٦مخ. مکتبه شامله
٤ - ابن خزیمه ابوبکر محمد بن اسحاق بن خزیمه،صحیح ابن خزیمة، تحقیق: د. محمد مصطفی الاعظمی، ناشر: المکتب الاسلامی، بیروت(---)،۲ټوک،۲٦۸مخ. د عثمان (رضی الله عنه) په روایت.
۵ - صحیح ابن خزیمه،۲ټوک،۲۷۰مخ د عائشې(رضی الله عنها)په روایت.
٦- الصنعاني،ابوابراهیم عزالدین الامیر،محمد بن اسماعیل بن صلاح بن محمد الحسینی.سبل السلام،ناشر: دارالحدیث(---)،۱ټوک،۲۲۸مخ.

٧ - الزبيدی، ابو الفيض محمد بن محمد بن عبدالرزاق. تاج العروس من جواهر القاموس، مادة: سجد(---).**http://www.alwarraq.com**

٨ - آل عمران:٩٦. ژباړه: ( بيشکه تر ټولو لومړی عبادت ځای چې د انسانانو لپاره ودان شو هغه هماغه دی چې مکه کې دی، هغه ته خير او برکت ورکړ شوی او د ټولو نړيوالو لپاره د هدايت مرکز ګرځول شوی دی).

٩ - الآلوسی، شهاب الدين محمود بن عبدالله الحسينی. روح المعانی في تفسير القرآن العظيم والسبع المثانی،تحقيق: علی عبدالباری عطية، ناشر: دار الکتب العلمية، بيروت، لومړی چاپ ،١٤١٥هـ، ٢ټوک، ٢٢١مخ.

١٠ - ابن ماجة، ابوعبدالله محمد بن يزيد القزوينی. سنن ابن ماجة(---)،ناشر: موقع وزارة الاوقاف المصرية،**http://www.islamic-council.com**،٣ټوک،١٩مخ.

١١ - البخاری، ابوعبدالله محمد بن اسماعيل. الجامع المسند الصحيح المختصر من امور رسول الله (صلی الله عليه و سلم)و سننه وايامه،تحقيق: محمد زهير بن ناصر الناصر،ناشر: دار طوق النجاة، لومړی چاپ،١٤٢٢هـ ق، ١ټوک،٤٤٨مخ. ژباړه: (او ماته ځمکه مسجد او پاکوونکې وګرځول شوه، نو زما د امت چې چا ته د لمانځه وخت په کوم ځای کې راغی لمونځ دې کوي)

١٢- حبيبی عبدالحی.افغانستان بعد از اسلام، ناشر: د پوهنې مطبعه:کابل،١٣٤٥هـ ش،١ټوک،٧٠٨مخ.

١٣- وګوره ، افغانستان بعد از اسلام، ٧١٠-٧١٧مخونه.

١٤- خليل، محمدابراهيم. مزارات کابل، ناشر: انجمن تاريخ افغانستان، دولتي مطبعه: کابل،١٣٣٩هـ ش،١٥٠مخ.

١٥ - علی محمد مختار.دور المسجد في الاسلام،سلسلة شهرية دعوة الحق،رابطة العالم الاسلامي، دويم کال،١٤٠٢هـ، عدد(ګڼه:٩٦). ١٤مخ.

١٦ - وگوره : عباس محجوب، بيئات التربية الاسلامية، ناشر: الجامعة الاسلامية، المدينة المنورة، چاپ : ١٢کال، عدد(گڼه): شپږخلويښتمه،١۴٠٠هـ،١٠۴-١١٩مخونه.
١٧ - افغانستان بعد از اسلام،١ټوک،٧٢٠مخ.
١٨ - البيهقی، ابوبکر احمد بن الحسين بن علی. السنن الکبری و في ذيله الجوهر النقي، لابن الترکمانی، ناشر: مجلس دائرة المعارف النظامية الکائنة في الهند، حيدرآباد، لومړی چاپ ،١٣۴۴هـ،١٠ټوک،١٩١مخ.
١٩- العلق: ١.

څېړندوی شوکت الله عابد

# د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې د صنعت د سکتور اهمیت؛ فرصتونه او ننګونې

# Importance of Industrial Sector in the economic development of Afghanistan: opportunities an challenges

***Assistant Prof. Shaukatullah Abid***

**Abstract**

Countries reached to the development and self-dependence where they had growth in the industrial sector, finally they have known as industrial countries. Thus, it should say, that, the development of industrial sector could define as development of the overall economy, so, the impact of the sector is too important for the Afghanistan. Therefore, in the past years this sector has not had sufficient growth where to fulfill the needs and demand of society and still there are many challenges faced by this sector. To introduce impact of industrial sector in the economy of Afghanistan, define current opportunities, challenges and find out best solutions, this descriptive paper has written. Therefore, this research will find that, what's the current status of this sector,

which products are producing and what’s the importance of these industries in the economy of Afghanistan.

**لنډیز**

هېوادونه هغه مهال اقتصادي پرمختیا او ځان بسیا ته رسیدلي دي چې د صنعت سکتور یې وده کړې او بلاخره د صنعتي هېوادونو په نوم یاد شوي دي. له همدې امله باید وویل شي چې د صنعت سکتور وده او پرمختګ د ټول هېواد د اقتصادي پرمختګ په معنی دی چې له همدې بنسټه د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې د دې سکتور ارزښت د پام وړ دی. له بله پلوه د دې سکتور د اهمیت په اندازه دې برخې ته په تېرو کلونو کې پاملرنه نه ده شوې او دې سکتور د اړتیاوو په پرتله پرمختګ نه دی کړې او په دې برخه کې لا هم ډېرې ستونزې او ننګونې موجودې دي. د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې د صنعت د سکتور اهمیت، په هېواد کې د شته فرصتونو او ننګونو د روښانه کولو او په دې برخه کې د مناسبو حل لارو او وړاندیزونو وړاندې کولو په موخه دغه علمي مقاله په توصیفي او تحلیلي میتود لیکل شوې ده. په دغه څېړنه کې به ومومو چې اوسمهال په افغانستان کې د دې سکتور وضعیت څه ډول دی او کوم صنعتي محصولات تولیدیږي او همدارنګه د هېواد په اقتصاد کې د دغو صنایعو اهمیت څومره دی؟ د څېړنې پایلې ښیي چې د صنعت سکتور په ځېنو برخو کې افغانستان ځان بسیا ته رسیدلی اما تر ډېره د دې برخې صنایع د کورني مصرف لپاره تولیدیږي او په دې برخه کې صادرات د پام وړ نه دي.

کلیدي لغات:

افغانستان، اقتصاد، پرمختګ، حل لارې، ننګونې، صنعت

**سریزه:**

د یوه هېواد د اقتصادي ودې او پرمختیا لپاره د صنعت سکتور خورا ارزښتناکه دی، په همدې موخه پرمختللو هېوادونو د خپلو صنعتي کېدو لپاره ډېرې هڅې او کوښښونه ترسره کړي او وروسته دغې مرحلې ته رسېدلي دي، په

ټوله کې دوی له اقتصادي تړاو او وروسته والي څخه ژغورل شوي دي. دلته ویلای شو چې صنعتي محصولات او تولیدات هغه توکي دي چې د یوه هېواد اقتصاد ته لوری ورکوي او اقتصاد یې متحرک ساتي. که دغه برخې ته هېوادونه پاملرنه وکړي، نو حتماً اقتصادي وده کوي او که چېرې د یوه هېواد دغه اقتصادي برخې ته پاملرنه ونه شي، نو اقتصاد یې له وروسته والي سره مخامخ کېږي. د همدې وروسته والي د مخنیوي او پرمختیا ته د رسېدو لپاره د هېوادنو له لوري د صنعت په لور ګامونه پورته شوي او لا هم دا هڅې روانې دي. د ماشین له اختراع څخه مخکې په نړۍ کې د عنعنوي صنعت لړۍ روانه وه او د انګلستان د ۱۸مې پېړۍ صنعتي انقلاب سره سم په ټوله نړۍ کې په دې برخه کې ژور بدلونونه منځ ته راغلل. له بله پلوه په افغانستان کې عنعنوي صنایع له پخوا څخه مروجې وو او ماشیني صنایع د امیر دوست محمد خان په دوره کې (۱۸۴۳-۱۸۶۳م) پیل شوې چې په لومړي وار په کابل کې په ابتدایي بڼه د وسلو د جوړولو فابریکه جوړه شوه او وروسته دا فعالیتونه مخ په ډیرېدو شول او بېلابېل صنعتي ماشینونه هېواد ته را وارد شول او ملي پانګوالو ته د صنایعو په برخه کې د پانګونې اجازه ورکړل شوه. لنډه دا چې صنعتي فعالیتونو ورځ تر بلې پراختیا موندله چې دې فعالیتونو د هېواد په اقتصاد او ټولنیز ژوند کې مهم رول درلود. اما دا هرڅه د افغانستان اقتصادي اړتیاوو ته په کتو ترسره نه شول او یا یې ترسره کېدو ته زمینه برابره نه وه. د دې موضوعاتو د ځانګړي اهمیت له مخې په دې څېړنه کې اړوند مباحث مطرح شوي دي او د شته ننګونو د حل لپاره به په شتو فرصتونو باندې د تمرکز کولو سره شرایطو ته په کتو مناسبې حل لارې وړاندې شي.

**د څېړنې اهمیت**

صنعت د افغانستان د ثانوي سکتور او د اقتصادي پرمختګ د بنسټیز عنصر په توګه معرفي کیږي چې د دې پېژندنه، د اوسني وضعیت معرفي کول، د دې سکتور په وړاندې شته فرصتونه او ننګونې او د دې ننګونو حل لارې

وړاندې کول خورا اهميت لري. د موضوع همدې مبرميت او اهميت ته په کتو په دغه موضوعاتو باندې څېړنه ترسره شوې ده.

**موخه**

د دغې څېړنې اصلي موخه دا ده چې د هېواد په اقتصاد کې د صنعت نقش معرفي کړي او په دغه برخه کې شته فرصتونه روښانه، پرتې ننګونې او د هغو حل لارې وړاندې کړي.

**د څېړنې میتود**

د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې د صنعت د سکتور اهمیت؛ فرصتونه او ننګونې، یوه توصیفي او تحلیلي څېړنه ده چې کمي ارقام او کیفي معلومات یې د هېواد دننه له داخلي منابعو لکه ژورنالونو، علمي اثارو، ویبپاڼو او مجلو څخه ترلاسه شوي او تحلیل شوي دي.

**د صنعت سکتور پېژندنه**

د صنايعو سکتور چې د مختلفو ماشیني صنایعو، لاسي صنایعو او د ثقیله صنایعو له برخو څخه جوړ دی، بېلابېلې څانګې لري او هره برخه یې په اقتصاد کې د خپل ځانګړي ارزښت لرونکې ده. د صنعت سکتور د ماشیني، سپکو او نورو صنایعو په وسیله په بازار کې د کار او اشتغال زمینه برابره کړې، په کلني ملي داخلي تولید کې یې ونډه او همداشان د تجارت په بیلانس کې د صنعت سکتور د خامو او د نور د اړتیا وړ موادو واردات او دوباره د دې صنایعو صادرات هغه څه دي چې د هېواد په اقتصاد کې یې د دې سکتور اقتصادي ارزښت څرګند کړې دی. باید وویل شي چې د انګلستان د ۱۸مې پېړۍ صنعتي انقلاب سره سم په ټوله نړۍ کې په دې برخه کې ژور بدلونونه منځ ته راغلل. (ارشاد، ۱۳۹۵) دا هم روښانه ده چې له دې انقلاب څخه د مخه په نړۍ او بشري ژوند کې د صنعت چارې ډېره اوږده مخینه لري چې په لومړیو کې د تېرو تراشلو صنعت مروج و او له دغه تېرو څخه به بېلابېل ابزار جوړېدل(سروري، ۱۳۹۲) او په بشري ژوند کې کارول کېده.

له بله پلوه په افغانستان کې عنعنوي صنایع له پخوا څخه مروج و او ماشیني صنایع د امیر دوست محمد خان په دوره کې (۱۸۴۳-۱۸۶۳م) پیل شول چې په لومړي وار په کابل کې په ابتدایي بڼه د وسلو د جوړولو فابریکه جوړه شوه. (ارشاد، ۱۳۹۵) چې وروسته ورو، ورو په دې برخه کې نسبي پانگونه ترسره او بېلابېل ماشین آلات هېواد ته راوارد شول. دا لړۍ تر دې دمه کمزورې پر مخ راروانه وه او لا هم په دې سکتور کې ډېر اړمن هېواد یو. په دې برخه کې د صنعتي کړنو د تفکیک ترڅنگ د صنعت سکتور په اقتصادي ارزښت او د دې سکتور د پرمختیا لپاره ځینو مباحثو ته اشاره شوې ده چې په همدې بحث کې د تم کېدو لپاره دلته د افغانستان د صنعتي فعالیتونو لنډه پېژندنه ترسر کیږي.

**په افغانستان کې صنعتي فعالیتونه او د هغې اقتصادي اهمیت**

لکه څرنگه چې د مخه یادونه وشوه، صنعتي فعالیتونه په هېواد کې له ډېر پخوا څخه مروج دي چې اوسمهال په افغانستان کې صنعتي فعالیتونه په لاندې برخو ویشل کیږي: (مهرامي، ۲۰۱۳)

- د کانونو کیندنه: د ډبرو سکاره، مالگه، د مرمرو ډبرې، طبیعي گاز، مایع امونیا، کاندنسات او نور کاني مواد.
- فابریکاتي صنایع: په دې برخه کې لاندې فرعي برخې شاملې دي:
  - شیمیایی صنایع: د بوټانو او څپلیو تلي او پلاستیکي څپلکې، پلاستیکي کڅوړې، پلاستیکي وسایل او داسې نور.
  - سپکې (خفیفه) صنایع: وړۍ، البسه، لاسي صنایع، پنبه، لوی فرشونه او نور فرشي محصولات.
  - د غذایي توکو صنایع: کولمې، ممیز(کشمش) پاکول، د خوړلو مالگه، یخ، غیرالکولي مشروبات، غوړي وېستل (روغن کشی) ، نباتي غوړي، عسل، د ډوډۍ محصولات، شیریني جات او د وینځلو مواد.

- فلزي تولیدات: فلز، پروفیل، تولیدي خدمتونه او موترسیکل مونتاژ.
- درمل: مختلف ډولونه.
- ودانیز مواد: د مرمرو ډبرې، موزایک، گچ، رنګ، سمنټ، شګه او نور ساختماني مواد.
- د نجارۍ او کاغذ جوړونې صنایع: کارتن جوړونه او داسې نور صنایع؛ لکه د چاپ او نشر صنایع او نور تولیدات.

- برېښنا او اوبه: اوبه‌ییزه برېښنا، حرارتي برېښنا، ډیزلي برېښنا، لمریزه برېښنا.
- ودانیز: ودانۍ‌جوړونه او د رغاونیزو موادو تولید.

د پورته طبقه بندۍ ترڅنګ ویلای شو چې په افغانستان کې اکثریت فابریکاتي صنایع د کورني لګښت لپاره تولیدېږي. په ټوله کې باید وویل شي چې په هېوادکې لاندې صنایع تولید په کور دننه کارول کیږي او همداشان په کمې اندازې سره یې صادرات هم ترسره کیږي:

ـ د اوسپنې ویلې کولو او د سیخ ګول، د ګاډر، د المونیمې توکو، دګاز ډبو او نورو اوسپنیزو توکو تولید کارخانې چې په دې برخه کې تر ۵۰۰ میلیونه ډالرو پورې پانګونه ترسره شوې ده او تر دې ۱۴۰۲ کال پورې د فولادو د تولید ٤٢ فابریکو فعالیت درلود.(قویاش، ١٤٠٢) د اوسپنې د ویلو کېدو په برخه کې باید یادونه وشي چې تر ۵۰۰۰۰ مستقیمو او غیرمستقیمو دندو ایجاد زمینه یې برابره کړې(نصیب، ٢٠٢٤) او په د تولید په برخه کې یې د هېواد د بازار اړتیا او تقاضا ځواب کړې ده، له دې جملې څخه یوې کمپنني په کابل ښار کې ۷۰۰ تنو ته د کار زمینه برابره کړې او د ورځې تر ٤٠٠ ټنو پورې تولید لري. (قویاش، ١٤٠٢) همداشان په ننګرهار ولایت کې په ٢٠٢١ز کال کې ١٣ د اوسپنې ویلي کولو فابریکې موجودې وې چې تر

۱۰میلیونه ډالرو ډېره پانګونه ترسره شوې او تر ۱۱۰۰ تنو پورې د کار مستقیمه او غیرمستقیمه زمینه برابره شوې ده. (وصال، ۲۰۲۱)

- د تریشل ماشینونو تولید؛ په دې برخه کې هېوادني شرکتونه صادرات هم لري چې په ۲۰۲۳م کال کې جاوید افغان شرکت ٦۷ تریشل ماشینونه منځني اسیا ته صادر کړي چې له دې جملې څخه یې ۱٦ تریشلې تاجکستان هېواد ته صادر شوي دي.(سلحشور، ۲۰۲۳)
- د چرګوړو د راویستلو ماشینونو تولید؛
- د موټرو، ریکشا او ځینې نورو وسایلو تولید او بسته بندي؛
- زرګري ( د سروزرو او سپینو زرو ویلي کول او پاسته ترې جوړول، د نورو طلایې سینګار توکو جوړول.
- د برېښنا رسونې په برخه کې برېښنا پایو تولید، د توربینونو تولید، د بادي پکو تولید او داسې نور
- د خوراکي توکو تولید لکه کیک، کلچې، بیسکیټ او نور ډیر د ماشومانو او کورنیو د استفادې او خوراک وړ غذایي توکي؛
- پلاستیک باب ( پایپ، کوزه، ګلاسونه، یو بار مصرف توکي، خلطې، څپلې، بوټ....)
- د شیرنې بابو تولید (میوه، ګوړه، چاکلیټ، نقل، پټاسه...)
- د غنمو پروسس او د اوړو تولید؛
- د ماستو، شیدو، کوچو، قیماق، پنیر، خیدک او نور لبنیاتو تولید؛
- د غوړیو تولید؛
- د لرګینو توکو تولید (د خوب تختونه، کوچونه، څوکۍ، میزونه، قابونه، میوه دانۍ، کوډبندونه، سینګارتوکو د ساتنې وسایل، صندوقونه، امساء، دروازې، کړکۍ، ټېلونه (په لرګیو د دیوالونو پوښل)...
- د ساختماني موادو تولید لکه تعمیراتي رنګ، سیمنټ، د شګې، د مرمر ډبرې، جغل او نور؛

- د گازلرونکو او بې گازو نوشابو او د معدني اوبو پروسیس او بسته بندي؛
- د ایسکریمو او شیریخ جوړول او په دغه برخه کې د بېلابېلو ماشینونو تولید؛
- د مصاله جاتو تولید؛
- چرمي محصولاتو تولید؛
- د صابون، شامپو(کالیو وینځلو، لوښو وینځلو، لاس وینځلو...)، پوډر او داسې نورو توکو تولید
- د کاغذي توکو تولید لکه کارتن او داسې نور؛
- د لاسي او ماشیني قالینو تولید؛
- د ځینو میوه جاتو بسته بندي او پروسیس... او داسې نور چې د دې صنایعو ارزښت په ۱۳۹۷ مالي کال کې ۸ میلیارده او ۲۲۰,۲ میلیونه افغانۍ وو چې له دې جملې څخه ۷ میلیارده ۲۷٦,٦ میلیونه افغانۍ خصوصي سکتور او ۹۴۳,۴ میلیونه افغانۍ د دولتي سکتور اړوند وې. (د احصائي او معلوماتو ملي اداره، ۱۳۹۸) له همدې ځایه جوتیږي چې په صنعتي برخه کې عامه سکتور څخه د خصوصي سکتور ونډه ډېره او د پام وړ ده. باید یادونه وشي چې اوسمهال ۱۲ فعال صنعتي پارکونه موجود دي چې ۳۳۷۹۲ جریبه ځمکه کې فعالیت کوي او ۵۳٦ فابریکې په کې فعالې دي او د صنعت په سکتور کې تر ۸,۲ سلنه وگړي په کار بوخت دي.

د صنعت په سکتور کې په ۱٤۰۰ل کال کې ۱۷۵۵ کورني شرکتونه فعال و او په ۱٤۰۱ل کال کې په دغه برخه کې ۳۹ شرکتونو فعالیت درلود. د کورنیو شرکتونو لومړنۍ پانگه په ۱٤۰۰ل کال کې ۱۷میلیاره ۱٤۷ میلیونه افغانۍ وه او په ۱٤۰۱ل کال کې دغه پانگه ٤ میلیارده ٤۷ میلیونه افغانۍ ته راټیټه شوه چې بېلابېل لاملونه لري.(د احصائي او معلوماتو ملي اداره، ۱۳۹۹)

د صنعتي پارکونو په اړه باید یادونه وشي چې دغه پارکونه د افغانستان د صنعتي اړتیاوو او د صنعتي پرمختګ لپاره بسنه نه کوي، دا هېواد په خپلو اقتصادي زونونو او ولایتونو کې صنعتي پارکونو ته اړتیا لري چې د دې لپاره مالي سرچنیو ته اړتیا ده. همداشان د هېواد عمده صادراتي اقلام وچه میوه، تازه میوه، زراعتي محصولات، لاسي صنایع، قیمتی ډبرې، د ډبرو سکاره، قالینې او داسې نور دي. لـه بله پلوه افغانستان د طبیعي کانونو پراخه سرچینې لري او په راتلونکي او اوږدمهال کې یې د استخراج لپاره لازمې برنامې طرح او تطبیق کول د هېواد اقتصادي او ټولنیز ثبات لپاره ډېر اړین او ګټور دي. مثلاً په هېواد کې دننه د لیتیومو، طلا، نیوبیوم، مسو، اوسپنې، بیرایت، نفت، د مرمرو ډبرې، د ډبرو سکاره، د مالګې کانونه، قیمتي ډبرې او داسې نور ذخایر شته، چې د دې ذخایرو او کانونو د تولیداتو د ارزښت د لوړوالي لپاره اړینه پاملرنه په کار ده. د افغانستان د لیتیمو ارزښت د سعودي د نفتو ذخایرو ته رسیږي، همداشان، په دې هېواد کې د نړۍ ۰٫۹ سلنه د مسو ذخیرې شتون لري. (سهاک، ۱۳۹٤) همداشان د اوسپنې د ذخېرو وړاندوینه هم له دوه میلیاردو ټنه څخه اوړي چې دا ذخاېر د خپل ځانګړي اقتصادي ارزښت لرونکي دي. د دې ترڅنګ د ګازو طبیعي سرچینې هم شته، خو تر اوسه پورې یې په اړه کره ارقام وړاندې شوي نه دي او په بـدل کـې یې په کـور دننه د اړتیا وړ په میلیونونو مکعب متر ګاز له بهره راواردېږي. د دې تر څنګ باید وویل شي چې په افغانستان کې ۱۴۰۰ ساحې په نښه (تثبیت) شوي دي چې د بېلابېلو کانونو لرونکي دي او د دې ذخیرو ارزښت درې تریلیونه ډالره اټکل شوی دی.(العربیه، ۱٤۰۲) د یادونې وړ ده چې په ځېنو نورو ډېرو منابعو کې دا ارزښت له دې اندازې څخه ډېر لوړ ښودل شوې دی. د افغانستان دا کانونه او طبیعي سرچینې په اوږدمهال کې د افغانستان د اقتصادي پرمختګ او خپلواکۍ لپاره یوه ستره هیله ګڼل کېږي. د نیویارک ټایمز ورځپاڼې په راپور کې چې د افغانستان د کانونو په اړه یې لیکلي، داسې

راغلي دي، د افغانستان په جنوب کې د لیتیوم، اوسپنې، مس، کوبالت، او سرو زرو دومره ډېرې ذخېرې شته چې دا فقیر هېواد په نړۍ کې په ډېر مهم هېواد بدل کړي.(فارس ۱۳۹٤) د دې ترڅنگ په یوه څېړنه کې ویل شوي چې د افغانستان د لېتیمو د ذخېرو ارزښت دومره ډېر دی چې د سعودي عربستان د نفتو له ذخېرو سره یې مقایسه کولای شو. .(العربیه، ۱٤۰۲) همدا کانونه او د ځمکې په خېټه کې ذخېرې دي چې په نړیواله کچه یې د دې جغرافیې اهمیت د پام وړ گرځولی دی.

دلته باید دا یادونه هم ترسره شي چې له تېرو څو لسیزو راهیسې د افغانستان ځینې کانونه په غیرفني، غیرمسلکي او قاچاقي بڼه د زورواکو او محلي ولسي خلکو له لوري استخراجېږي چې د نورو مسایلو ترڅنگ په دې برخه کې ضایعات هم ډېر دي او هغه څه چې باید تر لاسه شي، ډېره برخه یې له منځه ځي. دا چې دې طبیعي ذخیرو څخه د هېواد په پرمختیا کې گټه پورته شي او لکه څرنگه چې لازمه وي، دې برخې ته پاملرنه وشي؛ نو اړتیا ده چې د ثبیت شویو کاني ساحو د دوامداره امنیت او ثبات تر څنگ یې د ارزښتناکې استفادې لپاره او په ټوله کې د صنعت سکتور د پرمختگ لپاره لاندې موارد په پام کې نیول اړین دي:

- د کانونو په استخراج کې د پانگونې په موخه د بېلابېلو لارو چارو په وسیله د کورنیو او بهرنیو پانگوالو جلب او هڅونه؛
- کورنیو شرکتونو ته د په دې برخه کې د مالي سرچینو ایجادول؛
- د کانونو د موادو د پروسیس لپاره د کوچنیو او لویو کارځایونو ایجادول او پراختیا ورکول؛ لکه د افغانستان د قیمتي او نیمه قیمتي غمیو او کانو د پروسیس لپاره دکارځایونو ایجادول، د خامې اوسپنې او نورو معدني موادو د پروسیس لپاره لازمو امکاناتو برابرولو لپاره لازمې دولتي او خصوصي تصدۍ او شرکتونه ایجادول او پراختیا ورکول او داسې نور.

- د صنعتي پارکونو او صنعتي کارځايونو د انرژۍ او برېښنا د کمښت ستونزې حل کول؛
- د صنعت او کانونو په برخه کې د متخصصينو او مسلکي کادرونو روزنه او ساتنه؛
- د صنعت کارانو له لوري د خلاقيت او ترسره شويو او ترسره کېدونکو ابتکاراتو ملاتړ کول؛
- د لاسي سپکو صنايعو تر څنګ د افغانستان دټولو فابريکاتي توليداتو د صادراتو په برخه کې لازم سهولتونه برابرول؛
- د صنعتي توليداتو لپاره د منظمې او مؤثرې بازارموندې سهولتونه برابرول؛ او داسې نور.

همدې موخو ته د رسېدو لپاره د نړۍ له صنعتي او پرمختللو هېوادونو سره اقتصادي اړيکې ايجاد، د دوی پانګوال راجلب او په دې سکتور کې د پانګونې لپاره د لازمو امکاناتو او فرصتونو د ايجاد لپاره زمينه برابرول اړين دي. له دې جملې څخه په سېمه کې چين، روسيه، ځينې عربي هېوادونه، هند او داسې نور اقتصادي قوتونه هغه د نظر وړ هېوادونـه دي چې د کانونو د استخراج په برخه کې د پانګونې لپاره لازم امکانات او علاقه لري، نو اړتيا ده چې په دې برخـه کې هر اړخيز تطبيقي پروګـرامونه طرح، حمايت او تطبيق شي.

دلته يو بل بحث د افغانستان سنتي او مروج صنعت دی چې لاتر اوسه ژوندی پاتې دی او په ښارونو او لرې پرتو سيمو کې دغه صنعت له پخوا راهيسې په دوديز ډول سره د وګړو په منځ کې مروج دی، چې همدا صنايع د دوی په کورني اقتصاد کې خورا ارزښت لري. د دی تر څنګ ډېرې لاسي صنايع شته چې د هېواد په اقتصاد کې ډېر ارزښت لري. له دې جملې څخه يو هم غالۍ دي چې د ډېر پخوا وختونو راهيسې د غاليو صنعت  دود دی او لا تر اوسه پورې په دوديز ډول دغه صنعت پر مخ روان دی. د ۱۹۹۶-۲۰۰۰م

کلونو کې په لاس اوبدل شویو غالیو ارزښت تر ۷،۷۱ اوه اعشاریه یواویا میلیارده ډالرو پورې رسیدلی چې دغه ارقام په منځنۍ توگه په یو کال کې ۱،۵۴ میلیارده ډالره محسوب شوي دي.(دودیال، ۱۳۹۹) همدا راز باید وویل شي چې ۹۵ سلنه غالۍ په کورونو کې اوبدل کېږي. (دودیال، ۱۳۹۹) له دې ځایه معلومېږي چې د افغاني غالیو د اوبدلو د پراختیا لپاره لا تر اوسه کوم د حساب وړ گام نه دی پورته شوی چې د دغه صنعت د پرمختگ او راتلوونکي ستراتیژیک اهمیت لپاره بسنه وکړي. که له یوې خوا دغه محصول د نړۍ د غوره غالیو په قطار کې لومړی مقام لري، خو له بلې خوا یې د وسعت او پرمختگ لپاره اساسي اسانتیاوې نه دي برابرې شوي او همدارنگه د کورني بازار تر څنگ په بهرني بازار کې د اړتیا وړ بـازار موندنه ورته نه ده شوې. که څه هم دغه محصول په نړیوالو بازارونو کې د خورا ارزښت لرونکی دی، خو د تولید لپاره یې عصري او ځانگړي کارځایونه او ښارگوټي نشته او سربېره پر دې نړیوالو بازارونو ته تر اوسه پورې د دغه محصول ډېره سلنه صادرات گاونډیو هېوادونو په خپل نوم ترسره کړي.

ویلی شو چې صنعتي فعالیتونو د ټولو اقتصادي سکتورونو تخنیکي او مسلکي ظرفیت لوړوي، تولید ته یې پراختیا ورکوي او نورې ډېرې ښېگڼې لري. د زراعت سکتور چې د افغانستان لپاره ابتدایي او اساسي سکتور گڼل کیږي، همدا صنعت د دې سکتور د پرمختگ لپاره سره (کیمیاوي کود) تولیدوي، تهریشر ماشینونه جوړوي، ژرندې جوړوي، تخمونه پروسیس کوي، په زراعتي څېړنېزو برخو کې کار کوي او همداسې نورې ډېرې چارې دي چې د د زراعت د سکتور لپاره د د صنعت په وسیله ترسره کیږي. د مواصلاتو اوترانسپورټ په برخه کې، دمخابراتو او ټکنالوژۍ سکتور په برخه کې، د خدمتونو بد سکتور په برخه کې، د اوبو د بندونو او برېښنا کوټونو او نورو ټولو برخو کې د صنعت نقش څرگند او حیاتي ارزښت لرونکی دی.

## د صنعت سکتور په وړاندې فرصتونه، ننګونې او حل لارې

### الف: فرصتونه

دا یو روښانه حقیقت دی چې د ټولو اقتصادي سکتورونو په وړاندې بېلابېلې ننګونې شته دي، خو له بله پلوه په دې هېواد کې ډېرې داسې فرصتونه هم شته، چې په همدې فرصتونو باندې تمرکز کول پورته ننګونې له منځه وړي او د صنعت سکتور او په ټوله کې د افغانستان د اقتصاد د قوت پر نقطو بدلیږي.

اوسمهال چې افغانستان د یوه اساسي اقتصادي پړاو په درشل کې دی او ډېر فرصتونه په لاره دي، نو د ملي اقتصادي پرمختګ لپاره ترې ګټه پورته کول خورا ارزښتناکه دي. دلته د څو فرصتونو یادونه په لاندې توګه ترسره کیږي:

- په سیمه کې د افغانۍ (د افغانستان د ملي کرنسۍ) د ثبات؛ په ۲۰۲۱زیږدیز کال کې سیاسي تحولاتو سره سم د افغانیو ارزښت راټیټ شو، انفلاسیون لوړ شو، بانکي او مالي سیستم له جدي ننګونو سره مخامخ شو او د توقع خلاف ډېر اقتصادي مشکلات منځ ته راغلل، اما د وخت په تېرید سره دغه ستونزې تر یوه حده مهار شولی، په ځانګړې توګه د سارک غړو هېوادونو د کرنسۍ د ثبات په برخه کې افغانۍ خپل ارزښت او اهمیت وساته او دا پولي واحد باثبات پولي واحد معرفي شو. که په سیمه کې د پاکستان د کالدارو او د ایران تومان ته نظر واچوو نو د دغو کرنسیو په وړاندې د افغانۍ ارزښت د یادونې وړ دی. همداشان د ډالرو په وړاندې د افغانیو راټیټ شوې ارزښت دوباره ورغول شو او د ۲۰۲۱م کال د سیاسي تحولاتو سره کې د یو ډالر په وړاندې د ۱۲۰ افغانیو ارزښت څه موده وروسته ۸۱ افغانیو ته راټیټ شو. (مومند، ۲۰۲۳) په دې برخه کې د لویو او ملي پروژو پیل او تداوم، د اضافه لګښتونو مخنیوي، د صادراتو پراختیا، د اداري فساد مخنیوي او د مالي او پولي سیاستونو درست

پلي کول هغه څه دي چې د نورو شتو لاملونو تر څنګ يې د افغانۍ ثبات ساتلی شي.(دافغانستان بانک، ۱٤۰۲) کابل ټایمز د امریکا د بلومبرګ له قوله لیکي چې له ښه بخته، افغانۍ د ۹ باثباتو کرنسیو له ډلې څخه ده چې د ډالرو په مقابل کې یې خپل ارزښت لوړ کړې دی،(حکیمي، ۱٤۰۲) د دغه پولي واحد ارزښت په ۲۰۲۳ز کال کې د ۲۰۲۲ز کال پرتله ٥,٦ سلنه لوړ شوې دی.(مومند، ۲۰۲۳)

- د ډالرو د قاچاق مخنیوی؛ په دې کې هیڅ شک نشته چې د هېوادونو ترمنځ په سرحدونو او صفري نقطو کې ډول، ډول قاچاق ترسره کیږي. افغانستان هم یو له هغه هېوادونو څخه دی د ارز قاچاق ترې ترسره کېده چې په دې وروستیو کې یې د مخنیوي هڅې وشوې او له همدې درکه د کرنسۍ د ارزښت ثبات او انفلاسیون کنترول ته زمینه برابره شوله.
- له داخلي عایداتي سرچینو څخه د ملي بودجې جوړول؛ د ۱۴۰۲ هـ ش کال ملي بودجه د داخلي عوایدو او سرچینو څخه ترتیب او پلي کېدو ته وړاندې شوه، چې دا موضوع د عوایدو په راټولونه کې روښتیا، د اداري فساد مخنیوي، د عواید غوره مدیریت او نورې ښېګڼې څرګندوي چې دا په ټوله کې یو غوره فرصت ګڼل کیږي او په همدې اقتصادي پالیسي مخته تګ اقتصادي پرمختګ زمینه برابروي او دا هېواد ځان بسیا ته نږدې کوي. برعکس په دې برخه کې مالي او اداري فساد، د سرچېنو غیرمسلکي او غیرموثر مدیریت، هېواد له اقتصادي بحران لوري ته بیایي او د اقتصادي پرمختګ مخه ډب کوي.
- په افغانستان کې د سیمې او نړۍ د هېوادونو د پانګونې علاقمندي؛ په دې ورستیو کې افغانستان ته د روسیې، تاتارستان، چین او نورو هېوادونو د پانګوالو سفرونه دا جوتوي چې د افغانستان په بېلابېلو

اقتصادي سکتورونو کې پانګونې لپاره د نړۍ هېوادونه علاقه مندي لري او ځینو هېوادونو عملاً په بېلابېلو برخو کې پانګونه ترسره کړې ده. دا د افغانستان د اقتصاد لپاره یو ستر فرصت ګڼل کیږي چې په دې هېواد کې د پانګونې لپاره شته او باید لا هم پراخه شي.

- د چین او روسیې هېواد سره د اقتصادي اړیکو نوی باب پرانیستل؛ د واخان په کوریډر او د هېواد په نورو برخو کې د چین او نورو هېوادونو پانګونه د افغانستان د اقتصاد لپاره خورا ارزښتناکه ده چې په دې برخه کې د اړیکو یو نوی باب پرانیستل شوی دی. د دې ترڅنګ دتېر په نسبت د سوداګرو څخه د سکتوري ادارو جدي ملاتړ او د ۱۴۰۰ کال په نسبت ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ هـ.ش. کلونو کې قیمتونه راټیټېدل د یادونې وړ اقتصادي فرصتونه بلل کېدای شي.

**ب: ننګونې**

د هېواد تاریخ او سیاسي کشمکشونو ته په کتو د فابریکاتي تولید او په ټوله کې د صنعت سکتور او د دغې برخې د کارکوونکو پر مخ په تېرو کلونو کې ډېرې ستونزې او خنډونه پراته و. له دغې جملې څخه ځینې ستونزې لا هم شته چې پاملرنه او حل یې د صنعت سکتور د ودې او د افغانستان د اقتصادي پرمختیا له پروسې سره مرسته کوی. دلته ټولې هغه ستونزې چې په دې برخه کې موجودې وې، یادونه کیږي:

- د هېواد په کچه د فابریکو د انرژۍ او برېښنا کمښت؛
- غیرمعیاري، کم ظرفیته او لږ صنعتي پارکونه او کار ځایونه؛
- په تېرو کلونو کې د زړې اوسپنې او نورو خامو موادو قاچاق؛
- د داخلي تولیداتو د ملاتړ لپاره د ملي پالیسۍ نه شتون؛
- له پرمختللو هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو نه شتون او یا هم کموالی؛

- د نړۍ د هېوادونو له لوري د اوسني حکومت په رسیمت نه پېژندنه؛
- د تېرو لسیزو د جګړو او د دوامدارۍ بې ثباتۍ اغېزې؛
- سوداګرو او متشبیثینو لپاره د مالي سرچینو کمښت؛
- د صنعت په برخه کې د متخصصینو او مسلکي کادرونو کمښت؛
- د صنعت کارانو له لوري د خلاقیت او ابتکاراتو ضعف او په دې برخه کې د امکاناتو نه شتون؛
- د صنعت سکتور د محصولاتو د صادراتو لپاره لازمو فرصتونه کمښت؛
- د صنعتي تولیداتو لپاره منظم او مؤثرو بازارونو نه شتون؛ او داسې نور ډېر مسائل شته چې د دې سکتور د عمده ستونزو په توګه ترې یادونه کېدای شي.

## ج: حل لارې

د بېلابېلو ستونزو او ننګونو ترڅنګ فرصتونه هم شته چې پر دې فرصتونو باندې تمرکز کول د دې سکتور د کمزورۍ نقطې له منځه وړي او په ټوله کې دغه سکتور وده کوي. په دې برخه کې د پورته ذکر شویو ستونزو د حل په موخه لازمه ده چې اړوند سکتوري او بودجوي واحدونه ځانګړې پاملرنه وکړي او د امکاناتو د تدارک او د تطبیقي برنامو په لاره اچولو سره دغه ستونزې پر فرصتونو بدلې کړي.

- د انرژۍ او برېښنا د کمښت ستونزې حل لار؛ په دې برخه کې اړتیا ده چې په اوږد مهال کې د ځان بسیا په موخه په هېواد کې دننه د اوبو، بادي، لمریزې برېښنا پر تولید او پراختیا غور وشي. همداشان په کور دننه ماهیپر، نغلو، کجکي، سلماء بند، مناګي بند او نورو برېښنا کوټونو د انرژۍ د تولید ظرفیت ډېروالي لپاره کار وشي. د دې تر څنګ د وارداتي برېښنا چې په اوس وخت کې د صنعتي پارکونو او نورو تولیدي فابریکو اړتیا نه ځوابوي، د ظرفیت د ډېروالي لپاره د

ګاونډيو هېوادونو د قراردادونو پر پراختيا او کيفيت باندې لازمې برنامې تطبيق شي. ملي پانګوال په دې برخه کې پانګونې لپاره وهڅول شي او د هېواد دا اساسي اړتيا د پوره کولو په برخه کې د پانګونې له ګټو برخمن شي.

- د معياري او اړتياوو د پوره کولو وړ صنعتي پارکونه جوړول؛ د هېواد جغرافياوي وضعيت او په ولايتونو کې د بېلابېلو زراعتي او صنعتي توليداتو او محصولاتو د پراختيا لپاره اړينه ده چې په زونونو او ځينو ولايتونو کې معياري صنعتي پارکونه، لويې، منځنۍ او کوچنۍ فابريکې جوړې شي. د مثال په ډول په کونړ ولايت کې د لرګيو د پروسيس ملي فابريکه جوړه شي، خصوصي سکتور او دولتي سکتور د ځانګړي مکانيزم په وسيله د کونړ او نورو ولايتونو له ځنګلونو څخه موثره استفاده وکړي. د دې تر څنګ د شته صنعتي پارکونو د پراختيا لپاره لازم تطبيقي پروګرامونه په لاره واچول شي او په هغه سيمو کې چې کومې صنايع ډېرې دود او توليديږي، په همدې ساحو کې د يادو صنايعو د پروسيس، بسته بندۍ، توليد چارې ترسره شي. نو په دې سره به يادې صنايع او برخه بې له شکه پرمختګ وکړي چې دا پرمختګ د اقتصادي پرمختګ په معنی دی.
- د حکومت له لوري د قاچاقو دايمي مخنيوي؛ د اقتصادي پرمختيا او سرتاسري ثبات په موخه اړتيا ده چې په سرحدي او عبوري سيمو کې الکترونيکي او ټکنالوژيکي وسايل لکه: سکينر او نور پرمختللي آلات نصب او وکارول شي. د دې ترڅنګ اداري او مالي فساد د قاچاقو د تسهيلونکي عنصر په توګه معرفي کېدای شي نو د اداري او مالي فساد د مخنيوي په پار دې د حکومت اراده جدي، تل پاتې او عامه وي.

- د داخلي توليداتو د ملاتړ په موخه اړتيا ده چې د هېواد په کچه ملي پاليسي جوړه او د تطبيق لپاره يې خصوصي سکتور او دولتي اړوندې سکتوري اداري کار وکړي. همدارنګه د صنعت په برخه کې د کانونو د استخراج او پرسس ملي پاليسي ترتيب او پلي شي.
- د اقتصادي پرمختګ په موخه اړتيا ده چې پرمختللو هېوادونو سره د اقتصادي اړيکې ايجاد، تعريف او پراختيا ومومي. د صادراتو او وارداتو په پروسو کې سهولتونه رامنځ ته شي، سوداګرو ته د ويزو په صادرولو کې اسانتياوي پيدا شي او همدارنګه نړيوال نندارتونونه جوړ شي او په کور دننه نندارتونونو ته بهرني سوداګر راوبلل شي.
- د سوداګرو او صنعتي فعاليتونو د بهبود او پراختيا لپاره اړتيا ده چې د سوداګرو مالي او تخنيکي ملاتړ وشي او په دې برخه کې ځانګړې د دولت او خصوصي سکتور ګډ فنډونه ايجاد شي.
- د صنعتي فعاليتونو د پراختيا په موخه او په صنعتي او توليدي فابريکو کې د متخصصينو او مسلکي کادرونو په کار ګمارلو او همداشان د مارکيټ ټولو اړتياوو د ځواب په موخه د علومو په بېلابېلو رشتو کې تحصيلي، مسلکي، تحقيقي او تخنيکي برنامې ايجادول او پراختيا ورکول اړين دي. په دې برخه کې دې په منځ مهال او اوږد مهال کې لازم پروګرامونه طرح او پلي شي.
- د اقتصادي پرمختګ يو راز دا دی چې اقتصادي او تجارتي انګيزې ايجاد او پراختيا ومومي، په همدې موخه د صنعت کارانو له لوري د خلاقيت او ابتکاراتو حکومتي ملاتړ ارزښتناکه دی، بايد پاملرنه ورته وشي. د اختراعاتو د ثبت مرکز ايجاد، د صنعتي او تخنيکي خلاقيتونو او ابتکاراتو قاطع ملاتړ وشي او د تيور د تجسم لپاره اړوندو بنسټونه جدي پاملرنه وکړي. په دې برخه کې غير رسمي هڅې په رسمي چوکاټ کې دننه او له دغ چارو غوڅ ملاتړ ترسره شي.

- د صنعتي توليداتو لپاره منظم او مؤثرو بازارونو او په هېواد کې دننه او له هېواد څخه بهر د نندارتونونو جوړول د دې سکتور پرمختګ سره تړلی بحث دی. همداشان د دې برخې هغه فرعي سکتورونه چې افغانستان په کې ځان بسيا ته رسيدلی، د محصولاتو لپاره يې له هېواده بهر د صادراتو لپاره لازم قراردادونه کول؛ لکه د اوسپنې د ويلي کولو د فابريکو او نورو صنعتي محصولاتو د صادراتو پراخه زمينه برابرول او په ټوله کې د دغو توکو د صادراتو لپاره مناسبې لارې چارې عملي کول خورا اقتصادي اهميت لري، بايد پاملرنه ورته وشي. همدارنګه داسې نور ډېر مسائل شته چې د دې سکتور او په ځانګړې توګه د سپکو، لاسي صنايعو د پرمختګ او د صنعتي برخې د عمده ستونزو د حل لارو په توګه معرفي کېدی شي.

**پايله**

د صنعت پرمختګ د هېوادونو د پرمختيا د موتور په عنوان تعريف کېدای شي چې د همدې موضوع د اهميت په اساس ټولنې او هېوادونه هڅه کوي چې د صنعتي کېدو په لور چټک ګامونه واخلي، اما په دې برخه کې د بېلابېلو ستونزو او محدوديتونو له کبله دا پروسه له خنډ سره مخامخ کيږي. افغانستان هم يو له هغو هېوادونو څخه دی چې شاه و خوا (۱۸۰) کاله د مخه يې د صنعت سکتور ته عملي پاملرنه کړې ده خو تر دې دمه يې د ټولنې د اړتياوو د ځواب په موخه مناسبې لاسته راوړنې نه لرلی. له بله پلوه، په دې هېواد کې د صنعت پراختيا او له همدې ځايه د افغانستان د اقتصادي پرمختګ لپاره ډېر فرصتونه شتون لري، په همدې فرصتونو باندې تمرکز کول د شته ستونزو د حل لپاره اړين او مناسب اقدامات بلل کيږي. له وړاندې شويو ارقامو څخه څرګنديږي چې د صنعت په برخه کې د خصوصي سکتور ونډه د پام وړ ده چې په همدې موخه صنعت سکتور هر اړخيز ملاتړ د اقتصادي پرمختګ لپاره اړين شاخص بللی شو. په دغه برخه کې فعال ۱۲ صنعتي پارکونه د هېواد په

کچه د صنعت سکتور لپاره په هیڅ صورت بسنه نه کوي، نو دا اړتیا محسوسیږي ترڅو ټول پلان شوي صنعتي پارکونه ورغول شي، د فابریکو د فعالیتونو د پراختیا په موخه د دوی شته ستونزې، چې په څېړنه کې روښانه شوې، حل شي، د هېواد د اقتصادي زونونو په تفکیک سره په ځینو ولایتونو او سېمو کې د صنعتي پارکونو د ایجاد او پراختیا اړتیاوی تعریف او په دې برخه کې لازمې برنامې پلي کول د اقتصادي پرمختګ په موخه حیاتي ارزښت لري. له دې سره د صنعت اوسنی وضعیت چې تر ډېره دا صنایع په کور دننه د کارونې لپاره تولیدېږي؛ د صادراتو زمینه یې لا پراختیا مومي.

**وړاندیزونه**

۱. د کانونو وزارت، سوداګرۍ وزارت او د بهرنیو چارو وزارت ترڅنګ د افغانستان ملي سوداګرو او د سوداګرۍ خونې ته وړاندېز کیږي چې د بهرنیو پانګوالو د هڅونې په برخه کې لازمې برنامې طرح او د کورني تولید د ملاتړ ملي پالیسي طرحه او پلي کړي.

۲. د کانونو وزارت ته وړاندېز کیږي چې د کانونو د استخراج او په کور دننه د پروسس په برخه کې د پانګونې لپاره اړین ګامونه پورته کړي او د همدې برخې لپاره ملي پالیسي ایجاد کړي.

۳. د سوداګرۍ او مالیي وزارتونو ته وړاندېز کیږي چې د صنعت سکتور د خامو موادو په وارداتو او د محصولاتو په صادراتو کې یې لازمې اسانتیاوې رامنځ ته کړي.

۴. د لوړو زده کړو او پوهني وزارتونو او د مسلکي او تخنیکي اداري ته وړاندېز کیږي چې د صنعت سکتور د ځانګړي اهمیت په نظر کې نیولو سره د دې برخې د مسلکي کادرونو په روزنه کې موثرې برنامې طرح او تطبیق کړي.

۵. د افغانستان د علومو اکاډمي د طبیعي – تخنیکي علومو معاونیت ته وړاندېز کیږي چې د صنعت په برخه کې د ټولنې د اړتیا وړ بنیادي او

کاربردي څېړنې ترسره او پاليلي يې د تطبيق په موخه حکومتي مقاماتو او اړوندو سکتوري وزارتونو او ادارو سره شريکې کړي.

**مأخذونه**


۱- ارشاد، اورنگزيب. *افغانستان پېژندنه*. دريم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه: کابل. ۱۳۹۵

۲- امنه، حکمي. *د بهرنيو اسعارو په وړاندې د افغانيو د ارزښت د ثبات په هکله د نظر اختلاف*. نشر: ۱٤۰۲ ، خپرونکی:tolonews.com. [مراجعه: ۱٤۰۲/٦/٤هـ.ش.]

۳- خبر گذاری فارس. ((افغانستان در فهرست کشور های ثروتمند.)) ۱۳۹٤. لاسرسی: farsnews.ir، [مراجعه: ۱٤۰۲/٦/٥هـ.ش.]

۴- د احصائي او معلوماتو ملي اداره. *په ۱۳۹۷ کال کې د صنايعو ارزښت... احصائيوي کالنی ۱۳۹۷ هـ.ش*. شمارهٔ ٤۰، سال ۱۳۹۸هـ.ش. کال

۵- د احصائي او معلوماتو ملي اداره. *سروی عايد، مصرف خانوار و نيرو کار ۱۳۹۹ . کابل.*

٦- د افغانستان بانک، نرخ مبادله ۱٤۰۲/٦/٥هـ.ش. کال، کابل.

۷- دودیال، محمد بشير. *صنعتي اقتصاد*، لومړی چاپ، سهر مطبعه: کابل، ۱۳۹۹هـ.ش. کال

۸- سروري، عبدالرحمن. *صنعتي اقتصاد*. ژباړه: نورالله حقمل. د مسلکي او تخنيکي زده کړو اداره: کابل. ۱۳۹۲

۹- سلحشور، خليل. ((*صادرات ماشين آلات کشاورزی ساخت افغانستان به آسيا ميانه*))، خبرگزاری آناتولی: استانبول. ۲۰۲۳/٤/۲٦م. [مراجعه: ۱٤۰۲/٦/٥هـ.ش]

۱۰- سهاک، نقيب الله. *کان پوهنه*. د افغانستان ملي تحريک، فرهنگي څانگه: کابل، ۱۳۹٤هـ.ش کال

١١- عبدالنصيب. د اوسپنې د ويلي كولو فابريكو اوسنى وضعيت. عابد. ٢٠٢٤/٢/١٥.

١٢- العربيه فارسی. ((*ثروت طبیعی افغانستان چقدر ارزش دارد*))، لاس رسی: farsi.alarabiya.net/ ، [د مراجعه: ١٤٠٢/٦/٤هـ.ش.]

١٣- قویاش، حبیب الرحمن. ((*گشایش یک کارخانه تازه ذوب آهن در کابل*))، د خپرېدو نېټه: ١٤٠٢/٤/١٣هـ.ش. لاسرسی: tolonews.com. [مراجعه: ١٤٠٢/٦/٥هـ.ش.]

١۴- قویاش، حبیب الرحمن. گشایش یک کارخانه تازه ذوب آهن در کابل. ١٣/سرطان/١٤٠٢. https://tolonews.com/fa/afghanistan- ١٨٤٠٥٢

١۵- مهرامی، حسین. ((*جایگای صنعت در رشد و توسعه اقتصاد افغانستان*.)) ٢٠١٣: کابل. لاس رسی: www.bbc.com/persian/afghanistan/٢٠١٣/٠٩/١٣٠٩٠٦_k٠٥_afghan_industry [مراجعه: ١٤٠٢/٦/٤هـ.ش.]

١٦- وصال. *په ننګرهارکې د اوسپنې ویلي کولو په تولید* .... باختر اطلاعتي آژانس. کابل. لاسرسی: https://www.bakhtarnews.af/ [مراجعه: ١٣/سرطان/١٤٠٢هـ.ش.]

١٧- Momand, Samiullah. *Afghani among world's ٩ most stable currencies. Thekabultime: Kabul,* April/٦/٢٠٢٣. Retrieved from: thekabultimes.com. Access: [٢٦/august/٢٠٢٣].

څېړندوی حامد امان

# د افغانستان په پرمختګ کې د اوبو د مدیریت ونډه

# The role of water management in Afghanistan's development

***Assistant professor Hamid Aman***

**Abstract**

Afghanistan, which has significant freshwater resources, faces historical challenges in managing these vital resources. Afghanistan is one of the richest countries in the world in freshwater resources, but unfortunately, these important natural resources are not managed properly. This study examines the country's freshwater resources. In recent years, the implementation of large projects such as the Qush Tepa Canal, Pashdan, Bakhsh Abad, and Shah and Arous dams, as well as the construction of small dams or check dams, have played a key role in preventing floods, enriching groundwater, and meeting the water needs of local communities. As a result of good freshwater management, we can benefit from these natural resources in the development of the country, such as agriculture, livestock, and industry. The purpose of this study is to shed light on the role of water management in the development of Afghanistan.

The importance and relevance of this study focuses on the fundamental role of effective water management in Afghanistan's socio-economic development, agricultural

growth, energy production, and sustainable development. The article is written in a descriptive, analytical method that includes conclusions, recommendations, and references.

**لنډیز**

افغانستان چې د خوږو اوبو د پام وړ سرچینو درلودونکی دی، د دغو حیاتي سرچینو د مدیریت په برخه کې له تاریخي ننګونو سره مخ دی. افغانستان په نړې کې د خوږو اوبو زېرمو څخه بډای هېواد دی چې له بده مرغه دغه مهمې طبیعي زېرمې په سمه توګه ندې مدیریت شوي چې په دې څېړنه کې په هېواد د روانو اوبو زېرمې تر څېړنې لاندې نیولې شوې دي. په دې وروستیو کلونو کې د قوش تېپې کانال، پاشدان، بخش اباد او شاه او عروس بندونو په څېر د لویو پروژو پلي کول، د دې ترڅنګ د کوچنیو بندونو یا چکډېمونو جوړول هم د سېلابونو په مخنیوي، د ځمکې لاندې اوبو په غني کولو او د ځایی ټولنو د اوبو د اړتیاوو په پوره کولو کې کلیدي رول لوبولای دی. د روانو اوبو په ښه توګه مدیریت په پایله کې کولای شو له دغو طبیعي زېرمو څخه د هېواد د پرمختګ په برخه کې لکه کرنه، مالداري او صنعت کې ګټه پورته کړو، د دغې څېړنې موخه د افغانستان په پرمختګ کې د اوبو د مدیریت ونډه روښانول دي.

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت د افغانستان په ټولنیز اقتصادي پرمختګ، کرنیزې ودې، د انرژۍ په تولید او د پایښت لرونکي انکشاف په تامینولو کې د اوبو د اغېزمن مدیریت پر بنسټیز رول تمرکز شوی دی. یاده مقاله په توصیفي تحلیلی میتود لیکل شوې چې د پایلې، وړاندیزونو او مآخذونو لرونکې ده.

**سریزه**

افغانستان د لویو سیندونو په لرلو سره، د خوږو اوبو له نظره شتمن هېواد دی چې دغه سیندونه او اوبه تر۸۰ سلنې پورې د هندوکش له غرونو سرچېنه

اخلي له همدې امله د هېواد اقتصاد او پرمختګ تر ډېره حده پورې په اوبو ولاړ دی، دا ځکه چې افغانستان يو کرنيز هېواد دی او د دغه هېواد ډېری وګړي په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. د اوبو د سرچينو مديريت د هر هېواد د پرمختګ يو مهم عامل دی او افغانستان هم ترې مستثنی نه دی. په دغه هېواد کې د اوبو د پراخو زېرمو د شتون له امله، د هغوی سم مديريت د افغانستان په پرمختګ کې مهم رول لوبولی شي. د افغانستان د جغرافيايي موقعيت له مخې، پنځه اصلي اوبه ييزې حوزې ( امو، هلمند، کابل، هيرود - مرغاب او د شمال) سينديزې حوزې شتون لري. د دغه اوبه ييزو حوزو مرستيالان د کال په ټولو موسمونو کې ډېرې اوبه لري چې د کرنې او مالدارۍ د ودې لپاره يې لاره هواره کړې ده. که دغه اوبه په سمه توګه مديريت او کنټرول شي، د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې به مرسته وکړي او تر يوه حده به د هېواد اقتصادي ستونزې هوارې کړي. په افغانستان کې د اوبو د سرچينو مديريت د څښاک د اوبو رسول، د کرنيزې ځمکې خړوبول او د اوبو له سرچينو څخه د برېښنا توليد هدف دي. د اقليم د بدلونونو او د نفوس د چټکې ودې له امله، د اوبو سرچينو سم مديريت ډېر اړين دي تر څو تل پاتې پرمختګ وکړو. په افغانستان کې د اوبو د سرچينو مديريت کولای شي د کرنې د پراختيا او په دغه هېواد کې د کرنيزو محصولاتو د توليد په زياتوالي کې د يو مهم عامل په توګه وکارول شي. چې د کرنيزو محصولاتو په توليد کې دا ښه والی د هېواد له اقتصادي ودې سره مرسته کوي. سربيره پردې، په افغانستان کې د اوبو د سرچينو مديريت کولی شي د هېواد د وګړو لپاره د څښاک د اوبو په برابرولو کې مهم رول ولوبوي. د نفوسو د زياتېدونکي تمايل او د څښاک اوبو ته د اړتيا د زياتوالي په پام کې نيولو سره، په ښارونو او کليو کې د کارونې لپاره د اوبو د سرچينو چمتو کول يوه حياتي موضوع ده. د اوبو د سرچينو سم مديريت کولای شي په افغانستان کې د اوبو د بحران د رامنځته کېدو مخه ونيسي او له ټولنې سره مرسته وکړي چې له دغو زيرمو په

دوامداره توگه ګټه پورته کړي. همدارنګه، په افغانستان کې د اوبو د سرچینو مدیریت کولای شي د اوبو د برېښنا د بندونو له لارې د برېښنا په تولید کې مهم رول ولوبوي. د برېښنا د تولید لپاره د سیندونو له اوبو څخه په استفادې افغانستان کولای شي د خپلې برېښنا اړتیاوې پوره کړي او حتی ګاونډیو هېوادونو ته برېښنا صادره کړي. د برېښنا له صادراتو څخه دغه عاید د هېواد په پرمختګ او اقتصادي ودې لویه مرسته وکړي.

### د څېړنې اهمیت

د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره د اوبو برابرولو او د اوبو لګولو د لارو چارو د ښه والي په موخه د سطحي اوبو د سرچینو مدیریت د کرنې مالدارۍ او برېښنا د تولد لپاره د هېواد په پرمختګ کې اوبه یو له مهمو عواملو ګڼل کېږي. د چاپېریال ساتنې او اوبو د سرچینو  د پایښت لپاره د سطحي اوبو د سرچینو مدیریت خورا مهم دی. د اوبو د زیربناوو په جوړولو او د اوبو د سمې استفادې په کنټرول سره، د اوبو د کیفیت د ښه والي او د اوبو د سرچینو د ساتنې ډاډ ورکول شوني دي. د اوبو بحرانونه لکه وچکالي یا سېلابونه اوس په افغانستان کې ډېر عام شوي دي. د اوبو د بحران مدیریت او اغېزمنو سیمو ته د اوبو رسولو لپاره د سطحي اوبو د سرچینو مدیریت خورا مهم دی.

### د څېړنې مبرمیت

د دې لپاره چې په افغانستان کې د سطحي اوبو د سرچینو د مدیریت اړتیا درک شي، اړینه ده چې د مالي سرچینو نشتوالی، امنیتي بحران، اقلیمي بدلون او داسې نورو ننګونو ته پاملرنه وشي او د هغو سره د مقابلې لپاره لازم تدابیر ونیول شي. په دې کې د اوبو پر زیربناوو د پانګونې زیاتوالی، په ناکراره سیمو کې د امنیت ټینګول، د اقلیم له بدلون سره سمون او د قانوني او تنظیمي سیسټمونو ښه کول شامل دي. همدارنګه د نړیوالو سازمانونو او هېوادونو همکاري په افغانستان کې د سطحي اوبو د سرچینو په مدیریت کې اغېزمنه تمامېدای شي.

**د څېړنې موخه**

د افغانستان په پرمختګ کې د اوبو د مدیریت ونډه روښانول د دې مقالې اساسي موخه ده

**د څېړنې پوښتنه**

د افغانستان په پرمختګ کې د اوبو مدیریت څومره ونډه لري؟

**د څېړنې مېتود**

دغه موضوع په تحلیلی، توصیفي څېړل شوې او له بېلابېلو نړیوالو ژونالونو او کتابونو څخه ګټه اخیستل شوې او له بېلابېلو سټلایټونو څخه مکاني ارقام او معلومات راټول شوي دي.

**الف- د هېواد د روانو (سطحي) اوبو زېرمې**

انسانان د ژوند له پیله د اوبو له حیاتي مادې سره ټینګې اړیکې لري. اوبو د ژوندانه په دوام او په طبیعي ډول د انسانانو په پیدایښت کې مهم او حیاتي رول لوبولی دی. د اوبو سرچینې د ډېرو تمدنونو په جوړولو کې مهم او حیاتي رول لري. نو د دې حیاتي مادې په اړه د بېلابېلو قومونو د رواجونو او مراسمو برخه خورا مهمه او حیاتي ده. د اوبو اهمیت د هغو ملتونو لپاره چې په لږو خوړو اوبو کې ژوند کوي تر هغو خورا ډېر دی چې په ډېرو اوبو کې ژوند کوي. د ځمکې له سطحې څخه د ککړتیا د ننوتلو له امله د ځمکې لاندې اوبو ککړتیا او د حفظ الصحې نه مراعاتولو له امله د سطحي اوبو ککړتیا هم د اندېښنې لامل شوي دي. په ځمکه کې د اوبو خورا مهمې سرچینې دا دي: د ځمکې لاندې اوبه، د اتموسفیر اوبه "اورښت او واوره"، د سطحې اوبه "سیند، جهیل او د بحر اوبه. همدارنګه د ځمکې د اوبو یوه برخه په اتموسفیر کې د بخار په بڼه او بله برخه یې په طبیعي یخچالونو کې په جامد شکل کې شته. په دې سرچینو کې د زېرمه اوبو اټکل په دې ډول دی:

د افغانستان د اوبو تر ټولو مهمې سرچينې دا دي: څاګانې، چينې، اورښتونه، سطحي اوبه، سيندونه، جهيلونه، بندونه، طبيعي او مصنوعي زېرمې او يخچالونه په برکې نيسي (۳).

۱. جدول: له ۲۰۰۷-۲۰۱٦ ز.کال پورې د هېواد په اوبيزو حوزو کې د سطحي اوبو وړتيا (۱).




د افغانستان د نوي کېدو وړ اوبو ټول ظرفيت د ۲۰۰۷-۲۰۱٦ ز. کلونو لپاره (٦٦,۳۳) ميلیارده متر مکعبه اټکل شوی دی چې له هغې څخه سطحي اوبه (۴۹) ميلیارده متر مکعبه او د ځمکې لاندې اوبو ذخيره (۱۷,۱) ميلیارده متر مکعبه اټکل شوې ده. له دې چې افغانستان د خپلو اړتياوو پوره کولو لپاره کافي اوبه لري، مګر د اوبو زېرمې په مساوي ډوله نه دي وېشل شوي او يا د کال په اوږدو کې په مساوي ډول د لاسرسی وړ نه دي. د اصلي او فرعي سينديزو حوزو ترمنځ اوبو ته په لاسرسي کې د پام وړ توپيرونه شته. د آمو

سيندېزه حوزه کې د هېواد د ټولو روانو اوبو ۵۷ سلنه اوبه جريان لري. په ياده حوزه کې د هېواد د ټول نفوس يواځې ۱۴ سلنه وګړي ژوند کوي. د ټول هېواد د اوبيزو ځکمو له جملې ۲۳ سلنه او د هېواد په کچه د ټولو للمي ځمکو له جملې ۲۹ سلنه په دغې يزې حوزې کې پرتې دي. د کابل (اندوس) سيندېزه حوزه کې د هېواد د ټولو روانو اوبو ۲۶ سلنه بهېږي. د کابل (اندوس) اوبيزه حوزه کې د هېواد په کچه تر ټولو اوبيزو حوزو ډېر نفوس ژوند کوي چې ۳۵ سلنه جوړوي. په دغې حوزې کې د اوبيزو کرنيزو ځمکو سلنه ۲۳ ده، چې د هېواد په کچه ډېرې کمې زراعتي ځمکې دي. همدارنګه د هېواد په کچه د ټولو للمي ځمکو ۳ سلنه په دغې يزې حوزې کې پرته ده.

د هلمند سيندېزه حوزه چې کابو ۱۱۵۰ کيلو متره په افغانستان کې جريان لري. د هېواد د ټولو روانو اوبو ځخه ۱۱ سلنه په دغه سيندېزه حوزه کې بهېږي. په ياده حوزه کې د هېواد د ټول نفوس ۲۹ سلنه وګړي ژوند کوي. د ټول هېواد له اوبيزو ځکمو ځخه ۳۱ سلنه او د هېواد په کچه د ټولو للمي ځمکو له جملې ۵ سلنه په دغه سيندېزه حوزه کې پرتې دي.

د هريرود – مرغاب په سيندېزه حوزه کې د هېواد د ټولو روانو اوبو ۴ سلنه بهېږي، په دې اوبيزه حوزه کې د هېواد د ټول نفوس ۸ سلنه وګړي د هريرود – مرغاب اوبيزه حوزه کې ژوند کوي. په دغې حوزې کې اوبيزه کرنيزه ځکمه۱۱ سلنه ده. د هېواد په کچه د ټولو للمي ځمکو ۲۱ سلنه په دغه سيندېزه حوزه کې پرته ده. د هېواد د شمال په اوبيزه حوزه کې د روانو اوبو جريان په کال کې يواځې ۲ سلنه دی. په دغې اوبيزې حوزې کې د هېواد په کچه کابو ۱۴ سلنه وګړي ژوند کوي. په ياده اوبيزه حوزه کې اوبيزه کرنيزه ځکمه ۱۵ سلنې ته رسېږي او د ټول هېواد په کچه د للمي کرنيزې ځمکې ۴۲ سلنه ته رسېږي. په افغانستان کې د اوبو او د کرنيزو ځمکو وېش نااندېوله دی، چې د کرنيزو ځمکو او مېشتو وګړو اړتياوې په سمه توګه نه شي پوره کولای، د بېلګې په توګه د آمو سيندېزه حوزه چې د هېواد د ټولو اوبو (۵۷)

سلنه اوبه لري د هېواد يواځې (۲۳) سلنه کرنيزه ځمکه په کې پرته ده. پرعکس د شمال سينديزه حوزه چې د هېواد (۱۵) سلنه کرنيزه ځکمه او ۴۲ سلنه للمي ځمکې په کې پرتې دي د هېواد يواځې (۲) سلنه اوبه په کې بهېږي.

په افغانستان کې تر ټولو مهم غرونه چې لوړې څوکې لري د هندوکش او د هغې کوچنۍ څانگې دي، چې له واورو او يخچالونو ډکې دي. په افغانستان کې د اورښتونو اوسط په کال کې له۲۵۰ څخه تر ۴۵۰ ملي مترو رسېږي. په سالنگونو کې اورښت په کال کې تر زرو ملی مترو پورې رسېږي. د هندوکش مرکزي سيمې د اوبو يوه لويه سرچينه ده چې د افغانستان ډېرې يزې حوزې له دغو غرونو سرچينه اخلي. په هېواد کې هغه سيمې چې ډېرې اوبه لري کونړ، لغمان، نورستان، پنجشير، بدخشان او تخار ولايتونه دي. د افغانستان د اوبو ۸۰ سلنې سيندونو د هندوکش له غرونو سرچينه اخيستې ده . په ټول هېواد کې څو سوه واړه سيندونه او تر ۲۵ زيات لوی سيندونه شته (۳).

د افغانستان تر ټولو مهم سيندونه چې له پراخو ميدانونو او ځمکو څخه تېرېږي د آمو، هلمند، کابل، اندراب ، کندز، هريرود او مرغاب سيندونه دي.

**ب- د افغانستان سينديزې حوزې**

افغانستان پنځه سترې سينديزې حوزې او ۳٦ فرعي يزې حوزې او مرستندوی سيندونه لري:

۱. د کابل (اندوس) سينديزه حوزه ( د گل بهار، پنجشير، کابل، لوگر، عليشنگ، علينگار، سرخرود او کونړ سيندونه)؛

۲. د آمو سينديزه حوزه ( د واخان، کوکچه، کندز، اندارب او خنجان سيندونه)؛

۳ . د هلمند سينديزه حوزه ( د ارغنداب، غزني، ترنگ ارغستان او موسی قلعه)؛

٤. د هريرود - مرغاب سينديزه حوزه ( د هيرود، مرغاب، شيرين تګاب، کشک، ادرسکن، کوشان، قيصار، ګران او خاشرود سيندونه)؛
٥. د شمال سيندیزه حوزه ( بلخاب او سرپل سيندونه) (۲ص. ٦٠-٧٠).




١. شکل: د هېواد د سيندیزو حوزو نقشه (د څېړونکي کار).

پورتنۍ نقشه کې په هېواد کې پنځه اصلي سيندونو حوزو د منبع او د سيندونو د مسير ښودنه کوي، او په يادو سيندونو کې د کلونو په توپير اوبه جريان لري چې په لاندې جدول کې ښودل شوې دی.

۲ . جدول: د هېواد په سیندیزو حوزو کې د اوبو اوسط ډول بدلون (۳).

| یزه حوزه | د ۱۳۴۸- ۱۳۵۹ ل. لپاره د اوبو شتون د میلیارد متر مکعب په حساب | د ۱۳۸۷- ۱۳۹۵ ل. لپاره د اوبو شتون د میلیارد متر مکعب په حساب | د ۱۳۹۵- ۱۳۰۹ ل. لپاره د اوبو شتون د میلیارد متر مکعب په حساب | د اوبو شتون کې ۱۳۹۵ ل پورې سلنې. په حساب | ۱ د اوبو شتون کې د بدلون تر ۱۴۰۹ل. پورې د سلنې په حساب |
|---|---|---|---|---|---|
| کابل | ۱۹,۳ | ۱۷,۱ | ۱۵,۳ | -۱۱,۳ | -۲۰ |
| آمو | ۲۱,۵ | ۱۸,۷ | ۱۷,۳ | -۱۳,۸ | -۲۱ |
| هلمند | ۱۰,۴ | ۸,۴ | ۷,۱ | -۱۹ | -۳۲ |
| هریرود - مرغاب | ۳,۴ | ۲,۵۳ | ۱,۶ | -۲۵ | -۵۲ |
| شمال | ۲,۱ | ۲,۲ | ۲ | +۱,۵ | -۵ |
| افغانستان | د اوبو ټولیز شتون | | | منځنی بدلون | |
| | ۵۷ | ۴۹ | ۴۳,۳ | -۱۳,۵ | -۲۶ |

پورتني جدول ته په کتو په وروستیو لسیزو کې د روانو اوبو کچه مخ پر کمېدو ده، چې له۱۳۴۸-۱۳۵۹ ل. کلونو پورې په منځني ډول د سطحي

اوبو په جريان کې ۱۳،۵- سلنه کموالی راغلی دی. په راتلونکو کلونو کې د ياد مقدار د زياتېدلو امکان شته ښايي تر ۱۴۰۹ل. کال پورې کابو ۲۶- سلنې ته دغه کچه پورته شي. په افغانستان کې په ۱۳۵۹ ل. کال کې د هر نفر په سر ۱۴۰ متر مکعبه اوبه رسېدلې په ۱۳۹۴ ل. کال کې بيا په هېواد کې د هر نفر په سر ۷۲ متر مکعبه اوبه رسېدلې چې په آسيا کې د سړي سر اوبو تر ټولو ټيټه کچه ده. د اقليمي بدلونو په پايله کې به په ډېرو وچو او نيمه‌گرمو سيمو کې د نوې کېدو وړ سطحي او د ځمکې لاندې اوبه کمې کړي. له دې امله به د سکټورونو ترمنځ د اوبو پر سر سيالۍ ډېرې زياتې شي. د اقليم بدلون اوسنۍ وړاندوينې ښيې چې تر ۲۱۰۰ ز. کال پورې به د افغانستان د اورښت کچه په نسبي ډول ثابته پاتې شي، خو په عام ډول د تودوخې درجې زياتوالی به په ټول هېواد کې د تبخير او تعرق د زياتوالي سبب وگرځي کوم چې به د اورښت په مرسته جبران نشي. او پايله به يې اوبو سرچينو ته په لاسرسي او اوبو دوران باندې منفي اغېزې وکړي (۳).

**ج- په هېواد کې د اقتصادي پرمختگ لپاره د اوبو مديريت**

په افغانستان کې له اوبو څخه د استفادې هڅې په ۱۹۶۰ ز. کال کې پيل شوي دي، چې د بېلابېلو جگړو له امله پای ته ونه رسېدې. په تېره يوه نيمه لسيزه کې افغان دولت او ملت يو ځل بيا پرېکړه وکړه، چې د نړۍ د هېوادونو په تخنيکي او علمي همکاريو سره د هېواد اوبه مديريت کړي. د دې نادرې شتمنۍ اداره کولو او په هېواد کې د ودې او دوامداره پرمختگ لپاره د افغانستان د اوبو په ځانگړې توگه د روانو اوبو مديريت د دې سبب گرځي، چې د بېوزلۍ ختمولو، امنيت راتللو، روغتيا، سيمه‌ييزې سوکالۍ او په هېواد کې د سوداگرۍ او کرنې د ودې لامل شي. د نېکمرغۍ ځای دی چې په هېواد کې د تلپاتې پراختيا او د اوبو د مديريت په موخه هر اړخيزې هڅې پيل، يوه هر اړخيزه ستراتيژي جوړه او په دې وروستيو کلونو کې د پام وړ لاسته راوړنې ليدل شوې دي، چې تر ټولو وروستۍ يې د کجکي نوی فاز

بشپړونه ده. د اوبو په سرچینو کې کموالی او نشتوالی، د ټولنو صنعتي کېدل، د سړي سر مصرف زیاتوالی او د اقلیم د بدلون ننګونې د دې لامل شوې چې په نړۍ د خوړو اوبو په سر د هېوادونو ترمنځ سیالی مخ په ډېریدو شي. څېړنې ښیي چې په ۲۱ پېړۍ کې د ډېرو هېوادونو امنیت د دوی د اوبو په ستراتېژۍ پورې تړلی دی.

په ځرګنده توګه لېدل کېږي چې د شلمې پېړۍ له وروستیو لسیزو راهیسې نړیوالو سازمانونو، ملي شرکتونو، نادولتي سازمانونو، ملي او نړیوالو حکومتونو د اوبو د سرچینو مدیریت او کارولو ته ډېره پاملرنه کړې او ورځ تر بلې په ټوله نړۍ کې د اوبو د مدیریت ارزښت مخ په زیاتېدو دی دا ځکه چې د هېوادونو پرمختګ په خوړو اوبو پورې تړلی دی. که چېرې په هېواد کې د شته بندونو ترڅنګ په سیندونو باندې د اوبو بندونه جوړ شي، نه یواځې چې د دغه ارزښتناکه طبیعي زېرمو څخه به مو مؤثره ګټه پورته کړې وي، بلکې په لاندې برخو کې هم ترې په ښه توګه ګټه پورته کړې وي.

۱ . د کرنیزو ځمکو د پرختیا لپاره د ځمکو خړوبول؛

۲ . د برېښنا د انرژۍ د تولید لپاره؛

۳. د ځمکو لاندې اوبو د تقوي لپاره د اوبو ذخیره کول؛

٤. د سېلابونو د تخریب د شدت کمولو او په بېلابېلو برخو کې د سېلابونو د اوبو څخه ګټه اخېستنې په برخه کې؛

٥ . په سیمه کې د نباتي پوښښ پراخول.

په بېلابېلو حیاتي برخو کې د اوبو له زېرمو څخه په سمه توګه ګټه اخېستلی شوو.

**د- د کرنې او برېښنا انرژۍ په تولید کې د اوبو مدیریت رول**

د برېښنا انرژي د هېواد د پرمختګ اساسي وسیله ده؛ او کوم هېوادونه چې انرژۍ ونلري نو د اقتصادي پرمختګ له امله له نورې نړۍ څخه وروسته پاتې وي چې افغانستان هم د انرژۍ د نشتون له امله په بېلابېلو برخو کې تراوسه

پورې وروسته پاتې دي له همدې امله افغانستان څنګه چې لازمه ده د نړۍ د نورو هېوادونو پشان پرمختګ ندی کړی.

د افغانستان دولت هوډ لري چې د ملي ګټو په لومړيتوبونو کې د خپلو اوبو د زېرمو کنټرول او مديريت وکړي. ځکه د اوبو مديريت د افغانستان د دوامداره او پر ځان بسيا ودې او پرمختګ لامل ګرځي. د افغانستان د دولت له خوا ۳۶۰ لوی او کوچنی بندونه، د اوبو کانالونه، د سيندونو د څنډو ټينګول، د اوبو د تاسيساتو ساتنه او پالنه، د کرنيزو اوبو د سرچينو او د اوبو رسولو پروژې پلان شوي او ډېرې يې بشپړې شوې هم دي. د ساري په ډول د قوش تېپې کانال او د بخش‌آباد کانال د پروژو يادونه کولای شو چې په هېواد کې د روانو اوبو د مديريت لپاره ښه زېري دي.

په وروستيو کلونو کې په هېواد کې د روانو اوبو د مديريت کولو لپاره واړه او لوي بندونه طرحه شوي دي چې د ځينو چارې بشپړې او د ځينو نور يې لا هم ادامه لري د بېلګې په ډول هرات ولايت کې د سلمابند او د نيمروز ولايت د کمال‌خان بند چې کارونه يې بشپړ شوي دي.



۲. شکل: په هېواد کې د سطحې اوبو د مدیریت لپاره په بېلابېلو سیمو کې د بندونو جوړېدل (د څېړونکي کار).

د چاروا‌کو په وینا، د افغانستان حکومت د اوبو د سرچینو د مدیریت هر اړخیز پروگرام تر لاس لاندې نیولی او د بشري سرچینو د ظرفیت د لوړولو ترڅنګ یې د اوبو د بندونو په جوړولو او کرنیزو ځمکو ته د اوبو د جریان د بدلون په برخه کې هم جدي کار کوي.

د قوش تېپې کانال پروژې چې ۲۸۵ کیلومتر اوږدوالی لري د دغې پروژې په عملي کولو سره به (۲۵۰) زره کاریګرو ته د کار زمینه برابره شي او ورسره به (۳,۵ میلیونه جریبه مځکه) خړوبه شي، چې د کرنې د پرمختګ ستر فرصتونه به رامنځته کړي، یاده ملي پروژه پرته له شک څخه د هېواد په پرمختګ کې مهمه ونډه لري د بېلګې په ډول د دغې پروژې په پلې کېدو سره به په هېواد کابو ۱۷۵۰۰۰۰ تنه په مستقیم ډول او تر دې ډېر نور به د دغې سیمې له محصولاتو څخه برخمن شي چې په دې سره به په هېواد کې تر ډېر حده د بیکارۍ کچه کمه شي او خلکو ته به د کار زمینه برابره شي.

لاندې نقشې ته په کتو ویلای شو چې د هېواد توپوګرافي داسې ښودنه کوي چې په کمه فاصله کې د اوبو د زېرمه کولو لپاره ډېر لوی پوټنشیل موجود دی. سره له دې چې له کابله تر جلال آباد په دې مسیر کې د امکان تر حده د اوبو بندونه جوړ شوي دي او د برېښنا او کرنې په سکتور کې ترې هم ډېره ګټه پورته کېږي؛ خو په همدې سیمه کې کېدای شي په هر څو کیلومترۍ کې د برېښنا د تولید لپاره بندونه پلان او جوړ شي، ځکه په یاده سیمه کې د برېښنا د تولید لپاره ډېر لوی ظرفیت موجود دی. د افغانستان اراضی د جوړښت له امله په دغه هېواد کې په بېلابېلو سیندیزو حوزو کې د برېښنا د انرژۍ د تولید ظرفیت چې مقدماتي سروې ترسره شوې ده افغانستان کې ۲،۵ میلیونه کیلواټه برېښنا په یو ساعت کې تولیدلای شي. که چېرته د یو کیلو واټ برېښنا بیه په منځنې ډول ۵ افغانۍ وي پرته له شک

څخه افغانستان په کال کې د میلیاردونو امریکایي ډالرو په ارزښت برېښنا څخه عواید راټولولی شي.(۱ص.۱۴۹-۱۵۱).

همدانګه د هېواد په هره سیندیزه حوزه کې دغسې د اوبو د زېرمه کولو وړتیا شته چې په تولیدي صعنت، کرنه، مالدارۍ او په ټوله کې د هېواد په اقتصاد باندې مثبتې اغېزې لرلی شي.

د اوبو بندونه یواځې په زراعت او مالدارۍ، صعنت او اقتصاد باندې اغېزې نه لري، بلکې د ځمکې لاندې اوبو زېرمې هم تقویه کوي. د بېلګې په ډول په کابل ښار له ۲۰۰۱ ز. کال را په دې خوا د ځمکې لاندې اوبه ورځ تر بلې مخ په کمېدو دي چې په ښار کې یې د خلکو ژوند له ګواښ سره مخامخ کړی دی. د کابل ښار کې خلک په ساعتونو ساعتونو انتظار کوي چې د څښاک لپاره اوبه لاسته راوړي. دا چې د کابل ښار په وروستیو لسیزو کې غیر متوازن پرمختګ کړی دی او په ښار کې د نفوس کچه د ښار د منابعو په انډول زیاته ده، په دغه کار سره د اوبو مصرف ډېر شوی؛ خو د اوبو د زېرمو د پیاوړتیا (ریچارج) مخه نیول شوې ده ( ۵ص.۱۲ ).



۳. شکل: په هېواد کې د سطحي اوبو د مدیریت او په سیمه کې د بندونو د جوړېدلو پوټنشیل نقشه (د څېړونکي کار).

د کابل ښار د ځمکې لاندې اوبو د تغذیې لپاره یواځې له کابل سینده د ګټې اخیستنې لاره پاتې ده او یو لړ اقدامات شته چې د ځمکې لاندې اوبو کمښت جبرانولای شي. دغه چاره د منصوعي تغذیې په مېتودونو کېدای شي. د مستقیمې تغذیې له لارې کولای شو د ځمکې لاندې اوبه تر یو حده تغذیه شي. د کابل د فرعي یزې حوزې(مرکزي کابل، پورتنی کابل پغمان، شمالي، لوګر او ده سبز) له لارې د کابل د ښار د ځمکې لاندې اوبه تغذیه کېدای شي. د کابل ښار د شاه توت او خاکجبار د اوبو بندونو جوړول به د کابل ښار د ځمکې لاندې اوبو په تغذیه کې لوی رول ولوبوي. اقلیمي تغییراتو او له اوبو څخه نامناسبې استفادې د هېواد په نورو سیمو کې هم دغه ګوانښ زیات کړی، نو لازمه ده چې په هېواد کې د روانو او د ځمکې لاندې اوبو ښه مدیریت وشي، چې د دغې حیاتي مادې په مدیریت سره د خلکو په ژوند کې مثبت تغییرات راشي.

افغانستان په اصل کې یوه کرنیزه ټولنه ده، چې ۸۰ سلنه یې په کلیوالو سیمو کې ژوند کوي او په مستقیمه توګه د ژوند لپاره په طبیعي منابعو (کرنه، څرځایونو او ځنګلي محصولاتو) ډېره لګوي. څرنګه چې اورښت د هېواد په ډېرو برخو کې کم او متغیر دی او توپوګرافي او خاورې یې د کرنې لپاره مناسبې دي، یواځې څو بارانې سیمې د ژوندانه لپاره د باور وړ بنسټ برابرولی شي. په ۱۹۷۸ز. کال کې سروې وښودله چې ۸۰ سلنه غنم او ۸۵ سلنه ټول حاصلات په خړوبو شویو ځمکو کې تولید شوي. د اوسني وضعیت لپاره هم دغه راپور وړاندې شوی دی. له همدې امله په افغانستان کې د کرنې او خوراکي توکو خوندیتوب، پراختیا او وده د اوبو لګولو په پراختیا پورې تړلې دي. په افغانستان کې د اوبو د سرچینو مدیریت په اصل کې د اوبو لګولو د اوبو مدیریت په افغانستان کې د اوبولګولو د ټولو سیستمونو نږدې ۹۰

سلنه چې کابو ۲,۳ میلیونه هکتاره مساحت لري دودیز سیستمونه د بزګرانو له خوا رامنځته او جوړ شوي او د دوی له خوا پرمخ وړل او ساتل کېږي. (٦ ص.۱۱-۲۲ ).

د دودیزو تولنیزو دودونو له مخې په ټولیزه توګه پرمختللي اوبولګولو ساحه په ۱۹۷۸ز.کال کې۲,٦۳میلیونه هکتاره اټکل شوې وه چې یواځې ۱,۴۴ میلیونه هکتارو یې کافي اوبه درلودې. د اوبو په سیستمونو باندې د جګړې اغېزې په سیستماتیک ډول نه دي ارزول شوي. په هرصورت، د ۱۹۹۷ز.کال د خوړو او کرنې سازمان د اټکلونو له مخې،شاوخوا۱,۷ میلیونه هکتاره ځمکه بیارغونې ته اړتیا لرله او نور میلیونه هکتاره په کروندو کې د اوبو د مدیریت ښو شرایطو ته اړتیا لري. د اوبو بېلابېلو چینل مدیریت په بشپړه توګه سقوط شوی و. یاد چینلونه په بشپړه توګه تړل شوي یا مات شوي او یا هم هغسې د پخوا په څېر کار نه کوي. د اوبو لګولو کابو ۴٦ ساختمانونه زیانمن شوي او ۸۸ د اوبو لګولو دودیز جوړښتونه دي. د بېلګې په توګه، د پروان د پروژې له مخې د اوبولګولو زمینه له ۲۵۰۰۰ هکتارو څخه ۱۰۰۰۰ هکتارو ته راټیټه شوې ده چې په کانالونو کې د تخریب او ناسمې ساتنې له امله رامنځته شوې ده. په ورته ډول د اوبو لګولو ځمکې د ۱۹۷۸ز. کال راهیسې په چټکۍ سره کمې شوې دي، چې له۲,۸ میلیونو هکتارو څخه شاوخوا ۱,۲ میلیونه هکتارو ته راکمې شوې دي. دا په عمده توګه د وچکالۍ او د سطحي اوبو د اسانتیاوو د ساتنې د نشتوالي له امله دي. کوچني بندونه او د کانال سیستمونه د اوبو لګولو په عصري سیستمونو باندې د جګړې غیرمستقیم اغېز د دودیزو طرحو په پرتله خورا ډېر تاثیر کړی دی.

د اوبو زېربناوې نورو هېوادونو ته د بزګرانو د مهاجرت او د اوبو لګولو د سیستمونو د پرېښودو له امله پاتې دي او ویجاړېدو سره مخامخ دي. د کروندګرو له خوا د نه ساتنې له امله شاوخوا ۴۰ سلنه ځمکه پرې شوې او ۱۰ سلنه ځمکه د جګړو له امله په بشپړه توګه ویجاړه شوې ده. د اوبولګولو د ټولو سیستمونو شاوخوا نیمایي ترمیم ته اړتیا لري.  له نېکه مرغه په وروستیو کلونو کې تر یو حده په هېواد کې د اوبو د مدیریت له امله د کرنېزو ځمکو په خړوبولو کې ښه والی راغلی دی چې د

سرشمېرنې او معلوماتو د ملي ادارې د ۱۴۰۲ ل. کال د راپور پر بنسټ په هېواد کې کابو ۲,۸ میلیونه هکتاره ځمکه تر کرنې لاندې راغلې ده. له دغې جملې ۲ میلیونه هکتاره اوبیزه کرنیزه ځمکه او کابو ۸۰۴ زره هکتاره للمي ځمکه د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د کښت وړ ده (۷ص۱۰-۲۵ ).

د ۱۴۰۲ ل. د سنبلې میاشتې په اومې نېټې د جاپان هېواد په مالي مرسته د افغانستان په ختیځ کې په کونړ ولایت کې د اوبو د مدیریت لپاره ۹,۵ میلیونه امریکايي ډالر په ارزښت یو حیاتي د اوبو کانال جوړ وي چې د دغه کانال په جوړېدو سره له ۷۰ هکتاره ځمکې څخه ۷۷۴ هکتاره ځمکه خړوبه شي. چې د یاد کانال اقتصادي اغېزي به د دې ولایت د وګړو په ژوند کې په راتلونکې کلونو کې څرګنده شي.

د دغه پروګرام په پلې کېدو سره چې ۷۰۴ هکتاره ځمکه په یاد ولایت کې خړوبه شي که چېرته په یو هکتار ځمکه کې ۲,۹ تنه غنم تولید کړي په یاد ولایت کې ۲۰۴۱,٦ تنه غنم تولید شي چې د اقتصادي ودې له پهلوه د یاد ولایت د خلکو په ژوند کې د مثبت تغییر لامل کېږي چې په پایله کې د هېواد د پرمختګ سبب ګرځېدای شي(۴).

افغانستان د خوږو اوبو غني هېواد دی؛ خو د بېلابېلو دلایلو له امله د دې هېواد وګړي په شته اوبو کې اوس هم د څښاک، زراعت، مالدارۍ او صنعت د اوبو له کمښت سره مخامخ دي او څرنګه چې لازمه ده هغسې ګټه یې له خپلو اوبو نه ده پورته کړې. ورځ تر بلې دغه چاره په هېواد کې په لویې ننګونې بدلېږي. دولت ته لازمه ده چې د هېواد د اوبو مدیریت لپاره له نړیوالو او داخلي قوانینو او پالیسیو څخه ګټه واخلي او د اوبو مدیریت وکړي.

څرنګه چې په نړۍ کې خوږې اوبه محدودې دي او له بل پلوه د ټولنې اقتصادي پرمختګ او د چاپېریال ساتنې لپاره دغه حیاتي ماده ډېره اړینه ده، له همدې امله دولت او خلکو ته لازمه ده چې دغه حیاتي ماده په ښه توګه مدیریت کړي. اوبه چې پر اقتصادي ګټې سربېره سیاسي، امنیتي،

اجتماعي، معیشتي او حیاتي ارزښت لري ډېره اړینه ده چې په هېواد کې د اوبو مدیریت ته لازمه توجه وشي.

باید په ټولنه کې پرته له هر نوع تعبیض د ټولنې هر وګړي ته د څښاک، معیشت، کرنې او مالدارۍ او صنعت په برخه کې اوبه چې حیاتي ماده ده، په مساوي ډول وویشل شي. همدارنګه دې د تلپاتې پرمختګ لپاره اوسنی نسل د ضرورت وړ اوبه د راتلوونکي نسل د ضرورت په نظر کې نیولو سره مدیریت کړي، چې راتلونکي نسلونه هم له دغې حیاتي مادې څخه برخمن وي.

افغانستان غرنی هېواد دی، سمندر ته لاره نه لري او په وچې پورې تړلی هېواد دی؛ خو د خوږو اوبو لویې سرچینې لري؛ خو د اوبو د سرچینو په مدیریت سره کولای شي چې د هېواد په بېلابېلو سکتورنو کې د پام وړ پرمختګ وکړي، چې د هېواد د وګړو په ژوند کې د مثبتو تغییراتو لامل شي. د افغانستان طبیعي منابعو څخه لازمه ګټه نه ده اخیستل شوې؛ له دغو منابعو څخه یوه هم خوږې اوبه دي. که چېرته دغه منابع مدیریت شي بې شکه د هېواد په سیاسي او اقتصادي پرمختګ کې به د مثبت بدلون لامل شي.

افغانستان د اوبو مدیریت کې کولای شي چې د هېوادونو تر منځ متوازن سیاسي، امنیتي، اقتصادي او اجتماعي اړیکې ټینګې کړي.

افغانستان په بېلابېلو برخو کې د برېښنا انرژۍ ته ډېره اړتیا لري، لازمه ده چې د برق له انرژۍ څخه په مختلفو سکتورنو ګټه واخیستل شي.

**پایلې**

۱. په افغانستان کې د اوبو د زېرمو د اوسني وضعیت په شننې او بیاکتنې کې معلومه شوه، چې اوس هم د هېواد د اوبو په مدیریت کې ستونزې او ننګونې شته.

په افغانستان کې په بېلابېلو سیندیزو حوزو کې د برېښنا د انرژۍ د تولید ظرفیت د مقدماتي سروې له مخې کابو ۲،۵ میلیونه کیلواټه برېښنا په یو

ساعت کې د تولید توان لري چېرته په دغه برخه کې سرمایه گذاری وشي پرته له شک څخه د افغانستان په پرمختګ کې مهم رول لرلی شي.
۲- د برېښنا په تولید او د سیمې هېوادونو ته د صادرولو په برخه کې پر ځان بسیا کول د کرنې او مالدارۍ د ودې، پراختیا او پیاوړتیا له لارې د فقر او بېکارۍ پر ضد مبارزه چې د هېواد د اوبو د مدیریت په پایله کې د بې وزلۍ د له منځه وړلو او د هېواد د سرې سر عاید د زیاتوالي له لارې په نړۍ باندې د افغانستان د انحصار کمول، گاونډیو هېوادونو ته د اوبو د جریان د اغېزمن او غوره مدیریت او د لوی مقدار ضایع کېدو مخنیوي له لارې په سیمه کې اقتصادي سوکالي د هېواد او سیمې د چاپیریال ساتنه او بیا ژوندي کول.
۳. په راتلونکې دریو کلونو کې د قوش تېپې کانال په جوړېدلو سره په یاده پروژه کې ۲۵۰ زره تنو وگړو ته د کار زمینه برابره شي که په منځنۍ کچه په هرې کورنۍ کې ۷ تنه په پام کې ونیسو، نو ۱۷۵۰۰۰۰ تنه وگړي به په هېواد کې له دغې پروژې څخه په مستقیم ډول برخمن شي.
۴. د دغې څېړنې پر بنسټ معلومه شوه چې د اوبو مدیریت اوس هم د هېواد په اکثره سیمو کې په دودیز ډول دی د اوبو په مدیریت کې لا هم ډېر کار ته ضرورت لري چې د مدیریت په پایله یې په هېواد کې د اقتصادي پرمختګ لامل شي.
۵. د اورښتونو او سېلابونو د اوبو په مدیریت باندې کولای شو چې له یادو اوبو څخه په بېلابېلو برخو کې گټو اخیستلای شو چې په پایله کې د ځمکې لاندې اوبه تغذیه او د اسراف مخنوي کېږي چې په دې سره به د خوږو اوبو زېرمې ښوندي وي
٦. په وروستیو کلونو کې د افغانستان اسلامي امارت هوډ لري چې د اوبو مدیریت وکړي چې په ټول هېواد کې بېلابېلې وړې او ملي پروژې چې د اوبو لوی او واړه بندونه پکې شامل دي، همدارنگه په بېلابېلو سیمو کې د زراعت لپاره د اوبو لگونې د څاڅکو سیستمونو څخه گټه اخیستنه کېږي چې تر ډېر

حده اوبه مدیریت کېږي او په حاصلاتو کې ډېروالی راځي چې په دغه سیستم باندې کولای شو چې د اوبو ضایعات تر ۷۰سلنه راکم کړو.

**وړاندیزونه**

۱. څرنګه چې څېړنو ښودلې ده په افغانستان کې له اوبو څخه کابو ۲۳۰۰۰ میګاواټه برېښنا تولیدای شي، اما بدبختانه سره له دې چې هېواد د برېښنا د شدید کمښت سره مخ ده خو په دې برخه کې تر اوسه کوم مؤثر اقدام ندې ترسره شوی، بناء پردې اړوندو ادارو ته وړاندیز کېږي چې د اوبو په مهارولو او د برېښنا په تولید کې رغنده ګامونه پورته کړي.

۲. لکه څرنګه چې معلومه ده په افغانستان کې هر کال کابو تر نیمایي ډېرې کرنیزې ځمکې د اوبو د کمښت او نشتون له کبله له کښت څخه پاتې کېږي، سربیره پر دې چې د افغانستان په کافي اندازه اوبه لري نو له همدې امله د کرنې اوبو لګولو وزارت ته وړاندېز کېږي چې د سربندونو، بندونو، کانالونو او... په جوړولو جدي اقدام وکړي ترڅو له یوې خوا شاړې ځمکې تر اوبو لاندې راشي ترڅو افغانستان د کرنیزو توکو په برخه کې په ځان بسیا شي.

۳. دولت باید د اوبو د مدیریت په پایله کې هېوادوالو ته په اجازه باندې په طویل المدت ډول ځمکې توزیع کړی ترڅو وکولای شي چې د کورنۍ تر څنګ د هېواد په پرمختګ کې هم مهم رول ولري.

دولت باید په بېلابېلو سیندیزو حوزو کې د برېښنا بندونه جوړ کړي د کورني ضرورت پوره کولو ترڅنګ باید افغانستان د برېښنا د انرژۍ په صادرونکي هېواد بدل شي.

۴. د اوبو د سرچینو د ښو کارولو لپاره باید نوې ټکنالوژۍ ته وده ورکړل شي. په دې کې د څاڅکو اوبو لګولو سیستمونه کارول، د اوبو مصرف کنټرولولو لپاره د ځیرکو سیستمونو کارول او د اوبو پاکولو او ذخیره کولو لپاره د نوو مېتودونو کارول شامل دي.

۵. د اوبو د سرچینو د ساتلو او دوامداره ګټې اخیستنې لپاره، اړین اقدامات باید ترسره شي. په دې کې د اوبو د سرچینو ساتنه او بیارغونه، د لنده بل ساتنه، د ځمکې لاندې اوبو د سرچینو د مسوولانه کارونې هڅول او د بدیلو اوبو د سرچینو لکه د اورښتونو او سېلابونو مدیریت کول.

٦. د هېواد د بیارغونې او پرمختګ لپاره لازمه ده چې د اوبو مدیریت وشي. باید په هېواد کې د ټولو اوبو په اړه کره دقیق ارقام او معلومات راټول شي. همدارنګه دې له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو تړون لاسلیک او د اوبو بیه دې معلومه شي.

۷. په هېواد کې دې د زراعت په برخه کې له نوې ټکنالوژۍ څخه په ګټې اخېستنې د اوبو (قطره يي) سیستمونو په ترویج کې له بزګرانو سره همکاری وشي، چې په یاده برخه کې د اوبو ښه مدیریت وشي او د زراعتي محصولاتو د ښه کولو لپاره دې د زراعت سکتور مېکانیزه شي، چې د هېواد په اقتصاد باندې خپل مثبت اثر پرې باسي. دغه ټولې موخې د اوبو په مدیریت سره لاسته راځي.

**مآخذ:**


۱. تنیوال، محمد ظریف. جغرافیای اقتصادی افغانستان، چاپ دوم، مطعبه کاروان: ۱۳۹۳ هـ.ش.

۲. عابد، شوکت الله. د افغانستان د اقتصادي پرمختیا عوامل، لمړی چاپ، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست: ۱۴۰۲ ل.

۳. د ملګری ملتونو د اقلیمی بدولونو چوکات کانواستون ته د افغانستان لمړی دو کلن راپور ۱۳۹۸ل.

۴. د احصايې او معلوماتو ملي اداره، د عامه اطلاعاتو ریاست، تخمین ساحات تحت کشت به تفکیک آبی و للمی در سال ۱۴۰۳ هـ.ش.

۵. Ahmad, R., Musa, M.F. and Najibullah, M. S., ۲۰۰۲. Water and Health. WHO Report, Kabul,

Afghanistan.

٦. Klemm, Walter, ١٩٩٧. Afghansitan Agricultural Strategy. FAO Report No., TCP/AFG/٤٥٥٢,

Rome, Italy.

٧. Turton, A. R., & Meissner, R. (٢٠٠٢). Hydropolitics in the developing world: a southern African perspective. African Studies Review, ٤٥(٠٣), ٥٣-٨٤.

معاون سرمحقق عبدالوهاب همدرد

# نقش سیاحت و جاذبه های طبیعی- توریستیکی
# در انکشاف اقتصادی افغانستان

# The role of tourism and natural-tourist attractions in Afghanistan's economic development

***Research Fellow Abdul Wahab Hamdadr***

**Abstract:**
In today's world, tourism plays a very important and valuable role in the economic growth and development of countries. In today's world, tourism as a source of income and a job-creating industry has a special importance and position in the world. In Afghanistan, there are different ancient, cultural, social, natural attractions, and some amazing areas and unique architectures, religious places, important ancient areas, cities, ancient and historical villages for tourism, each of them It forces a person to spend many days traveling and getting to know the unique customs and traditions of the region. The direct and indirect income of the tourism industry in cities and all parts of the country creates employment and work for the local people; These revenues are obtained from accommodation, food, transportation, buying gifts and souvenirs and other needed services. Therefore, it can be said

that tourism in developing countries like Afghanistan has a very effective role in reducing poverty, increasing income, reducing unemployment, improving the quality of life and social welfare. Therefore, in this article, the natural and touristic areas, historical areas and religious places that cause the development of the tourism industry have been exposed and specific suggestions have been made in the field of tourism development and its effects on the economic development of Afghanistan.

**خلاصه**

در جهان امروزی، سیاحت (توریسم) نقش بس مهم و ارزشمندی در رشد و توسعه اقتصادی کشورها دارد. در دنیای امروزی، گردشگری به عنوان منبعی درآمدزا و صنعت شغل آفرین، از اهمیت و جایگاه ویژۀ در سطح جهان برخوردار میباشد.

در افغانستان جاذبه های مختلف و متفاوت باستانی، فرهنگی، اجتماعی، طبیعی، و برخی ساحات شگفت انگیز و معماری های منحصر به فرد، اماکن مذهبی، ساحات مهم باستانی، شهر ها، دهکده های کهن و تاریخی برای سیاحت وجود دارد که هریک از آنها انسان را وا میدارد روزها زیادی را در سفر، سیر و سیاحت بگذراند و با رسم و عنعنات منحصر به فرد منطقه آشنا شود.

درآمد مستقیم و غیر مستقیم صنعت گردشگری در شهرها و تمام نقاط کشور باعث ایجاد اشتغال و کار برای مردم محل می شود؛ این درآمد ها از محل بود و باش، غذا، حمل و نقل، خرید تحفه و سوغاتی ها و دیگر خدمات مورد نیاز بدست می آید.

لذا میتوان گفت که سیاحت در کشور های درحال توسعه مانند افغانستان نقش بسیار مؤثری در کاهش فقر، افزایش درآمد، کاهش بیکاری، بهبود کیفیت زندگی و رفاه اجتماعی دارد. بناءً در این مقاله بعضی از ساحات طبیعی و سیاحتی، مناطق تاریخی و اماکن مذهبی که باعث توسعۀ صنعت توریسم میگردد، برملا ساخته شده

و پیشنهادهای مشخص در زمینه توسعهٔ توریسم و اثرات آن بالای انکشاف اقتصادی افغانستان ارایه گردیده است.

**مقدمه**

افغانستان با داشتن ٦٥٢٢٢٥ کیلومترمربع مساحت، چهل و یکمین کشور در جهان و یازدهمین کشور در آسیا می باشد. نظر به موقعیت و مساحت خویش میتواند در بخش صنعت توریسم و سیاحت و افزایش اشتغال و عاید ناخالص داخلی نقش به سزایی داشته باشد.

امروزه یکی از قوی ترین نگاه در سطح جامعه ملل برای توسعهٔ توریسم، بُعد اقتصادی آن می باشد. به اساس یک سروی جهانی توسط WTO [(۱)] یا سازمان جهانی توریسم پیشبینی می شود که تعداد سیاحان در سالهای آینده زیادتر از یک میلیارد نفر خواهد رسید و از این سکتور در حدود بیشتر از ۱۵۵۰ میلیارد دالر عاید کشور های مختلف خواهد شد از سوی دیگر روند اشتغالزایی در این بخش بیشتر از ۲,۱۱ برابر سریعتر از سایر بخش ها عنوان شده است. افغانستان بنابر موقعیت جغرافیای خاص طبیعی، تنوع اقلیمی و اماکن زیبا و دیدنی طبیعی می توانند نقش بارزی در جلب سیاحان و رونق اقتصادی کشور منجمله بهبود وضع صنایع دستی داشته باشد.

۱- World Tourism Organization .

**اهمیت تحقیق**

معرفی جاذبه های ویژهٔ توریستیکی افغانستان یکی از نیازمندیهای اساسی جلب و جذب سیاحین در کشور می باشد.

**مبرمیت تحقیق**

افغانستان در گذشته یکی از مکان های مناسب برای سیاحان و جهانگردان در سطح منطقه قرار داشت که سالانه به هزاران سیاح خارجی از این کشور دیدن می نمود؛ با توجه به این موضوع معرفی دوباره و تشویق جهانگردان خارجی مبرمیت موضوع را برملا می سازد.

**هدف تحقیق**

بررسی نقش سیاحت و جاذبه های طبیعی - توریستیکی در انکشاف افغانستان به منظور تشویق و ترغیب سیاحان برای سیاحت در کشور هدف این تحقیق می باشد.

**سوال تحقیق**

سیاحت و جاذبه های طبیعی – توریستیکی چه نقشی در انکشاف اقتصادی افغانستان دارد؟

**روش تحقیق**

تحقیق هذا به اساس روش های توصیفی - تحلیلی صورت گرفته و معلومات مورد نیاز را کُتب، راپورها و سایت های انترنتی و تحلیل آماری تشکیل داده است.

**ساختار تحقیق:** در این تحقیق نخست افغانستان کشور عزیز ما به معرفی گرفته شده سپس مروری به گذشته گردشگری وضاحت داده شده است و در ضمن مناطق که از لحاظ سیاحت قابل توجه میباشد مطالعه گردیده و در اخیر این مقاله بعضی از ساحات طبیعی و سیاحتی، مناطق تاریخی و اماکن مذهبی که باعث توسعهٔ صنعت توریسم میگردد، برملا ساخته شده و پیشنهادهای مشخص در زمینه توسعهٔ توریسم و اثرات آن بالای انکشاف اقتصادی افغانستان ارایه گردیده است.

**۱- نگاه بر موقعیت جغرافیایی افغانستان:** افغانستان در نیم کرهٔ شمالی و شرقی درست در نقطهٔ قرار دارد که اکثری مناطق خشک و صحرا های جهان در آن موقعیت دارد، ولی خوشبختانه که این کشور با داشتن کوه های خود از زمره ساحات بیابانی برآمده و بستر مناسب را برای حیات مهیا ساخته است در حقیقت کوه ها برای افغانستان تحفه است که از اثر آن در این سرزمین اقلیم متنوع و دریاهای متعدد بوجود آمده است.

افغانستان همانطوریکه با داشتن موقعیت خاص جغرافیایی خویش یکی از جذاب ترین و مقبولترین طبیعت را برای سیاحت و گردشگری دارد. با

داشتن کوه های سر به فلک، دره های سرسبز و شاداب، دریا های خروشان و جلگه های سبز و دامنه های پر طلاطم، جذاب و زیبا برای جذب سیاحان داخلی و خارجی خیلی مساعد است. از همه بیشتر افغانستان مناطق کوهستانی مناسبی برای گردشگران فرهنگی (کوه نوردان) داخلی و به خصوص خارجی ها دارد.

**۲- جاذبه های طبیعی افغانستان:** تنوع اقلیمی نیز در کشور ما به اندازه تنوع مردمی که ساکن در آن هستند از اهمیت ویژۀ برخوردار میباشد. که هریک از مناطق کشور ما، دارای طبیعت زیبا و جاذبه های توریستیکی خاص خود می باشند. همچنان مناطق مانند دشت لیلی، دشت ناور، دشت ارچی، دشت شادیان و جلگه های قیصار، جلگۀ فاریاب، جلگۀ هرات، جلگۀ هلمند و نیز جنگلات سرسبز مانند جنگلات جلغوزه در پکتیا، پکتیکا و خوست، جنگلات پهن برگ و سوزنی برگ نورستان، لغمان، کنر، ننگرهار و جنگلات پسته در بادغیس، بغلان، بدخشان سمنگان از جمله ساحات معین و خوب سیاحتی در کشور به شمار میرود.

مغاره های تاریخی بزرگ و عجیب مانند؛ غار قره کمر در سمنگان، تگاب غار و غار چهلستون در بامیان، شمشیر غار در قندهار این همه از جاذبه های سیاحتی کشور می باشد.

همچنان باغ های مهم و دیدنی در نقاط مختلف کشور از جمله ساحات مهم و پردرآمد بوده مانند باغ بابر، باغ وحش، باغ علم گنج، باغ شهرآرا، باغ جهان آرا، چهار باغ، و غیره در کابل و باغ سرده و باغ کوکران در قندهار و باغ شاهی در جلال آباد و....

به همین ترتیب جاه های دیدنی و باستانی کشور مانند تخت رستم ، شهر غُلغُله، شهر ضحاک، شهر سرخشک در بامیان، شهر آی خانم در تخاز، هده و تپۀ چغان در جلال آباد، تپۀ مندیگک و چهل زینه در قندهار، منارجام در غور، چهار منار در هرات، قلعۀ بست در هلمند، و سایر بالاحصار های که در

ولایت مختلف قرار دارد و اماکن مقدس و زیارتگاه ها و غیره جاهای دیدنی برای پذیرش سیاحان مهیا می باشند. بناءً اگر صنعت توریسم در کشور رونق یابد بدون شک از بُعد اقتصادی، تأثیرات مثبت و مؤثر خود را بالای انکشاف کشور دارد ( ۲: ص. ۲۵۰)

به طور خلاصه میتوان گفت که دیدنی های زیبا و جالب و جاذبه های طبیعی افغانستان آنقدر زیاد است که نمیتوان آنرا در یک مقاله جا داد ولی با آن هم کوشش می نمایم تا در مورد اهمیت اقتصادی آن نکات مهم را ابراز بدارم.




**شکل ۱: ساحات طبیعی و اماکن باستانی و دیدنی بر روی نقشهٔ افغانستان (٦).**

**عوامل توسعۀ توریسم (سیاحت) در انکشاف کشور:** یکی از عوامل که در بخش برنامه های توریستیکی در یک کشور ایجاد می شود همانا رقابت های سخت در ساختمان سازی و ایجاد شهرک های مناسب و اماکن زیبای تفریحی طبق معیارهای جهانی و نوساخت های که جلب توجه برای سیاحان و کسانیکه از آن دیدن می نمایند می باشد. بنابرآن دولت اسلامی افغانستان نیز برای جلب سیاحان خارجی و داخلی کوشش نماید که جاهای دیدنی و پربیننده را احیا نموده تا باشد این عامل درآمد سرانه و عواید کشور را افزایش دهد.

بگونۀ مثال: در افغانستان جاهای دیدنی برای سیاحت وجود دارد اما در ساحات دور دست کشور موقعیت دارند که راه های مناسب جهت رفت و آمد های آنان وجود ندارد، لذا ایجاب می نماید تا در احداث راه های جدید و مرمت و بازسازی راه های سابقه عطف توجه بیشتر صورت گیرد.

توسعۀ توریزم باعث ارتقای سطح فرهنگ و بینش اجتماعی مردم گردیده و نیز باعث ایجاد موسسات و دفاتر توریستیکی در کشور می شود و در پهلوی آن موسسات خصوصی و دولتی در بخش اطلاع رسانی زیاد گردیده و همچنان در بخش تکنالوژی زمینه های مناسب جهت پیشرفت آن بوجود می آید، (۲: صص. ۲۳٦ - ۲۳۷).

**۴- ابعاد اقتصادی و اجتماعی صنعت توریسم در کشور:** جاذبه های گوناگون طبیعی، فرهنگی و تاریخی که در رشد و انکشاف کشورما از بُعد اقتصادی حایز اهمیت می باشد. اگر دولت افغانستان این بخش را به شکل درست مدیریت نماید بدون شک در توسعۀ پایدار اقتصادی و اجتماعی در آینده ها کمک می نماید. طوریکه میدانیم همیشه افغانستان متکی به کمک های جامعه جهانی بوده. و فعالیت اقتصادی به شکل پایدار در افغانستان وجود نداشت و بنابر دلایل توجه حکومت نیز در این بخش کم بود. ولی فعلاً حکومت افغانستان با هوشیاری و زیرکی کامل میتواند در این بخش سرمایه

گذاری نموده و صنعت توریسم را توسعه بخشد. این امر میتواند در بخش عواید داخلی کشور کمک نموده و تا حدی در اقتصاد کشور تغییر مثبت ایجاد نماید. با درک این مطلب یکی از این راه ها، توسعۀ صنعت توریسم و سیاحت در کشور است و آن هم بهره برداری از ساحات طبیعی، تاریخی، زیارتی، فرهنگی، حیات وحش و جذب بازدید کننده گان توسط تبلیغات رسانه یی می باشد. علاوه بر این توریسم، بخشی از فعالیت های اقتصادی است که کمتر تحت تأثیر مسایل تجارتی قرار دارد. به کمک توریسم در فعالیت های اقتصادی تنوع ایجاد می شود. پیامد های مهم و مثبت صنعت توریسم در افغانستان به طور عموم قرار ذیل می باشد:

الف - ورود سیاحان در کشور باعث افزایش صادرات می شود؛

ب - ورود توریست ها سبب شناخت بیشتر و درک بهتر از امکانات کشور برای خارجیان می شود که علاقه مند سرمایه گذاری اند؛

ج - رفت و آمد ها توسط راه های زمینی و هوایی در رشد سکتور ترانسپورت کمک می نماید؛

د - مبادلات و همکاری های منطقه یی و بین المللی، گسترش و افزایش می نماید. زمانیکه سیاحین خارجی از یک منطقۀ جدید دیدن می نمایند آشنای با صنایع، تجارت، فرهنگ و سایر موارد حاصل نموده و کوشش می نمایند که در همان منطقه سرمایه گذاری نموده و سود ببرند که این کار به نفع هر دو جانب می باشد؛

هـ - از تجهیزات که بخاطر جلب سیاحین و سهولت های آنها بکار گرفته میشود بهره برداری بهینه صورت میگیرد؛

و - میزان اشتغال زایی از درک توریسم در مقایسه با صنعت و زراعت رقم بالا و قابل ملاحظۀ دارد.

**۵- نگاه به پیشینه بازارهای سیاحتی در توسعۀ اقتصادی افغانستان:** افغانستان با داشتن منابع طبیعی، طبیعت زیبا و اماکن و آثار تاریخی خویش با برنامه

ریزی مناسب و مدیریت درست بیشترین سود و نفع را از طریق سیاحت میتواند ببرد. صعنت توریسم ابعاد مختلف در جهت توسعه و انکشاف افغانستان دارد. استفاده خوب از آن در ثبات اقتصادی، اجتماعی، توسعه و گسترش سیستم حمل و نقل، ساخت و ساز هوتل ها، موزیم ها، مراکز تفریحی و سیاحتی، بهبود وضع زنده گی مردم میتواند داشته باشد.

مهمترین بازار های سیاحتی را در افغانستان بازار های داخلی و منطقه یی و فرامنطقه یی تشکیل میدهد. از نظر مساحت افغانستان از تمام کشور های اروپای بزرگتر است که زمینه را برای صنعت توریسم فراهم ساخته و حتی ساکنین خود کشور ما میتواند که از یک ولایت به ولایت دیگر به منظور سیاحت سفر نمایند. بگونه مثال در سال ۱٤۰۱هـ.ش در حدود ۵۰۰۰۰ هزار نفر و در سال ۱٤۰۲هـ.ش بیشتر از ۱۵۰۰۰۰ هزار نفر از سراسر کشور از ولایت پنجشیر دیدن نموده است که این مثال در ولایت نورستان و بامیان نیز صدق می نماید. با وصف این همه داشته های طبیعی و سیاحتی، مردم کشور از لحاظ وضعیت اقتصادی به یک چالش مواجه هستند که کمتر این مواقع مساعد است ولی از لحاظ بازارهای منطقه یی افغانستان در شمال و جنوب با کشورهای هم سرحد است که با داشتن تشابهات فرهنگی، تاریخی، قومی و زبانی، زمینه های خوب سیاحتی را فراهم نموده است.

در سال ۱۳۵۳ هـ.ش از مجموع ۹٦۱۹۵ نفری که به عنوان جهانگرد وارد افغانستان شده اند در حدود ٤۰,۷ درصد آنان از قارهٔ آسیا بودند. در سالهای قبل بیشترین جهان گردان خارجی افغانستان را اروپائیان تشکیل میداد، آشنای آنان عموماً از طریق تمدن های یونان و رم انجام یافته بود. و اروپائیان همیشه افغانستان را به عنوان کشور مهمتر از یونان و روم در عظمت تاریخی اش میدانستند. بناءً از رقم که در بالا گفته شد در حدود ٤۱,۳ فیصد از سیاحان آن زمان افغانستان را اروپائیان تشکیل می داد و متباقی از کشور های امریکایی، افریقایی و کشور های اوقیانوسیه بودند.

**جدول۱: تعداد سیاحان خارجی و مقدار عواید دولت افغانستان طی سالهای ۱۳۵۲- ۱۳۵٤هـ.ش، (۳:صص.۲۰۹-۲۱۵).**

| اسم قاره | سال ها به هـ.ش | ترانسپورت هوایی | | ترانسپورت زمینی | | مجموع تعداد سیاحان | مقدار مجموع پول به دالر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | تعداد سیاحان | عواید به دالر | تعداد سیاحان | عواید به دالر | | |
| قارۀ آسیا، اروپا، امریکا، افریقا و اوقیانوسیه | ۱۳۵۲ | ۲۲۷۳۱ | ۲٦۵۹۵۲۷ | ٦۸۹۳۱ | ۸۰٦٤۹۲۷ | ۹۱٦٦۲ | ۱۰۷۲٤٤۵٤ |
| | ۱۳۵۳ | ۱۷۷۸٦ | ۲۲۵۱۳٦۸ | ۷۸۳۳۷ | ۹۸٦۹۲۰۲ | ۹٦۱۹۵ | ۱۲۱۲۰۵۷۰ |
| | ۱۳۵٤ | ۲۰۸٤۲ | ۲٦۲٦۰۹۲ | ۷۰۲۹۵ | ۸۸۵۷۱۷۰ | ۹۱۱۳۱ | ۱۱٤۸۳۲٦۲ |

بدون شک توسعۀ بخش توریسم و جهانگردی می تواند جایگزین اقتصاد وابسته به کمک های مالی و قرضه های خارجی شده و در توسعۀ ملی افغانستان نقش تعیین کننده را ایفا نماید. طوریکه در جدول محاسبه گردید میتوان چنین نتیجه گیری نمود که طی سال های ۱۳۵۲ – ۱۳۵٤ هـ.ش افغانستان از لحاظ درآمد در بخش توریسم عواید خوب را بدست آورده بود از رقم بیشتر از ۹۰۰ هزار نفری در حدود بیشتر از یک میلیون دالر سود برداشت گردیده بود یعنی بطور اوسط از فی نفر سیاح به مقدار ۱۰ دالر هزینۀ مصرف آن در داخل کشور سنجس گردید، بناءً نظر به شرایط فعلی و بلند رفتن مصارف مواد ضروری سیاحان مقدار متذکره چند برابر گردیده است بطور مثال اگر ما سالانه در حدود ۱۰۰۰۰۰۰ نفر سیاحان خارجی را میزبان شویم و مقدار پولیکه در این زمینه به مصرف خواهد رسید حد اقل آن

به ۵۰۰ دالر امریکایی باشد عاید حاصله از این مدرک به پنجصد میلیون دالر میرسد.

اگر این رقم نظر به شرایط فعلی و قیمت ها در افغانستان به حد اکثر آن محاسبه گردد هر یک از سیاح در حدود یک هزار دالر امریکای مصرف داشته باشد که مبلغ ذکر شده به یک میلیارد دالر افزایش می یابد.

**٦- سیر و سیاحت از نظر قرآن و احادیث:** قرآن کریم اولین کتاب است که اهمیت، سیر و سیاحت را یاد آور شده و مردم را هدایت داده تا در زمین بگردند و در آثار برجا مانده از گذشتگان خود بیاموزند و فکر و از سرگذشت آنها پند بگیرند. در مجموع ۱۳ آیت شریفه قرآن کریم دربارهٔ سیر و سیاحت و سفر بروی زمین سخن گفته شده است.

((**قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ ثُمَّ انظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ**))، (انعام/۱۱؛ بگو: در زمین سیر کنید، سپس بنگرید عاقبت کسانیکه آیات ما را دروغ می پنداشتند).

آیت دیگر، ((**قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ**))،(نمل/٦٩؛ بگو: (در زمین سیر و سیاحت کنید آن گاه ببینید که فرجام گناهکاران چگونه بوده است).

همچنان آیت دیگر ((**فَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَدَارُ الْآخِرَةِ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ اتَّقَوْا أَفَلَا تَعْقِلُونَ**))، (یوسف/ ۱۰۹؛ آیا آنان در زمین سیر نکردند، تا ببینند عاقبت و پایان کار گذشته گان را).

بناءً تاکیدات و سفارشات قرآن مجید از محمد (ص) احادیث بسیاری راجع به سیر و سیاحت روایت شده است.

از نظر قرآن و احادیث شریف معلوم گردیده که سیاحت فواید زیاد در تندرستی و سلامتی انسان ها دارد و از لحاظ رشد عقلی برای انسان ها خیلی مهم پنداشته می شود و از جهت دیگر آگاهی از زنده گی گذشتگان خویش حاصل نموده و از

قواعد که دین مبین اسلام همیشه در قسمت رفاه و آسایش انسان ها رهنمای کرده است پیروی می نماییم،(۳:ص.۲۹).

**۷- راه کار های مناسب جهت بهبود صنعت توریسم در افغانستان**

افغانستان استعدادهای بالقوۀ زیادی ( در ابعاد مختلف فرهنگی،اجتماعی، طبیعی و ... ) برای تبدیل شدن به یک مرکز جهان گردی و صنعت توریسم بین المللی دارد. ولی در شرایط کنونی نظر به عوامل مختلف سیاسی، اجتماعی، اقتصادی بهره برداری از این صنعت دشوار است و میتوان تنها با برنامه ریزی دقیق و هماهنگ با نظام جهان گردی، امکان بهره گیری از این صنعت وجود داشته باشد. **جهت بهبود توسعۀ صنعت توریسم میتوان بالای نکات ذیل تمرکز نمود:**

**الف- توسعۀ زیرساخت‌ها:** سرمایه گذاری در زیرساخت های گردشگری مانند هوتل ها، مراکز تفریحی، و شبکه حمل و نقل احداث شاهراه و راه های مواصلاتی، مرمت ساحات باستانی و تاریخی، ایجاد مراکز امنیتی برای حفظ سیاحان، می تواند به جذب گردشگران و بهبود صنعت توریسم در افغانستان کمک کند.

**ب- فرهنگ سازی و تبلیغات:** برنامه های تبلیغاتی و رسانه ای می تواند به تصحیح تصویر ذهنی جهانیان نسبت به افغانستان و ارائه تصویری درست و جذاب از طبیعت دست ناخورده فرهنگ و تاریخ، اماکن مذهبی، منابع طبیعی این کشور کمک کند. با این حال، باید توجه داشت که این راه حل‌ها نیاز به زمان، تلاش همه جانبه، و پشتیبانی جدی دولت و سازمان های بین المللی دارند.

**ج- ایجاد مراکز سیاحتی در توسعۀ شهرها:** منابع طبیعی، ورزشی، ایجاد پارك هاي زیبا و زمینه سازی برای سرمایه گذاری در زمینه توسعه صنعت سیاحت یا توریسم، باعث توسعه و رشد توریسم شهری می گردد.

**د- ایجاد ساحات مصنوعی جهت رشد سیاحت:** با ایجاد جاذبه ها و زیبایی های مصنوعی، می توان به موفقیت های بزرگی در رشد و انکشاف صنعت توریسم دست یافت و سالانه میلیون ها دالر از همین طریق به دست می آورد. چنانچه شهر دبی در امارات متحده عربی و خیلی شهرهای دیگر دنیا به این موفقیت دست یافته اند. در چنین شهرهایی، دایر نمودن فستیوال ها و همایش هاي مختلف و متعدد بین المللی در راستایی ایجاد تعامل و ایجاد انگیزه در گردشگران از طریق ارتباط بین وضعیت گذشته و حال، نقش مهمی را در جذب گردشگران بیشتر بازی می کند،(٤:ص.٢٣٤).

**٨- افغانستان در مسیر اتصال شرق و غرب**

افغانستان از لحاظ موقعیت جغرافیایی خویش از اهمیت زیادی برخوردار است. این موقعیت جغرافیای کشور را به حیث پل ارتباطی میان کشورهای آسیای مرکزی و جنوب آسیا قرار داده است. از بُعد دیگر افغانستان نقطه تقاطع آسیای میانه، غرب و جنوب آسیا می باشد. همچنان افغانستان با قرار گرفتن در یک موقعیت جغرافیایی خاص می تواند، از فرصت اقتصادی زیادی در زمینهٔ تجارت و ترانزیت و صنعت توریسم برخوردار شده و از آن برای توسعه، بازسازی و نوسازی کشور استفاده کند. گرچی در چند سال گذشته تلاش‌هایی برای بهره مندی از این موقعیت و فرصت‌ها صورت گرفته است، اما نتایج ملموسی را در پی نداشته است. با آن هم میتوان گفت که افغانستان با مناسبات خوب اقتصادی و صنعت توریسم و با فرهنگ های مشابه و اسلامی با کشورهای که در شمال آن قرار دارند و سرشار از منابع انرژی، گاز، برق، نفت و دیگر مواد خام آسیای مرکزی اند مانند: ترکمنستان، تاجیکستان، ازبکستان، قزاقستان و قرقیزستان می باشد و در جنوب و شرق آن دو کشور پاکستان و هند که سخت نیازمند انرژی و مواد خام است، قرار گرفته اند. این موقعیت، برای افغانستان در بخش توریسم تجارتی جایگاهی خاص را بخشیده است.

همچنان کشور های اروپایی نیز از مسیر هیپی، یا همان راه هیپی، که از غرب اروپا آغاز می شد و از طریق ایران به افغانستان می رسید و سپس تا هند و تایلند ادامه داشت جهت سیاحت و گردشگری می آمدن هیپی ها گروهی از جوانان غربی بودند که رفتارها و عقاید خاصی داشتند و در دهه ۱۹۶۰ و ۱۹۷۰ میلادی سفرهای متعددی به افغانستان داشتند. محبوب ترین مقاصد هیپی‌ها در افغانستان، کابل، هرات، بامیان و مزارشریف بودند. این مسیر پس از ۱۳۵۷ هـ.ش در افغانستان از بین رفت، (۵).




**شکل ۲: نقشهٔ شیماتیکی مسیر هیپی از اروپا تا افغانستان و الی جنوب و شرق آسیا،(۵).**

**۹- چالش ها فرا راه سیاحت در کشور:** افغانستان از لحاظ اقتصادی یک کشور نسبتاً فقیر می باشد در سطح منطقه این کشور با داشتن موقعیت مناسب ایکوتوریسم در سطح آسیا شرایط خوب را برای جهانگردی دارد. ولی نظر به شرایط بد اقتصادی و راه های صعب العبور و نداشتن راه های مواصلاتی مناسب این فرصت را به بنبست مواجه ساخته است.

توسعهٔ صنعت ایکوتوریسم در کشورما قبل از هر چیز به بازسازی فرهنگی نیاز دارد رعایت ملاحظات محیط زیستی به منظور بهره برداری پایدار از طبیعت و آموزش برای گردشگران در مناطق حفاظت شده و پارک های ملی کشور بسیار ضروری می باشد. با مدیریت جامع در زمینه ایکوتوریسم علاوه بر حفظ جنگلات، مراتع دررابطه با شناسای زیبایی های این سرزمین به جهانیان و ایجاد درآمد ملی و سود آوری مناسب و در تقویه اقتصاد کشور گام های عملی و علمی را میتوان برداشت،(۱:ص.۲۳٤).

همچنان صعف تبلیغات کار آمد در بخش صنعت سیاحت در رسانه های خصوصی و دولتی و نیزعدم تمایل بخش خصوصي به سرمایه‌گذاری در بخش توریسم توسط تاجران یکی از چالش ها فراراه این صنعت میباشد. نبود کارمندان مسلکی و تخصصی در کشور بخاطر رهنمایی سیاحان و گردشگران خارجی یکی از معضله های دیگر در بخش صنعت توریسم میباشد.

**نتیجه گیری**

افغانستان یکی از ساحات مهم و دست ناخوردهٔ جهان جهت جلب توریسم و سیاحت میباشد همچنان ساحات طبیعی، بناهای تاریخی و آبدات باستانی و موزیم ها در سطح گسترده ای در افغانستان وجود دارد، این کشور هنوز هم بدلیل داشتن جاذبه های فراوان تاریخی و طبیعی، یکی از مناطق جذاب و متفاوت برای سیاحین بشمار می رود، هرچند ممکن است از نظر جذب توریست، در ردهٔ آخر قرار داشته باشد. ولی با آنهم در افغانستان با توجه به وجود جاذبه های متعدد و منحصر به فرد برای صنعت توریسم مانند آثار باستانی با قدامت چندین هزار ساله، امکان توسعهٔ سیاحت وجود دارد؛ جاذبه هایی طبیعی و توریستیکی، می توانند افغانستان را به مرکزی جذاب برای سیاحین در سطح منطقه و جهان تبدیل کنند.

افغانستان میتواند که جهت جذب سرمایه گزاری در بخش توسعهٔ توریسم، خویش را چه در سطح ملی و منطقه یی و چه در سطح بین المللی مورد توجه

دولتهای جهان و شرکتهای خصوصی قرار دهد. بسیاری از کشورها به صورت فزاینده ای به این حقیقت پی برده اند که برای بهبود وضعیت اقتصادی خود باید ابتکار عمل به خرج داده و در صدد یافتن راه های تازه ای برآیند. در حالی که صنعت گردشگری به صورت زنجیر وار با بعضی از فعالیتهای اقتصادی، وابستگی دو جانبه دارد و رونق آن، از لحاظ افزایش درآمدها در اقتصاد کشور میزبان تأثیر به سزایی دارد. همچنان صنعت گردشگری در افغانستان، میتواند نقش اساسی و مهم استراتیژیکی با به فعالیت رساندن آرمانها، فرهنگها و باورها و توانمندیهای بالقوه گوناگون ایفا می نماید. بناءً عرصه های مختلف و توانمندیهای بالقوه که در گردشگری تبلور می یابد می تواند افغانستان را در برابر مشکلات اقتصادی کمک نموده بناءً توریسم وسیلهٔ کارآمد و بدیل برای حل مشکلات اقتصادی و اشتغالزایی در افغانستان خواهد بود.

در شهرها و ولایات مختلف افغانستان علیرغم وجود جاذبه های متعدد تاریخی و طبیعی، تاکنون هیچ اقدامی جهت جذب توریست و برنامه ریزی صنعت گردشگری که سبب جلب رضایت گردشگران شود و نیازهای آنان را رفع کند، انجام نشده است.

با در نظرداشت نتایج حاصله از این مقاله پیشنهادهای مشخص جهت بهبود سیر سیاحت قرار ذیل میباشد:

**پیشنهادها**

۱- داشتن یک پلان استراتژیک و برنامهٔ راهبردی و جامع در بخش صنعت سیاحت و توریسم در اولویت کار ادارات مرتبط و دولت باید باشد.

۲- ارتقای ظرفیت‌های کادری و تخصصی از لحاظ کمی و کیفی در بخش صنعت توریسم مهم و ضروری می باشد.

۳- توسعه و تقویت برنامه‌های تبلیغاتی جهت معرفی جاذبه‌های طبیعی و سیاحتی و اماکن تاریخی افغانستان.

٤- جهت توسعهٔ صنعت توریسم باید مناطق کوهستانی دارای طبیعت زیبا مانند کابل، نورستان، فیض آباد و امثال آن که نسبتاً کوهستانی میباشد ساخت کیبل های سیاحتی که بتواند، سیاحت کننده گان را از یک کوه به کوه دیگر انتقال دهد، نصب گردد از یک سو برای سیاحین جلب توجه نموده و از طرف دیگر در زیبای شهر ها می افزاید.

۵- در مسیر های که اماکن تاریخی و باستانی وجود دارد، راه های مواصلاتی آن اسفالت گردیده و در نقاط معین در مسیر راه های مسافرتی مهمانخانه های مجهز جهت استراحت گاهی سیاحین مهیا گردد.

٦- ساختن هوتل ها در نزدیکی مناطق سیاحتی و اماکن تاریخی و باستانی یکی از نیازمندیهای اساسی جلب سیاحین بوده و میتواند سود زیاد به دولت و مردم محل بدست آید.

۷-لازم است تا با رشد و توسعهٔ گردشگری توسط نهادهای فرهنگی، شاروالی ها، نهادهای فعال در زمینهٔ گردشگری، تزئین شهر با نمادهای فرهنگی و نیز ایجاد محیط و فضایی شاد و تفریحی، اذهان عامه را بسوی استقبال از توریست ها رهنمون شد.

۸- ساحات تفریحی، منابع طبیعی، ورزشی، ایجاد پارك های زیبا و زمینه سازی برای سرمایه گذاری در زمینهٔ توسعهٔ صنعت سیاحت یا توریسم، باعث توسعه و رشد توریسم شهری می گردد.

**مآخذ**


۱- الوانی، مهدی. پیروز بخت، معصومی. فرآیند مدیریت توریسم، مجموعه مقالات،تهران، انتشارات: مرکز مطالعات فرهنگی، سال چاپ ۱۳۷۵ هـ.ش.

۲- عظیمی، محمد عظیم. بنیاد های جغرافیایی اقتصاد افغانستان، انتشارات: خراسان، سال چاپ ۱۳۹۰ هـ.ش.

۳- عظیمی، محمد عظیم. جغرافیای توریستی افغانستان اصول و مبانی، انتشارات: علم و دانش خراسان، سال چاپ۱۳۹۱هـ.ش.

٤- منشی زاده، رحمت الله. جهانگردی، انتشارات: مسعی، چاپ اول، سال چاپ ۱۳۷٦هـ.ش.

٥- tahlilroz صنعت گردشگری در افغانستان؛ ظرفیت جهانی و محرومیت تکراری!,

۲٥ ۱٤۰۲ سرطان, Available at: https://tahlilroz.com, (Accessed: ٤/٥/۲۰۲٤).

٦- GIS program.

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Abdul Baqi Shahab

**AS. Editor:** Abdul Baqi Shahab

**Editorial board:**

Senior research fellow Shir Ali Tazri

Senior research fellow Abdul Jabbar Abid

Researcher Fellow Muhammad Dawood Nazim

Associate professor Gholam Nabi Hanafi

Assistant professor Shirhasan Kamalzai

**Composed & Designed By:**

Abdul Baqi Shahab

**Annual Subscription:**

Price of each issue in Kabul: ۳۲۰ AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: ۷۰ AF.
- For the disciples and students of schools: ٤۰ AF.
- For other Departments and Offices: ۸۰ AF.